لوړو زده کړو وزارت

ننگرهار پوهنتون

شرعیاتو پوهنځی

اسلامي ثقافت څانگه


# د اسلام اقتصادي نظام


## د عصري پوهنځیو د اووم سمستر لپاره درسي کتاب



Download from:aghalibrary.com

مؤلف: پوهنوال محمدشریف رحماني





**چاپ چارې**

**سلام خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه - جلال آباد**

0787714956 - 0790206261

Email:salampublishers@yahoo.com

# کتاب پیژندنه

دکتاب نوم : داسلام اقتصادي نظام
لیکوال : پوهنوال محمد شریف رحماني
کمپوز : محب الرحمان رحماني
چاپ کال : ۱۳۹۹
دچاپ وار : اول
دچاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه
چاپ چارې : سلام خپرندویه ټولنه
نرخ :

## ترلاسه کولو ځایونه

جلال اباد : اصلاح افکار کتاب پلورنځی ، اسحق زی مارکیټ، لاندې پوړ ، لومړی دوکان
اړیکشمېره : ۰۷۹۰۲۰۶۲۶۱
خوست : سباوون کتابخانه ، لېوال کتابخانه ، لمر کتاب پلورنځی
لغمان : الفت قرطاسیه او کتاب پلورنځی ، یونس کتاب پلورنځی
کندهار : کروړ کتاب او قرطاسیه پلورنځی ، افغان کتاب پورنځی
پکتیا : علمي کتاب پلورنځی

دکتاب حقوق د لیکوال سرهٔ خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحیم

# لړلیک

سرلیک | مخ

## لومړی څپرکی


داسلامي اقتصادمفهوم ---------------------------------------- ۱
۱-۱-داقتصادلغوي معنی ---------------------------------------- ۳
۲-۱-داسلامي اقتصادپېژندنه ---------------------------------------- ۴
۱-۳-نوی کلاسیک تعریف ---------------------------------------- ۴
۴-۱- داسلامي اقتصادرامنځته کېدل ---------------------------------------- ۴
۱-۵- داسلامي اقتصاددخېړنو پرمختګ ---------------------------------------- ۴
۱-٦-داقتصاددعلم اوداقتصادي نظام ترمنځ فرق ---------------------------------------- ۵
۷-۱- په لویدیځ کې داقتصاددعلم منځته راتګ ---------------------------------------- ٦
۱-۸-داقتصاد دعلم موضوع ---------------------------------------- ٦
۱-۹-داسلامي اقتصاد اهمیت ---------------------------------------- ٦
۱-۱۰-داقتصاددعلم ګټې ---------------------------------------- ۷


## دویم څپرکی


داسلامي اقتصاداصول، ارکان اوسرچینې ---------------------------------------- ۸
۱-۱- اعتقادي بنسټونه ---------------------------------------- ۸
۱-۲- داسلامي اقتصادارکان اواصول ---------------------------------------- ۸
۲-۴-۱-داسلامي اقتصادسرچینې ---------------------------------------- ۱۷
۲-۴- ۲- داسلامي اقتصادڅخه دغفلت اسباب ---------------------------------------- ۱۸


## دریم څپرکی


داسلام داقتصادي نظام خصوصیات ---------------------------------------- ۲۰
۳-۲-له اقتصادسره دعبادت اړیکې ---------------------------------------- ۲۳
-۲- ۳-دعبادت مفهوم ---------------------------------------- ۲۳

۳-۲- ۴-ددین راهبانه تصور ---------------------------------------------------- ۲۴
۳-۲- ۵-ددین اوعبادت اسلامي تصور ------------------------------------------------ ۲۴
۳-۲- ٦- دمسلمانانو دذلت اوخوارۍ لامل ------------------------------------------ ۲۴
۳-۳-راشد خلیفه گان اواقتصادي چارو ته اهتمام ------------------------------------- ۲۴
۳-۴-داوسني مسلمان مسؤلیت ----------------------------------------------------- ۲۵

## څلورم څپرکی

له نورونظامونوسرهداسلام داقتصادي نظام موازنه ------------------------------------ ۲٦
۴-۱-۱-داروپا فیوډالي نظام ( Fuddle system)----------------------------------------- ۲٦
۴-۱-۲- داشرافو طبقه ------------------------------------------------------------- ۲٦
۴-۱-۳-دغلامۍ اسباب----------------------------------------------------------------- ۲٦
۴-۱-۴-لاملونه او اسباب يې ------------------------------------------------------- ۲۷
۴-۱-۵-غلامي دځه په خاطر؟ ------------------------------------------------------- ۲۷
۴-۱-٦-له دوۍ سره دسخت چلند بېلګې ---------------------------------------------- ۲۷
۴-۱-۷-دغلامۍ مراسم----------------------------------------------------------------- ۲۷
۱-۴- ۸- مسؤلیتونه يې ------------------------------------------------------------- ۲۸
۱-۴- ۹- دکلیسا دیني شخصیتونه ---------------------------------------------------- ۲۸
۴-۱۰-۱- دغلامۍ دنظام دزوال اسباب--------------------------------------------------- ۲۸
۴-۱-۱۱-طبقاتي نظام داسلام په تله----------------------------------------------------- ۲۸
۴-۱-۱۲-دغلامۍ پرووړاندې داسلام دریز ---------------------------------------------- ۲۹
۴-۲- سرمایه داري نظام (Capitalism) ----------------------------------------------- ۲۹
۴-۲-۱- فکري بنسټونه يې------------------------------------------------------------ ۲۹
۴-۲-۲-درامنځتهکېدو ظروف يې ------------------------------------------------------ ۲۹
۴-۲-۳- وتلې څېرې يې ------------------------------------------------------------- ۳۰
۴-۲-۴- اقتصادي بنسټونه يې ---------------------------------------------------------- ۳۰
۴-۲-۵-عملي پايلې يې --------------------------------------------------------------- ۳۰
۴-۲-٦-مزایااوښېګنې يې ------------------------------------------------------------- ۳۱

۴-۲-۷-نیمگړتیاوې او عیبونه یې ---------- ۳۱
۴-۲-۸-په پانگوالۍ داسلام دلوړتیاوجوهات ---------- ۳۲
۴-۳-۱- کمونیزم( Communism) ---------- ۳۳
۴-۳-۲- تاریخي شالیدیې ---------- ۳۴
۴-۳-۴-دکمونیزم عملي پړاؤ ---------- ۳۴
۴-۳-۴- وتلې څېرې یې ---------- ۳۵
۴-۳-۵-دکمونیزم افکاراومعتقدات ---------- ۳۵
۴-۳-٦- دکمونستي نظام اقتصاد ي بنسټونه ---------- ۳٦
۴-۳-۷- دسوسیالیزم اوکمونیزم ترمنځ فرق ---------- ۳٦
۴-۳-۸- اهداف او مقاصد ---------- ۳۷
۴-۳-۹-سیاسي تگلاره ---------- ۳۸
۴-۳-۱۰-دکمونېزممزایااوعیبونه ---------- ۳۹
۴-۳-۱۱-په کمونستي نظام داسلامي اقتصادامتیازات ---------- ۴۱
۴-۴- اقتصادي مختلط نظام ---------- ۴۲
۴-۵-داسلام اقتصادي نظام ---------- ۴۳

## پنځم څپرکی

په اسلام کې ملکیت اوډولونه یې ---------- ۴۷
۵-۱- دمال پېژندنه ---------- ۴۷
۵-۱-۱-دملکیت تعریف ---------- ۴۷
۵-۱-۲-دشتمنیوډولونه ---------- ۴۷
۵-۱-۳- فردي او شخصي شتمني ---------- ۴۸
۴-۱-۵-دفردي ملکیت اهداف ---------- ۴۸
۲-۵-دمال دڅښتن حقونه ---------- ۴۹
۵-۲-۱- داستعمال اوتصرف حق ---------- ۴۹
۵-۲-۲- دگټې په خاطردکاروبارحق ---------- ۴۹
۵-۲-۳-بل چاته دملکیت دانتقال حق ---------- ۵۰

۵-۲-۴- دمدیت دتحفظحق ---------------------------------------- ۵۰
۳-۵- دفردي ملکیت دحقونو پولې ---------------------------------------- ۵۱
۷-۳-۵-دملکیت دګتورکاروبارحدود ---------------------------------------- ۵۴
۴-۵- عام ( تبولنیز )ملکیت ---------------------------------------- ۵۵
۲-۴-۵- موخې یې ---------------------------------------- ۵۵

## شپږم څپرکی

داسلا مي دولت دبیت المالسرچینې ---------------------------------------- ۵۷
٦-۱-ملي شتمنی ---------------------------------------- ۵۷
٦-۲-کاني ذخیرې ---------------------------------------- ۵۷
٦-۳-زکات اوعشر ---------------------------------------- ۵۷
٦-۴-درکاز پنځمه ---------------------------------------- ۵۸
٦-۵- خراج ---------------------------------------- ۵۸
٦-٦- جزیه ---------------------------------------- ۵۹
٦-۷- فئ (تسلیمي )مال ---------------------------------------- ۵۹
٦-۸-غنیمت ---------------------------------------- ۵۹
٦-۹-دځمکی کرایه ---------------------------------------- ۵۹
٦-۱۰- کاروباري ګتې ---------------------------------------- ۵۹
٦-۱۱- عطایااوقاف ---------------------------------------- ۵۹
٦-۱۲- عشوریاوارداتي تکس ---------------------------------------- ٦۰
٦-۱۳-اموال فاضله ---------------------------------------- ٦۰
٦-۱۴- لقطه اوبې څښتنه مال ---------------------------------------- ٦۰
٦-۱۵-اضطراري تکس: ---------------------------------------- ٦۰
٦-۱٦-ګنې عایداتي سرچینې ---------------------------------------- ٦۰

## آووم څپرکی

دملکیت دلاسته راوړلوشرعي لاې چارې ---------------------------------------- ٦۱
۷-۱-په مباح شیانوقبضه ---------------------------------------- ٦۱
۷-۲-دمعاهدې په وسیله دملکیت انتقال ---------------------------------------- ٦۲

۷-۳-دمیراث په وسیله دملکیت انتقال ---------- ٦٢
۷-۴-دملکیت ثمرات ---------- ٦٣
۵-۷-دشاړو ځمکو ابادول ---------- ٦٣
٦-۷-کانونه ---------- ٦٣
۷-۷- ظاهري معادن ---------- ٦٣
۷-۸-باطني معادن ---------- ٦۴
۷-۲-د فردي ملکیت په تصرفاتوکې ددولت مداخله ---------- ٦۴
۳-۲-۷-دنرخونو،مزدوریواوکرایوټاکنه ---------- ٦۷
۴-۲-۷-په شتمنوټکس لګول ---------- ٦۷
۵-۲-۷-له شتمنوڅخه ددوی له اړتیادزیات مال غوښتنه ---------- ٦۷
٦-۲-۷-په پېرودلو،عاریت اوپوراخیستلوکې دزوراستعمال ---------- ٦۸
۷-۲-۷- دولتي انحصارات ---------- ٦۸
۸-۲-۷- دملکیت دتحدیدواک ---------- ٦۹
۹-۲-۹- ټولنیزاقتصادي پلانونه ---------- ٦۹

## اتم څپرکی

په عقدونواو معاملاتوکې داسلام ---------- ۷۱
اقتصادي سیاست ---------- ۷۱
۱-۸- عقدونه ---------- ۷۱
۸-۱-۱-دعقد لغوي پېژندنه ---------- ۷۱
۸-۱-۲- دعقد اصطلاحي معنا ---------- ۷۱
۲-۸-بیه ---------- ۷۱
۸-۲-٦-دبیې ارکان ---------- ۷۲
۸-۲-۸- دبیې ډولو نه ---------- ۷۳
۸-۲-۹-دقیمت دتحدید په اعتبار دبیې ډولونه ---------- ۷۳
۸-۲-۱۰-دبیې وېش دقیمت دسپارلو په اعتبار ---------- ۷۴
۸-۲-۱۱-دشرعي حکم په اعتبار دبیې ډولونه ---------- ۷۴

۸-۳-دخینوشرعي عقدونوموني ---------- ۷۴
۸-۳-۱-دسلم عقد ---------- ۷۴
۸-۴- داجارې ترون ---------- ۷۶

## نهم څپرکی

دملکیت دلاس ته راوړلوناروالارې چارې ---------- ۷۷
۱-۱-۹-دغدراوخیانت بیې ---------- ۷۷
۹-۲-۲-غش(خیانت) ---------- ۷۷
۹-۲-۳-د قدرت اونفوذاستعمال ---------- ۷۸
۹-۲-۴-غلا ---------- ۷۸
۹-۲-۵-غصب ---------- ۷۹
۹-۲-۶-دزناجوره اودکاهن شېریني ---------- ۸۰
۹-۲-۷- رشوت ---------- ۸۰
۹-۲-۸- احتکار ---------- ۸۱
۹-۲-۹-قمار ---------- ۸۲
۹-۲-۱۰-سود ---------- ۸۳

## لسم څپرکی

شرکتونه اودکاریگرو حقوق ---------- ۸۸
۱-۱۰-شرکتونه ---------- ۸۸
۲-۱۰- په اسلامي قانون کې دشرکت ډولونه ---------- ۸۹
۱۰-۳-دمضاربت ترون ---------- ۹۰
۱۰-۴-په اسلام کې دکاریگرو حقوق ---------- ۹۱

## یوولسم څپرکی

داسلام بانکي نظام ---------- ۹۴
۱۱-۱-دبانک معنااو مفهوم ---------- ۹۴
۱۱-۳-دبانک تاریخچه ---------- ۹۴
۱۱-۴-بانکي چارې داسلامي تمدن په سیوري کې ---------- ۹۵
۱۱-۵-بانکي چارې د وخت ارزښتناکه اړتیا ---------- ۹۵

۱۱-٦-دبانک ډولونه ---------------- ۹٦
۱۱-۷-بانکي نظام دپانګوالې اوسوسیالېزم په سیوري کې ---------------- ۹٦
۱۱-۱۰-داسلامي بانک پېژندنه ---------------- ۹۷
۱۱-۱۱-داسلامي بانکدارۍ اصول ---------------- ۹۸
۱۱-۱۲-داسلامي بانکونو دبري لارې چارې ---------------- ۹۸
۱۱-۱۳-داسلامي بانکونو دپرمختګ پروړاندې خنډونه ---------------- ۹۸
۱۱-۱۴-داسلامي بانک کاري خرنګوالی ---------------- ۹۹
۱۱-۱۵-داسلامي بانک خدمات ---------------- ۹۹
۱۱-۱٦-په ټولنیزه وده کې داسلامي بانکونو رول ---------------- ۱۰۰
۱۱-۱٦-۱-داسلامي بانکونو دبري شرطونه ---------------- ۱۰۱
۱۱-۱۷-۲-داسلامي بانکونودټولنیزمسؤلیت ډګرونه ---------------- ۱۰۱


## دولسم څپرکی


دبیمې ترونIncurance ---------------- ۱۰۳
۱۲-۱-۱پژندنه یې ---------------- ۱۰۳
۱۲-۱-۲-دبیمې پیدایښت او خپرېدا ---------------- ۱۰۳
۱۲-۱-۳-په لویدیزکې یې درامنځته کېدو ظروف ---------------- ۱۰۳
۱۲-۱-۴-دبیمې ډولونه ---------------- ۱۰۴
۱۲-۱-۵-دسوداګریزې بیمې شرعي حکم ---------------- ۱۰۵
۱۲-۱-٦-د بیمې شرعي بدیل ---------------- ۱۰٦
۱۲-۲-۱-دمزارعت ترون ---------------- ۱۰۷
۱۲-۲-۲-مشروعیت یې ---------------- ۱۰۷
۱۲-۲-۳- فضیلت یې ---------------- ۱۰۷
۱۲-۲- ۴- باغواني ---------------- ۱۰۷
۱۲-۲-۵-دباغواني ارکان ---------------- ۱۰۷


## دیارلسم څپرکی


دتبرع عقدونه ---------------- ۱۰۹
(وصیت ، هبه،حسنه پور ،امانتونه،عاریة،ګروی ) ---------------- ۱۰۹

۱۳-۱-وصیت ------------------------------------------ ۱۰۹
۱۳-۱-۱- لغوي پېژندنه ------------------------------------------ ۱۰۹
-۱-۲-اصطلاحي تعریف ------------------------------------------ ۱۰۹
۱۳-۱-۳-دوصیت تاریخي شالید ------------------------------------------ ۱۰۹
۱۳۱۳-۱-۵- مشروعیت یې ------------------------------------------ ۱۱۰
-۱-۴- ډولو نه یې ------------------------------------------ ۱۱۰
۱۳-۱-٦-حکمت یې ------------------------------------------ ۱۱۰
۱۳-۱-۷-دوصیت ډولونه ------------------------------------------ ۱۱۰
۱۳-۱-۸-دوصیت ارکا ن ------------------------------------------ ۱۱۰
۱۳-۱-۹-دوصیت دانعقاد کیفیت ------------------------------------------ ۱۱۱
۱۳-۱-۱۰-په قبو ل کې دفوریت مسئله ------------------------------------------ ۱۱۱
۱۳-۱-۱۱-دوصیت دنفاذما نع ------------------------------------------ ۱۱۱
۱۳-۲-هبه ( ډالۍ ) ------------------------------------------ ۱۱۱
۱۳-۲-۱- تعریف اومشروعیت ------------------------------------------ ۱۱۱
۱۳-۲-۲- په شرعي اصطلاح کې ------------------------------------------ ۱۱۱
۱۳-۲-۳- مشروعیت یې ------------------------------------------ ۱۱۱
۱۳-۲-۴- دهبې ارکان ------------------------------------------ ۱۱۱
۱۳-۲-۵-دموهوب(دډالۍ کړې شوي) شرط ------------------------------------------ ۱۱۲
۱۳-۲-٦- دهبې دېېرته واپس کېدلو موانع ------------------------------------------ ۱۱۲
۱۳-۳-قرض حسن (حسنه پور ) ------------------------------------------ ۱۱۲
۱۳-۳-۱- دقرض لغوي معني ------------------------------------------ ۱۱۲
۱۳-۳-۲-دقرض اصطلاحي تعریف ------------------------------------------ ۱۱۳
۱۳-۳-۳- مشروعیت یې ------------------------------------------ ۱۱۳
۱۳-۳-۴-عاقد اودعقد صیغه یې ------------------------------------------ ۱۱۳
۱۳-۴-ودیعة ------------------------------------------ ۱۱۳
۱۳-۴-۱- لغوی پېژ ند ------------------------------------------ ۱۱۳

۱۳-۴-۲-په اصطلاح کې ---------------------------------------------------------------- ۱۱۳
۱۳-۴-۳-حکم يې ---------------------------------------------------------------------- ۱۱۳
۱۳-۵- رهن (دګروی ترون) -------------------------------------------------------------- ۱۱۴
۱۳-۵-۱-تعریف ----------------------------------------------------------------------- ۱۱۴
۱۳-۵-۲-دمرهونې شرایط ----------------------------------------------------------------- ۱۱۴

## څوارلسم څپرکی

دبیت المال مصارف(لګښتونه) --------------------------------------------------------- ۱۱۵
۱-۴۱-دبیت المال دلګښت اصول ----------------------------------------------------------- ۱۱۵
۱۴-۲-دبیت المال دلګښت ځایونه --------------------------------------------------------- ۱۱۶
۱۴-۳-دبیت المال ددویمې برخې لګښتونه ----------------------------------------------------- ۱۱۸
۱۴-۴-داسلامي ریاست دتصرفاتو حقوقي پولې ------------------------------------------------- ۱۱۹
۵-۱۴- داسلامي ریاست اقتصادي مسؤلیتونه ---------------------------------------------------- ۱۲۰
۱۴-۲-۳-د اقتصادي مسؤلیتونوعملي پلان ------------------------------------------------------ ۱۲۴
۳-۱۴-په اسلامي اقتصادکې دمصرف اولګښت عامه تګلاره ------------------------------------------- ۱۲۶

## پنځلسم څپرکی

دقران عظیم الشان اقتصادي لاربنوونې ----------------------------------------------------- ۱۲۸

## شپاړسم څپرکی

زموږداقتصادي ستونزې اوحل لارې --------------------------------------------------------- ۱۳۲
۱-۱٦-داسلامي امت اقتصادي ستونزې ------------------------------------------------------ ۱۳۲
۲-۱٦-له ستونزوڅخه دخلاصون لار -------------------------------------------------------- ۱۳۲

# داسلام اقتصادي نظام

## سریزه

دژوند په ډګردملتونو لپاره ترټولوستره پانګه فکري شتمني ده چې له یوتوکم نه بل ته انتقالیږي؛البته مادي ثروت اوعلمي اکتشافات،اختراعات اوداسې نوردملتونودافکاروپه خدمت کې وي اودعسکراووسله وال فوځ حیثیت غوره کوي څه وخت چې دیوملت مادي ثروت ړنګ ، تباهاوبربادشي دوباره جوړښت یې دومره سخت نه وي په دې شرط چې فکري ثروت یې محفوظ وي؛مګرکه چیرته ددې پرعکس یې فکري شتمني چوراوچپاول شي اودملت مادي ثروت محفوظ وي ژرترژره کېدای شي چې دغه مادي ثروت یې له لاسه ووزي اوملت دفقرپه تیته کندہ کې سقوط وکړي.

له همدغه امله دمسلمان ویاړمن قوم په حیث چې دالهي وحی امین امت دی په کاردي چې دخپلواسلامي افکارو اودستر ریښتني بشرپال دین په ساتنه کې حریص واوسیداځکه چې زمونږ دین محفوظ،حقیقي،واقعي، شمولي اومعقول دین دي.دنړۍ هیڅ ملت ددې ادعاء نه شي کولی چې له دوی سره دکایناتودرب پیغام دی هیڅ یوه نظریه له اسلامه پرته دبشرفکري، اجتماعي، اقتصادي اوسیاسي ستونزوحل ته مثبت ځواب نه شي ویلي خومونږ یې ټولې نړۍ ته په ډاګه اعلانوو چې:( القر ان هوالحل ) یعنې قران عظیم الشان الهي نړۍ وال اسماني پیغام دبشرد. دبشر دټولو ستونزو دحل ضامن دی

په معاصرتاریخ کې زمونږ په ویاړمن ملت ډیرې سختې تیرې شوې په عقیدې ،دین، ناموس، ژبې، خاورې اوارزښتونوبې یرغلونه شوي په شلمه میلادي پیړ ۍ کې ددرې لویوزبرځواکونوتر یرغل لاندې راغلی؛مګرپه خپل ایماني غیرت اومیړاني یې دغووحشي-ځناورصفته ځواکونوته ماتې ورکړې.

زمونږدملت لوی غم فقر،نیستي ددین اوددنیا په چاروکې جهل اودښه قیادت اومشر-تابه نه شتون،اختلاف،ګډوډی،بد بختي، ظلم ،فساداوله الله تعالی نه بغاوت دی مونږ تل ښکیلاګروته ماتې ورکوو؛مګرخپل افتخارنه شوساتلی له یوغم نه وروسته په بل غم اخته کیږو.

په اسلامي هېوادونوکې لویه فتنه اقتصادي افکاروراننځته کړې ده مونږ ته لازمه ده چې دکپیټالستي اوکمونستي نظام فساد اوداسلام داقتصادي نظام مزایاخلکوته څرګندې کړواقتصاددبشري ژوندملادتیرپه حیث دانسان ستره اړتیا ده داسلام سپیڅلی دی نه یوازې داچې داقتصادي نظام په اړه احکام اوقوانین لري بلکې په اسلامکې دعباداتو مهم اړخ مالي عبادت تشکیلوي له همدغه امله داسلام داقتصادي نظام مضمون دټولوعصري پوهنځیوپه شپږم سمستر داسلامي ثقا فت دمضامینودکریکولم په قالب کې تدریسیږي

**ددغه مضمون دتدریس هیله منې پایلې**

ددغــه مضــمون دتــدریس پــه پــای کــې بــه محصــلین وکــولی شي چــې !

۱ -د اسلام داقتصادي نظام اودمعاصرواقتصادي سیستمونوترمنځیومقا یسوي معلومات ترلاسه کړي

۲ - داسلام داقتصادي نظام اودفیوډالي ، کاپیټالستي ، کمو نستي ، سوسیالستي او مختلطه نظام دعوایدو، لګښت اوتوزیع په هکله به پوها وی حاصل کړي

۳ - داسلام په اقتصادي نظام کې دملکیتونو اودهغوی دځانګړ تیاءو دپېژندنې تر لاسه کول

۴ - دملکیت دلاسته راوړلودروالاروچاروانا روا لاروچاروپېژ ندنه اودسود ، احتکارداحکامودحرمت دفلسفې پېژند نه

۵ - دروا شرکتونو دډولونوپېژندنه په همدې توګه دبیمې دډولونواوحکم پېژندنه دقران عظیم الشان اقتصاد ي لارښوونوته کتنه،داسلامي امت اقتصادي ستو نزې اوله دغوستونزوڅخه دوتلو لاراوداقتصادي اصلاح عملي پرو ګرامپوهاوي .

دالله تعالی دعظیم الشان پیغام قران عظیم الشان اونبوي سنتو دځلاند ه لارښو ونو په رڼا کې به موږدفردي اوټولنیزوګټو دساتنې او سمون اوپرمختګ په لوړپه هلو ځلو لاس پورې کوو .دغه علمي اثرپهشپاړلس څپرکوکې تنظیم شوی

دکتاب په ترتیب کې مې له علمي معتبرواخځونوڅخه استفاده کړې دالله تعالی سپيځلی دربارته ددعالاسونه لپه کوم چې زمادغه ستړې ستومانې قبولې اودخپلې رضاوړیې وګرځوی

امین

# لومړی څپرکی

## داسلامي اقتصادمفهوم

### پیلیزه

اسلا م دژوندبشپړنظام دی دبشري ژوندټول اړخونـه رهـبری کـوي لکهاعتقادي،اخلاقيعبـادات ،معاملات (ټولنيز، اقتصادي ،سياسي،جنايي،جګړه،سوله اوبين المللي سياست ) اوداسې نور..

دغه سپېڅلي دين اوږده موده دنړۍ ملتونـه رهـبري کـړي دي هغـوی تهـېې دعدل،شـفقت،مينې اومحبت پيغام له ځان سره درلود.دشلمې پيړۍ په دريـمه لسيزه کـې داقتصاداوسياستپه اړه ګڼې ليکنې وشوې.ددغه څپرکي زده کـړه ئيـزې مـوخې داقتصـاد لغـوي او داسـلامي اقتصـادپېژندنه، داسـلامي اقتصـاد رامنځتـه کېـدل داسـلامي اقتصـاد دځېړنوپرمختـګ داسـلامي اقتصـاددعلم اوداقتصاد ي نظام ترمنځ فرق ، په لويديز کې داسلامي اقتصاددعلم منځته راتګ .داقتصاد دعلـم موضوع داسلامي اقتصاداهميت اوداقتصاد دعلم ګټې دي .

### ۱-۱-داقتصادلغوي معنی

په لغتکې دقصدله مادې څخه اخيسـتل شـوی اوقصـدپه چـاروکې دتوسـط(منځګړتـوب)دلارې لپاره داستقامت په فيصله اوحکم کولوکې، دعـدالت اودمـال پـه لګښـت اومصرفولوکې داعتـدال اوميانه روی په معنااستعمال شوی

په انګليسي ژبه کې (Economic) په مصرف اولګښت کې ميانـه روۍ تـه وايـې ،پـه قرانکـريم کې ګڼ شمېراياتونه راغلي چې دهمدغومعناګانو څرګندونه کـوي الله تعـالی فرمـايي﴿ وَٱقۡصِدۡ فِى مَشۡيِكَ وَٱغۡضُضۡ مِن صَوۡتِكَۚ ﴿١٩﴾ ﴾لقمان ژباړه: په خپـل تـګ کـې ميانـه روي غـوره کـړه اوخپل غږ لږ ټيټ کړه)

قرانکريم داقتصاددکلمې مفهوم په دقيقه توګه په ګڼواياتونوکې ټاکلی دی چې يو يـې پـه لانـدې توګـــــه دی ﴿ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمۡ يُسۡرِفُواْ وَلَمۡ يَقۡتُرُواْ وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ قَوَامٗا ﴿٦٧﴾ الفرقان ژباړه:اومؤمنان هغه کسان دي چې کله مال لګوي نونه اسراف کوي اونـه بيخي لاس نيسي- بلکې ددواړوپه منځ کې روان وي.

داسراف اوبخل ترمنځ داقتصاددمفهوم ټاکنه سره لـه دې چې اسـلام ددواړوسـختـه غندنـه کـوي موږته دشتمنۍ د صحيح وېش اوداسـې نوروچاروپـه هکلـه داسـلامي شريعـت داهـدافودمتوازنې رهبرۍ ښوونه کوي

## ۲-۱-داسلامي اقتصادپېژندنه

اسلامي اقتصاددځنواصولو اوقوانينو مجموعه ده چي په اسلامي عقيدې اواسلامي اخلاقويې دبنسټ ډېره ايښودل شوې دقران عظيم الشان اونبوي سنتواوفقهي اجتهادپه رڼاکې دمال دلاسته راوړلو،ذخيره کولواولګښت په هکله بحث کوي .اوياسلامي اقتصاددهغوعاموبنسټيزواصولواوقوانينومجموعه ده چي له قرانکريم اونبوي سنتوڅخه استخراج شوي دهرځاى اووخت له پاره ددغواصولوپه بنسټ داقتصادي دمانۍ ودانول دي

## ۳-۱-نوی کلاسيک تعريف

داقتصاد دپخوانيو پوهانو په سرکې (Adam smith) يې داسې تعريفوي (اقتصاد دمال دګټلو دعلم نوم دى)

البته دغه يوغيرجامع تعريف دئ چې يواځې په مادي رفاه ترکيزکوي نورفعاليتونه لکه صحت،ښوونه اوروزنه ترپوښښ لاندې نه نيسي- داځکه چې دغه دواړه هم په اقتصادي پرمختګ کې سترول اداکوي

## ۴-۱- داسلامي اقتصادرامنځته کېدل

دقران کريم دنزول سره سم د ژوند دنورواړخونودلارښوونوپه شان اقتصادي احکام هم نازل شول لکه دزکات ورکړه، په سودي چاروبنديزلګول دمال ذخيره کول اولګول، مالي تړونونه، رواواوناروابيې په همدې توګه داقتصادي چاروپه هکله دپيغمبر صلى الله عليه وسلم احاديث اوپه اقتصادى معاملاتوکې دراشدينوخليفه ګانو تعامل درواخله .مګرهغه مهال اقتصادي چارې محدودې وې لکه کرکيله،سوداګري ، اودڅارويوپالنه اوداسې نور...

## ۵-۱- داسلامي اقتصاددڅېړنو پرمختګ

په قرانکريم اونبوي احاديثواودخلافت راشده په کړنلاره کې داقتصاداساسي اصول وړاندې شوي بيا وروسته دهمدې اساسي سرچينوڅخه داسلام پياوړواامامانواوعلماءوپه دې برخه کې پوره پلټنې وکړې اولوی لوی کتابونه يې وليکل البته داقتصادي چاروپه هکله ترڅلورمې هجري پيړۍ پورې بشپړې څېړنې ترسره شوې.

ددويمې هجري پيړۍ په سرکې مسلمانو فقهاؤداقتصاديوڅه برخې ترتحقيق اوڅېړنې لاندې ونيولې لکه رواوناروا کسب اوکار،شرکتونه،دبازاراو مارکيټ تنظيم اودنرخونوټاکل چې دنمونې په توګه څولاندې کتابونه دذکروړدي.

- الکافي فى فقه اهل المدينه چې ديوسف ا بن عبدالبراندلسي قرطبي کتاب دى.
- بدايع الصنايع فى ترتيب الشرايع :دامام علاوالدين کاساني کتاب (حنفي فقه)

- الام:دامام محمدبن ادريس الشافعي كتاب (شافعي فقه
- المغني:دامام محمدبن قدامه تاليف(حنبلي فقه)
- المحلى:دامام حزم اندلسي كتاب(ظاهري فقه)
- كتاب الخراج:دامام ابي يوسف ليكنه.
- كتاب الخراج:ديحى بن ادم ليكنه
- كتاب الاموال:دابي عبيدقاسم بن سلام تاليف
- كتاب الاموال:دابن زنجويه ليكنه.
- دابن.خلدون مقدمه چې په ۸۷٤ هـ كال راڅرګنده شوه

سره له دې چې دابن خلدون مقدمه دغربي اقتصاددپلارادم سميت له كتاب ثروت الامم نومي څخه پنځه پيړى مخكې ليكلى شوې ادم سميت په ۱۷۷۶م كال دابن خلدون دمقدمې بدله ځيره ثروت الامم وړاندې كړ،ابن خلدون رحمة الله عليه دټولنې په پرمختګ،انكشاف اوديلايبلواقتصادي فعاليتونوپه اشكالود قيمت په نظريې داستوګنوپه ويش دمادي شتمنيوپه توليداوداسې نوروموضوعاتوڅيړنې كړې دي حقيقت دادى چې دغه دواړه كتابونه دزمان اومكان په اعتبارسره بيلتون لري.

پهډيرتاسف سره دغرب اواروپا متعصب خلک ادم سميث داقتصاد پلاربولي په داسې حال كې چې له ده څخه مخكې داسلام ستروعلماؤداقتصاد په برخه كې لوى لوى كتابونه ليكلي دي ښايي چې شمېرېي ترسلوورسېږي دايوڅرګندحقيقت دى چې داسلامي پوهانوافكاراوليكنې دنوي عصرداقتصادي مدرسې دپيل كرښه ګڼل كيږي

## ۱-۶-داقتصاددعلم اوداقتصادي نظام ترمنځ فرق

داقتصادعلم داجتماعي علومودجملې څخه ده چې په دوونستيزوبرخوويشل كيږ ي يوه ته كلي اقتصادوايي چې دټول هيواددااقتصادي ستونزوحل ترپوښښ لاندې نيسي لكه ملي خزانه، ملي توليد،ملي استهلاک،نرخونه ، ددندوويش او حكومتي لګښت. دويمه برخه يې جزيي اقتصاد بللكيږ چې دفرد،كورنۍ اوديوې مؤسسې داقتصادي ستونزوحل ترخپلې څارنې لاندې نيسي .نوپردې اساس داقتصادي نظام اوداقتصاددعلم ترمنځ بيلتون په لاندې ټكوكې وړاند ې كوو !

۱- اقتصادي نظام غيراقتصادي عواملوته شمول پيداكوى لكه ټولنيزعدالت اوانصاف؛مګرد اقتصادعلم دټولنيزعدالت سره سروكارنه لري .

۲-په اقتصادي نظام كې ټولنې،ملتونه اوتمدنونه دخپلو باوري اساساتوتابع وي لكه كمونستى ، سرمايه داري ، مختلط اواسلامي اقتصاددرواخله داځكه چې هريونظام جلااساسات اوتګلاره لري؛ مګرداقتصادعلم له دې سره سروكارنه لري.

## ۷-۱- په لویدیځ کې داقتصاددعلم منځته راتګ

داتلسمې پېړۍ په وروستیوکې دنوي اقتصاد داساس ډبره کېښودل شوه له همدغه وخته داروپايي ټولنې په ټولنیزو،سیاسي اواقتصادي برخوکې ستربدلونونه رامنځته شوه په اروپاکې صنعتي انقلاب راغی .په اقتصادي برخه کې نوې څېړنې پیل شوې دشلمې پېړۍ ترپیله یې دجلاعلم په بڼه ظهوروکړ،دوه مکاتب فکرپانګوااله اوکمونېزم سره اوږه په اوږه روان شول نړۍ یې په سیاسي افق کې هم په دووبلاکونوووېشله اوپه نړۍ واله سطحه لوی اخ اوډب رامنځته اودملیونونوانسانانو په وژنه منتج شوختیځ بلاک ونړېداونړۍ یوقطبه پاتې شوه اسلام دیواځني رقیب په توګه وپېژندل شوپه ټوله اسلامي نړۍ یې سوراوربل کړ.

## ۱-۸-داقتصاد دعلم موضوع

څرنګه چې داقتصاد علم دانسان دبې شمېره خواهشاتو اومحدودو وسایلو څخه بحث کوي نو په عمومي توګه په اقتصادکې لاندې موضوعات تر څېړنې لاندې نیول کېږي.

۱-دتولیدوسایل چې په درې برخوته وېشل کېږي

- طبیعي وسایل لکه ځمکه کانونه ځنګلونه،سیندونه ،غرونه
- مصنوعي وسایل لکه ماشین الات،سرکونه،بندونه، کښتۍ ،هوايي الوتکې،دبرېښنا بندونه اوداسې نور......
- انساني وسایل لکه مزدوران،ډاکتران ،انجینران،وکیلان،استادان اوفني اشخاص .

۲-دتولیدشوي شي اندازه معلومول،کوم شی لومړۍ تولید شي؟څومره تولیدشي؟بنسټیز ضروریات کوم دي ؟

۳-دتولید شویوشیانو سم وېش

## ۱-۹-داسلامي اقتصاد اهمیت

ددغه علم زده کړه دهرچالپاره ګټور دی دسوداګرو لپاره یې اهمیت دادی چې په حلالواوحراملکه سود ،احتکار په صادراتو اوواراداتوپه عرضه اوتقاضا،دقیمتونوپه پورته کېدواوښکته کېدو،په مالیاتوکې زیاتوالی اوکموالی اوداسې نورمسایل دي چې له اسلامي اقتصاده پرته یې پوهه امکان نه لري.په همدې توګه دسیاسي اوحکومتي مشرانو لپاره یې پوهه ضروري ده ځکه چې دلوړې غربت اوجهالت اوبېکارۍ دله منځه وړلو لپاره دزکات مطالعه اړینه ده.دعامو خلکو لپاره هم داقتصادپوهه ضروري ده ترڅوددولت په اقتصادي پالیسیوپوه شي اوداصلاح اوسمون لپاره میدان ته راووځي په ځانګړې ډول په اوسني وخت کې چې ټول خام مواد،تېل اوسپنه ،مس،دډبرووسکاره، ښه ابشارونه ،ښه بندرونه، ښې ځمکې،بشري

خواک،ریښتینی دین اوالهي پیغام هرڅه په اسلامي نړۍ کې دي دلته چې دڅه کمبودددی هغه داتحاداواتفاق،دعلم اوپوهې دمینې اومحبت کموالی دیاویس.

## ۱-۱۰-داقتصاددعلم ګټې

ورځنۍ تغیرات دنرخونو کنټرول،انفلاسیون،پلانونه ،مالیات،بودیجه دبازارسوړوالی اوګرموالی خارجي مرستې دخوراکي توکو کموالی،زراعتي اصلاحات دپیسوارزښت دقیمتونوپورته کېدل اوټیټېدل ورپورې مربوط دي. همدارنګه په عملي ګټوکې یې داقتصادي ستونزې حل،دغربت علاج، دپیسوپه وېش کې تعادل اوبرابري، داقتصادي وسایلو سم په کاراچول، لنډمهالي اواوږده پلانونه ټول داقتصادپه وسیله صورت مومي

**لنډیز**

۱ - داسلامي اقتصاددلغوي اوصطلاحی معنی اونوی کلاسیک تعریف وړاندې کېږي

۲ - اسلامي اقتصاد دقران عظیم الشان دنزول سره سم رامنځته اوبیا ددویمې هجري پېړۍ نه ترځلو رمې هجري پېړۍ پورې بشپړې څېړنې وشوې اوګڼ کتابو نه دقلم په سیاهي کې قلمبند شول .

۳ - داقتصاددعلم اوداقتصادي نظام ترمنځ فرق دادی چې اقتصاد ي نظام غیراقتصادي عواملوته شاملېږ ي لکه ټولنیزعدالت ؛مګرداقتصادعلم دعدالت سره سروکارنه لري په اقتصادي نظام کې ملتونه دخپلوباوري اساساتوتابع وي لکه کپیټالستی اکمونستې اوداسې نور.....

۴ - داتلسمې پېړۍ په وروستیو کې په لویدیز کې دنوي اقتصادي سیستم داساس ډبره کېښو دل شوه دشلمې پېړۍ تر پیله یې دجلاعلم په بڼه ظهوروکړ .

داقتصاددعلم موضوع

۱ - داقتصادعلم دانسان دبې شمېره خواهشاتو اودتولید وسایلو څخه بحث کوي دتولید وسایل درې برخوته وېشل کېږ ي طبیعي وسایل ، مصنوعي وسایل اوانساني وسایل همدارنګه دتولید اندازه اووېش هم معلوموي .

۲-داقتصادعلم زده کړه دهرچالپاره مهم دی دسیاست والو،سوداګرواوعام ملت ته ډېراړین دی

**پو ښتنې**

۱ - داقتصاد معنی ولیکئ اودقران کریم دایاتونو په رڼا کې یې تحلیل کړئ

۲ - داسلامي اقتصاداصطلاحي تعریف ولیکئ .؟

# دویم څپرکی

## داسلامي اقتصاداصول، ارکان اوسرچینې

### پیلیزه

هرنظام اصول اوبنسټونه لري چې هغه نظام پرې ټینګښت مومي داسلام اقتصادي نظام یو اعتقادي بنسټو نه لري اوبل اقتصاد ي اصول اوارکان ددغه څپرکي زده کړه ئیزې موخې داسلامي اقتصاد اعتقادي بنسټونه اوداسلامي اقتصاد اصول اوارکان ،اقتصادي سرچینې اوداسلامي اقتصاد څخه دغفلت اسباب بیانول دي .

### ۱-۱- اعتقادي بنسټونه

دټولو شتمنیو حقیقي مالک الله تعالی دی اوبشردخلیفه حیثیت لر ي اوملکیت یې مجازي بڼه غوره کوي پر همدې اساس دمال په لاسته راوړو اولګښت دواړو کنې دالله تعالی پروړاندې په اخرت اودخلکو اونظام پروړاندې په نړۍ کېمسؤلیت لري دمعصیت اوګناه په حرامولارو یې نه په لاس راوړلی اونه یې په لګښت رسولی شي ،پیسی سره اوسپین زز دقیمت اوسوداګریزو مبادلاتو وسیله ده پرهمدې اساس سودپه کې جوازنه لري

### ۱-۲- داسلامي اقتصادارکان اواصول

داسلام اقتصادي نظام په درې پایوولاړدی

- **لومړی-دوه ګونی ملکیت (فردي اواجتماعي)**

داسلام اقتصادي نظام دغربي کاپیټالېزم چې هلته یوازې دفردپه اصالت قایل دملکیت په لاسته راوړلو اولګښت کې دهیڅ رنګه قیوداتورعایت نه کوي .اوهمدارنګه دکمونستي اومارکسستي اقتصادي سیستم سره چې دټولنې په اصالت باوري دی دفردازادي اوفردي ګټې له نظره غورځوي سخت مخالف دی اسلامي شریعت دملکیتونو دڅښتنانودحقوقوساتنه کوي له غلا،اختلاس،چوراوچپاول څخه یې ژغوري اسلام فردي ملکیت ثابت کړی دحلالوپه چوکاټ کې ورته حد نه ټاکي په اسلام کې دملکیت حق یواساسي واقعیت اودبشرفطري حقیقت دی ،که چېرې په اسلامي ټولنه کې دکمونستي نظریې پر بنسټ ملکیت لغوه اعلان شي؛نوددې معنی دادی چې داسلام اقتصادي مانۍ ړنګه وګرځېده داسلام دویم اوپنځم رکن زکات اوحج ته هم دپای ټکی کېښودل شواودمیراث نظام هم له بیخه ونړېد.

په همدې توګه داسلام په اقتصادي نظام کې عامه ملکیتونه اودولتي ملکیتونه هم شتون لري اوپه رسمیت یې پېژني لکه دولتي ځمکې،باغونه،چمنونه،هوایي ډګرونه اولوی لوی میدانونه،

ځنګلونه اوداسې نور..په همدې توګه درسول الله مبارک ارشاد دی( المسلمون شرکاء فی ثلاث فی الماء والکلاء والنار)ژباړه:ټول مسلمانان په درې شيانو کې شريک دي په اوبو،ورشواوارکې نـو پـردې اسـاس خـاص (فـردي)اوعـام (ټـولنيز)ملکيـت دواړه داسـلامي اقتصاددثابتواصولواواساساتودجملې څخه دي؛مګر ددې پرعکس دلويديزپه پانګواله نظام کې ټولنيز ملکيت له سره نشته اوپه کمونستي نظام کې فردي ملکيت لغوه ګڼل کيږي مګرداسلام اقتصادي سيستم ميانه پاليسي لري فردي او ټولنيز او ياپه بل عبارت خاصه اوعامه ملکيت موازي پرمخبيايي.

- **دويم- مقيده اقتصادي ازادي**

مؤمن مسلمان دشريعت په چوکاټ اقتصادي ازادي لري اسلام يې دمطلقې ازادۍ مخه نيولې ده هرکله چې دعامه اوخاصه ګټوترمنځ ټکررامنځته کړی شي نوعامه ګټوته بايد په شخصي ګټو ترجيح ورکړی شي لـه همـدې املـه اسـلام احتکـار يعنـي دعرضـې اوتقاضـا پـه نظـام واکمنۍناروا عمل بولي همدارنګه اسلام دداسې چارو په کلکه مخه نيسي چې خلکوته زيانمن واوسي .

داقتصادي ازادۍ په بـاب داسـلام دريزلـه نورونظامونوڅخه پښ‌ېړتوپيرلري اوهغـه داچـې اسـلام دحلالواوحراموپه چوکاټ کې مسلمان ته اقتصادي ازادي ورکړې چې په کومولاروچاروملکيت ترلاسه اوڅنګه يې په لګښت ورسوي؟

**۲-۲- ۱-داقتصادي ازادۍ دقيوداتوموخې**

- له ټولنيزورنځونوڅخه لکه بغض،حسد،کينه اوپريوبل تيری اوظلم چې دغه ټول
- دناروااقتصادي فعاليتونوپه

نتيجه کې رامنځته کيږي دټولنې ژغورل دي.

- دولت ته دمداخلې دحق ورکړه ؛لکه داحتکاري او سودي معاملاتودمخنيوي په

خاطر،ترڅوخلک د اسلامي شريعت په سمه لاره روان اوسي.

**۲-۲-۲-۵ اقتصادي ازادۍ قيودات**

داسلام مقدس دين په اقتصادي ازادۍ قيودات وضع کړي اوازادۍ ته دی پريښې چې ځنې يې دادي.

- داچې اقتصادي فعاليت چې خلك يې په کولولاس پورې کوي رواپه خپله ده اوټولنې ته به ګټوروي .
- اسلامي دولت ته په اقتصادۍ فعاليتونوکې په محدودچوکاټ کې دمداخلې حق ورکړی شوی دی

- **دریېم -ټولنیزتکافل**

ټولنه دخلکو یوه مجموعه ده چې د ځمکې په یوه محدوده کې ژوندسرته رسوي یوقانون پرې حکومت وکړیاودمشترکو،عاداتو څښتنان وي ،تکافل دکومک اومرستې معنالري

**۱-۳-۲- دټولنیزتکافل دلایل**

**۱- قراني دلیل** -په دې هکله په قران عظیم الشان کې ګڼ ایاتونه دي دهغودجملې څخه.

هلته چې فرمایي ﴿ وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗا وَبِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡجَارِ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡجَارِ ٱلۡجُنُبِ وَٱلصَّاحِبِ بِٱلۡجَنۢبِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ مَن كَانَ مُخۡتَالٗا فَخُورًا ﴿٣٦﴾ ﴾

**۲- نبوي سنت**

دنبوی احادیثو ټول کتابونه دتکافل له مشروعیت څخه ډک دي دهغودجملې څخه (تری المؤ منین فی توادهم وتراحمهم کمثل الجسدالوحداذ اشتکی منه عضوتداعی له سائرالجسد باالسهر والحمی ) ژباړه : ته به مؤمنان په مینه اومحبت ترحم اوعاطفه کې دیوجسددغړوپه توګه ومومې چې کله یواندام په درد شي نوټول بدن ورسره په په بې خوبی اوتبه کې اخته وي .

په یو بل روایت کې داسې راغلي دي پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایلي دي( لایؤمن احدکم حتی یحب لا خیه مایحب لنفسه ) ژباړه:تاسې به ترهغه کامل مؤمنان ونه ګرزي ترخوچې خپل مسلمان ورورته هغه څه خوښ نه کړی چې خپل ځان موخوښ کړي وي .

دغه پورتني قراني اونبوي ارشادات دمسلمانانو په مینې،محبت ،تعاون ، تکافل ،وروړګلوی اواخوت دلالت کوي داسلام ستر پیغمبرهمد غسې مثالي ټولنه جوړه کړې وه

**۲-۳-۲- ټولنیز تکافل ته داسلام داهتمام لامل**

اسلام ټولنیزتکافل ته په ستراهمیت قایل دی داځکه چې دغربت اوافلاس په صورت کې نه عقیده جوړ ېښت مومی اونه اخلاق وده کوي اونه فرد اوټولنه دارام اواسوده ژوند ترپړ اوه رسېدلی شي اونه په ټولنه کې امن قایمېږ ي .

**۳-۳-۲- په اسلام کې دتکافل ډولونه**

په اسلام کې تکافل پراخه او ارت ډګرلري لکه

**۱-ادبي تکافل**

په دې توګه چې دټولنې افرادیوبل پر ورانډې دمینې، عاطفې درناوي اودوروړګلوی تعامل ولري

**۲-علمي تکافل**

پیغمبرصلی الله علیه وسلم دعالم مسؤلیت گرزولی ترخوناپوهانوته علم ورزده اوله هېڅا څخه يې ونه سپموي دټولنې علمې شخصیتونه مسؤلیت لري ترڅوبېسوادي له منځه یوسي

**۳- سیاسي تکافل**

دهېواد هراستوګن حق لري چې د دخپلومشرانو په ټاکنه کې ونډه ولري او خپلو اشتباهاتوته يې متوجه کړي دانحراف اوفساد پرخلاف مبارزې ته چمتووي.

**۴- دفاعي تکافل**

–په دې توګه چې دهېواددااسلامتیاپه خاطرټول هېوادوال سربښند نې ته تیاروي .

**٦- اخلاقي تکافل**

ټوله ټولنه داسلامی اخلاقو په ساتنې مکلفه ده او له ټولواخلاقي مفاسدو اورزایلو سره به مبارزه کوي

**۷- اقتصادي تکافل**

دولت به داسراف ، بخل ، تبذیر، احتکار، سود،خیانت اودوکې مخه نیسي نه به پرېږدي چې ماشومان ، سفهاء اوناپوه خلک په خپلومالونو کې په تصرف لاس پورې کړي .

**۸- روحاني تکافل**

لکه اذان ، اقامت اوپه اجتماعي توګه دلمانځه اداء کول دمړوپه تکفین اوتجهیز اودفن کې ونډه اخیستل

**۹- تمدني تکافل**

–هر ګټورکار برابره خبر ده چې که هغه دنیوي وي اوکه دیني اوکه سیاسي اواقتصادي په ټولو کې دیوبل مرسته اولاس نیوی شامل دی .

**۱۰ – اجتماعي تکافل**

لکه دفقیر انو نېستمنو ، بوډا ګانو، رنځورانو غم خپلواوحاجتمندو لاس نیوی ...

**۴-۳-۲- په ټولنیزتکافل کېددولت مسؤلیتونه.**

- ټولوخلکوته دملکیت اواقتصادي سرچینوپه پرمختیاکې حق ورکول.
- دهېواددهراستوګن لپاره دکارشرایط برابرول .
- دملت ټولوګړوته دابرومندانه ژوندحق ورکول.
- داسلامي ارزښتونوپربنسټ ددرنې اوشریفې کورنۍ جوړښت.
- په نېکوچاروامراودبدیومخنیوی.

- په افرادوکې د وروروليٕ احساس ته وده.
- دقبيلوي قوم پرستى سره مقابله اودعقيدې پربنسټ دخلکوتر منځ دا ړيکوټينګول.
- په ټولنه کې د توازن منځ ته راوړل.
- په فرداوټولنې دواړوکې دپرهيزګارۍ حس رامنځته کول دي

**۲-۳-۵-د تکافل تاريخي مخينه**

فقر،لوږه اومحروميت له پخواځخه په تاريخ کې ترسترګوکيږي دپيغمبرانومسؤليت داؤچې ټولنيزعدالت ته خلک راوبولي دشرک ،کفر، ظلم اواستبداد ټغرټول کړي .لـه اسلامه دمخه په روم ،فارس ،يهودي، نصراني اوبـودايي مـذهب کـې دفـردي احسـان اوخيراتونولـه لارې دغربت درنځ معالجه کېدله مګرداسلام دځلانده لمرپه راختلوسره قـراني لارښـوونو دغربـت اوفقراوطبقـاتي نظـام دپـای تـه رسـولولپاره دزکـات يوبشپړقانونله ځانـه سره راؤړاواسـلامي حکومت يې په تنظيمولو مکلف وګرځاوه .

په منځنيوپيړ يو کې اروپايانو په فکري اوټولنيزه برخه کې تيټ ژوند درلودمګراسلامي نړۍ د پرمختګ په حال کې وه په اندلس کې يې داسلامي پوهانو پروړاندې دشاګردی ګونډې ووهلې اوله موږ ځخه يې دتمدن توغ واخيست موږ دګډوډۍ اواختلاف په توره تياره کې بند پاتې شو .

ځنې ناپوه مسلمانان فکر کوي اوحاکم وضعيت هم داسې دی چې اسلام دغربت رنځ دخيراتونوله لارې معالجه کوي اقتصادي اوسياسي ستونزې دلته حل لاره نه لري مګرهېڅکله داسې نه ده داسلامي شريعت احکام اوقوانين ددنيااواخرت دستونزودحل همېشه وړتيالري اوبشريت له رفا ه اوټولنيز عدالت سره غاړه غړې ګرزوي اوطبقاتي نظام ته دپای ټکی ږدي

**۲-۳-٦- دنبوت سپېځلی دور**

په کومه ورځ چې دعربو په جزيره کی اسلام دټولنيز تکافل بنسټونه اعلان کړل په ټوله نړۍ کې فيوډالي ظالمانه غيرانساني نظام واکمني درلوده، کروند ه ګر، به خرځېدل کله به چې فيوډال دخپلې ځمکې په خرڅون لاس پورې کاوه دکروند ګر، اولادونه ،څاروي اوټوله شتمني به يې ورسره يوځای خرڅوله کله چې په مدينه منوره کې لومړی اسلامي دولت په پښو ودرېد دټولې نړۍ دملتونولپاره يې دوروروګلوۍ ،محبت اوعدالت پيغام له ځان سره درلوددعربو په جزيره کې دلومړی ځل لپاره دداسې دولت داساس ډبره کېښو دل شوه چې نه په کې کينه اوحسد ؤ نه په کې تېری اوظلم اونه په کې فسق اوفجورؤاونه په کې دزړه سختي اونه دضمير اواحساس مړينه بلکې له مينې وروروګلوي اوله زړه سوي اوټولنيز

ضمانت اوکفالت څخه ډکه ټولنه وه په پای کې اسلامي دولت پرمختګ وکړدعربوله ټولې جزیرې څخه دبت پالنې تېغرټول اواسلام واکمن وګرزېد ،دالله تعالی ریښتیني استازې جلاجلاسیموته خپل والیان ولېږل زکات به یې راټولولو اوپه خپلومستحقینو به یې وېشه هربې وزله ته به خپله برخه ورکول کېده هریو متزوج ته به دواده لګښت ورکول کېده اوهر ړانده ته لارښوداوهریوشل ته حامل اودهر پوروړي پوربه اداء اودهرفقیر اولاد به حمایه کېده دخلکو ناموسونه وینه ، کرامت اوعزت وساتل شو اوملتونه له جهل ، خرافاتو اووېرې اودبندګانوله بندګي څخه ازاد شول دیو بهترین متمدن دولت داساس ډبره کېښودل شوه دشوری روح یې په کې ورننوېست اوحکومت دملت مال وګرزېد اوله مینې اوعدالت اوانصافه ډکه ټولنه رامنځته شوه

**۲-۳-۷- دابوبکرصدیق رضی الله عنه دوره .**

رسول الله صلی الله علیه وسلم په داسې حال له فاني نړۍ سترګې پټې کړې چې دعربو له ټولې جزیرې دشرک ، جهل ، ظلم اوکفر تورې تیارې دتاریخ کندې ته وسپارل شوې له ده مبارک څخه وروسته ابوبکرصدیق رضی الله عنه دده دځای ناستي په توګه وټاکل شودده دخلافت په وخت کې سترې فتنې راولاړې شوې مګرهغه دغه ټولې فتنې په ګونډوکړې.

دابوبکر صدیق دوردټولنیزتکافل په برخه کې درسول الله صلی الله علیه وسلم دنبوت ددورامتدادؤدده نظام ددولتي مالونو څخه دعفت اوځان ساتنې په لړکې معیاري دولت ؤده به بیت المال په ټولوخلکو یوشان وېشلواوپه دې برخه کې به یې له مساواته کاراخیسته .

**۲-دعمرفاروق رضی الله عنه دخلافت دور**

دابوبکرصدیق رضی الله عنه څخه وروسته دعمر فاروق رضی الله عنه خلیفه شو په داسې حال کې چې دفارس اوروم امپراتور یو سترې جګړې دوام درلود تردې چې دده دخلافت په دورکې دوه لوی زبر ځواکونه روم اوفارس دمسلمانانو رعیت وګرزېدل عمر فاروق رضی الله عنه ددغه ستر دولت خوځنده روح ، مفکر عقل اوبریالي لارښودؤدادومره لوی دولت یې له دومره پراختیاسره په ښه ډول اداره کړ دده دستروچارودجملې څخه ددفتري نظام دقیق تنظیم ؤ ددولت دمصادرو اومواردولپاره یې دفتر پرانیست دهغوخلکولستونه هم په دفترونوکې موجودؤ چې له بیت المال څخه دنفقې مستحق ؤده به هرچاته دخپل لیاقت پربنسټ معاشونه ورکول چې یوماشوم به وزېږېد سمدلاسه به یې سل درهمه تنخوا جاري شوه چې کله به لوی شودغه معاش به دوه سوه درهموته ورسېد

### ۲-۳-۸- په اسلام کې دتکافل قوانین اواصول

په اسلام کې دتکافل دنظام قوانین دووبرخوته وېشل کېږي لومړی هغه ډلې اوافراد چې دتکافل مستحق دي دویم هغه اقتصادي منابع اوسرچینې چې دتکافل مادي برخه جوړوي موږ به په ډېر لنډ ډول دغه دواړه برخې ترڅېړ نې لاندې ونیسو.

### ۲-۳-۹- دتکافل نظام ته شامل وګړي

**۱- ماشومان**

میندې اوپلرونه دخپلواطفالو دعقل، مادي، روحاني ایماني ، اواخلاقي پالنې مسؤلیت پرغاړه لري که چېرته یې موراوپلا ر وسه ونه لري بیا ټولنې اودولت ته دغه مسؤلیت انتقالېږي

**۲:یتیمان**

یتیم هغه څوک دی چې په کوچنیوالی کې بې پلاره وفات شوی وي اسلام دیتیمانوتربیې اودمادي ژوند کفالت ته بشپړ اهتمام کړی دغه مسؤلیت دده دخپلو انودی مګر دنشتوالي په صورت کې یې مسؤلیت دولت ته انتقال مومی

**۳-لقیت ماشوم**

په شرعي اصلاح کې هغه ماشوم ته ویل کېږي چې پلاراومورېې نامعلوم اوپه لاره کې پروت وموندل شي چې څوک یې وموميي ورته لازمه ده چې ځان سره یې یوسي داسلام عادلانه شریعت دزنا دجرم له امله دغه ماشوم هلاکت ته نه سپاري دده پالنه روزنه داسلامي دولت مکلفیت دی عمرفاروق رضی الله عنه ته یولقیط راوستل شوویې ویل دده نفقه اولګښت زموږ مسؤلیت دی اودغه ماشوم به ازاد وي. دلقیط حق شوونه روزنه اودیوکسب زده کړه ده په خپلوټولوتصرفاتوکې مسؤل پردې به هم نه خبرېږي چې بې پلاره دی په دغه کارسره به موخپل هېوادته یوبهترین استوګن وراضافه کړی وي .

**۴-مزمن ناروغان**

په دغه زمره کې ړاند ه شلا ن ضعیف البصر ګونګیان کانه دمهرګي ناروغان اوبېړاګانراځي،ړندو ، ګونګیانو اوشلانوته کېدای ځنې کورسونه جوړکړي شي اوله دغې لارې خودکفاء شي.

**۵- منحرف ماشومان**

هغه ماشومان چې غلا،لواطت، قاچاق اودقتل په جرایمو لاس پورې کوي لامل یې کورنۍ ناوړه تربیه ، بېروني ناوړه چاپېریال اوبدملګریدي دانحراف لومړی مسؤلیت دولت ته راجع کېږي اودویم مسؤلیت یې دکورنۍ دی

### ٦-کونډې

دکونډتون لامل دمېړه مړینه اوطلاق دي اسلامي دولت په دې هکله دروندمسؤلیت لري چې په دې اړه لازم اقدامات اوکړنې ترسره کړي

### ۷- بوډاگان

اسلامی دولت پردې هکله مسؤلیت لري چې دوارثانو دعدم موجودیت په صورت کې دوی ته میاشتنی معاش وټاکې ترڅو دوی پرېابرومندانه ژوند ترسره کړي عمرفاروق رضی الله عنه دیو یهودي شیخ فاني لپاره دبیت المال څخه تنخواه مقرر کړېوه .

### ۸ -غم ځپلي

داسلام دسپېڅلي دین په شان په هېڅ دین اوتگلاره کې دغم ځپلوستونزوته پاملرنه په سترگو نه ښکاري دقران عظیم الشان اونبوي سنتو اوپه اسلامی تاریخ کې بشپړې لارښوونې شتون لري .

### ۹- مسافر

په دې توگه چې دسفر په دوران کې یې پیسې ورکې اویاخلاصې شي .

### ۱۰- بندیان

په بند کې پراته وگړي چې دجرایمو اویانورولاملونوله کبله په بند محکوم شوي وي

### ۱۱- پوروړي

-چې دسماوي افت ،رنځ اویاپه کاروبارکې پوروړی شوي وي

### ۱۲- دخطاءقتل قاتل

ده ته به دمقتول دیت برابرولی شي

### ۱۳- طالبان

چې دعلم په طلب پسې وتلي مگر یوڅه ونه لري

### ۱۳- مجاهدین

ددښمن پرخلاف په مورچلونوکې ناست غازیان .

### ۲-۳-۱۰-دتحقق عملي وسایلې

حقیقت دادی چې داسلام دبې وزله طبقاتودستونزودحل په خاطرځوارلس پېړی دمخه خپله طرحه اعلا ن کړې ده په اروپاکی دسلوکالوراپدېخوادکاریگروله حقوقو ددفاع انگازې لگېدیاسلام دبشري تمدن له کاروان سره اوږه پراوږ ه خپل مزل ته ادامه ورکوي مثال یې په جسم کې دروح اودکایناتولپاره دلمردی موږ به دتکافل په اسبابواووسایلو بحث وکړو،

ترځوکاریگر،بې وزلان ان ، کروند گرداسلام داجتماعي عدالت په طرحې پوه شي. دتکافل دوسایلو تحقق په دووشیانو پورې تړلي دی مومي لومړی ټولنه اودویم دولت.

**لومړی : دټولنې مسؤلیت**

هېڅ یودولت نه شي کولی چې دټولنیز تکافل په برخه کې خپل مسؤلیت ترسره کړي ترڅوپورې چې دټولنې ټول وګړي دټولنیز عدالت اودانفاق فی سبیل الله په چاروکې یوبل ته دمرستې ، اوتعاون لاسونه سره ورنه کړي ،اسلامی ټولنه دټولنیزتکافل په برخه کې دوه ډوله مسؤلیتونه لري لومړی دوجوباولزوم په بنه دویم دنفلي خیراتونواواستحباب په بنه

- **دلزوم اوفرضیت په بنه**

دفرضیت په بنه دمسلمانانومسؤلیتونه په لاندې توګه دي ۰

**۱-زکات**

زکات مالي عبادت اوداسلام دریېم رکن دی فرضیت یې په قران عظیم الشان اونبوي سنتوثابت دی. زکات سرو اوسپینو زرو ،بانک نوټونو ،حیواني ثروت، نباتي محصولاتو، سوداګریزسامان اوداسې نوروته شامل دی. دزکات په وسیله دفقر اوغربت تخرتولېږي خلکوته دکار زمینه برابرېږي اوټولنه دکینې اواخلاقی جرایمو څخه پاکوالی مومي .

**۲- نذرونه :**

لکه چې یوڅوک یې په خپل ځان لازم وګرزوي دمثال په توګه چې یوڅوک ووایي که چېرته زما دغه حاجت پوره شودالله تعالی درضاپه خاطر به دنذرپه توګه دومره پېسې په یې وزلانو توزیع کوم. په نذ روفاالازم کاردی

**۳- کفارې**

چې دشرعي مخالفتونوپه نتیجه کې په مسلمان لازمي ګرزې لکه دحج داحرام په حالت کې په ښکارلاس پورې کول دشیخ فاني لپاره درمضان دروژوکفاره ،دظهار کفاره داحرام په حالت کې دسرډخریلوکفاره درمضان دروژې په قصدي دخوراک کفاره

**۴- اضحیه اوقرباني**

چې دلوی اختر دلمانځه نه وروسته صورت نیسي اووجوبي بڼه لري

**۵- درمضان دمیاشتې سرسایه**

چې دکوچني اخترترلمانځه دمخه اداء کېږي

۶- دغنیمتونو اورکازپنځه برخه

- **دنفلواواستحباب په بنه**

نفلي اواستحبابي خیراتونه دادي

۱ -خیري وقف ،وصیت، ضیافت اومېلمستیا ،عاریة،ایثار،دالی هبه اوبخشش

**دویم-داسلامي دولت مسؤلیت**

اسلامي دولت دبې وزلانوسره دمرستې په اړه دوه ډوله مسؤلیتونه لري.

- دبیت المال دسرچینو تشخص
- په خپلومستحقینو یې وېش

اسلامي دولت ته لازمه ده چې دمالي وزارت نه پرته دزکات وزارت جوړکړي په مرکز،ولایاتواوولسوالیو کې بشپړ اداري تشکیل ولري په هرکلي اوبانده کې دزکات مستحقین تشخیص اودهرې سیمې زکات همالته دمعاش په بنه توزیع کاندي دزکات مستحقین دې کته گوري کړي چې دکاروړتیا ولري هغوی ته دې کوچنۍ تولیدي پروژې جوړې کړي ترڅوپه راتلونکي کې له زکاته مستغنی وگرزي.

**۲-۴-۱-داسلامي اقتصادسرچینې**

- **قران کریم**

داسلامي اقتصاددبنسټیزواصولولومړنۍ سرچینه ده هغه سپېڅلي اصول اوقواعدچې تل ترتله ثابت قایم اوتل پاتې دي دژوندانه په بېلابېلواړخونوکې اسلامي اقتصاد په قراني لاربښونوولاړاوټینگ دی.په حقیقت کې قرانکریم په اجمالي(غیر تفصیلي )توگه دغواحکاموته شامل دی.

- **نبوي سنت**

نبوي مبارك حدیثونه دلومړۍ سرچینې لپاره د بیان اوتفسیرحیثیت غوره کوي الله عزوجل فرمایي

﴿وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ژباړه:اوتاته مونږ یعنې قرانکریم نازل کړی دی ترڅویې خلکو ته هغه لاربښوونې څرگندې کړې چې ددوی دهدایت لپاره نازل شوي اودوی ته ښایي چې په کې فکروکړي.

په نبوي سنتوکې په زرگونوداسې حدیثونه گوروچې داقتصادي بېلابېلوفعالیتونولکه کسب،لگښت،اخیستلواوپیرودلوپورې ارتباط لري بیان شوي دي

- **اجتهادي سرچینه**

اجتهاددپورتنیوذکرشویودوومنابعولپاره دسرپوښ حیثت غوره کوي اجتهادته هلته اړتیااحساس پیداکېږي چې دقضایاؤدحل په جهت کې څرگنداوواضح حکم موجودنه وي.

نو پردې اساس موږ په خپل دین کې دوه شیان لرو

**۱-ثوابت**

ثابت احکام له قران عظیم الشان اونبوي سنتوڅخه عبارت دي چې هېڅکله تغیرنه خوري ترڅونږي ودانه وي په هروخت کې داعتماداومنلووړدي دغه رواوناروااقتصادي فعالیتونوته شمولیت پیداکوي لکه سود،غلا،غصب ،احتکارعام اوخاص ملکیت، روابیې،مضاربت،مشارکت،اجاره،بزګري کرکیله اوداسې نور.....

**۲-متغیرات**

متغیرشیان چې په ثابتواصولوتکیه مومي حراماوحلالوپورې اړه نه پیداکوي په دې کې لنډاواوږدمهاله پلانونه،پرمختللي اسلوبونه ،نوی دفتري سیستم اونورفنون شا مل دي.

### ۲-۴-۲- داسلامي اقتصادڅخه دغفلت اسباب

په اسلامي هیوادونوداستعماري کفري ځواکونوغلبه اوتسلط.دسودي موسسواوبیمه شرکتونوایجاد.په بانکونواونظام ددوی واکمني په تعلیمي اوتحصیلي اداروددوی تسلط.په تعلیمي نصاب ددوی واک.متخصصینوته لنډمهاله اواوږدمهاله بورسونه . لوړه ،فقر،پوروړتوب،دصحیح پلان نشتوالی.ددیني اوعصري علوموترمنځ واټن رامنځته کول.لهحکومتي سیستم نه ددین ګوښه توب.ددیني متخصصینوانحصاردجومات ترګوټه پورې.په قضایي نظام ددوی واکمنی،اسلام پسې بدپروپاګنداودځوان نسل په اذهانوکې شکونه اوشبهات رامنځته کول .په مسلمانانوکې مذهبي اوژبني اختلافات رامنځته کول له یووالي څخه دمسلمانا نوبې برخې کیدل داځکه چې پیاوړی اقتصاددیووالي بنسټ ګڼل کېږي.ترازادۍ وروسته ددوی دنوکرانوواکمني . دمسلمانانوخپل منځی شخړې ،جهل اوناپوهي ددې باعث شوه چې مسلمانان خوارپاتې شي، په نتیجه کې دټول دین معطل ګرځېدل اوداسلامي نظام له مزایاؤ(ښېګڼو)اوبرکتونوڅخه دامت محرومیت دغه ټول داسلامي اقتصادڅخه دغفلت اسباب دي

**لنډیز**

۱ -داسلام اقتصادي نظام په درې پایو اوارکانو ولاړ دی :دوه ګونی اقتصاد ي ملکیت فردي اوجتماعي ، مقیده ازادي اوټولنیزتکافل

۲ -په کمونستی نظام کې اجتماعي ملکیت وي مګرپه کاپیټالستي کی فردي، په اسلام کې دواړه وي

۳ -په کمونستي اوکاپیټالستي نظام کې په مصرف کې ازاد ي وي؛ مګرپه لاسته راوړلوکې یې په کمونستي نظام کې ازاد ي نه وي په اسلام کې دملکیت په لاسته راوړلو اومصرف دواړوکې

دحرامو اوحلالو قيودات دي .
۳ - دټولنيزتکافل دليل قران کريم اونبوي سنت دي
۴ - تکافل ګڼ ډولو نه لري لکه ادبي ،علمي ، سياسي ،دفاعي ، اخلاقي ، اقتصادي، تمدني، اجتماعي اوداسې نور ......
۵ - ټولنيزتکافل په اسلام کې دنبوت دځلاند ه دوراودخلافت راشد ه له دورڅخه راپدېخوا تاريخي مخينه لري .
٦ - اجتماعي تکافل ته شامل وګړي ماشومان،يتيمان، مزمن ناروغان، منحرف ماشوما ن کونډ ې بوډاګان، غم ځپلي ، مسافر، بند يان ، پوروړي ، طالبان اومجاهدين دي
۷ - په اسلام کې دتکافل دتحقق عملي وسايل لومړی دټولنې مسؤليت
الف : دلزوم په بڼه لکه زکات اوعشر،نذرونه ، کفا رې ،سرسا يه اوقر باني
ب : داستحباب په بڼه: خيري وقف ، ضيا فت ، عارية، ايثا رډالۍ اوداسې نور ...
دويم ددولت مسؤليت لومړی دبيت الما ل دسرچينو تشخيص اودويم دمتخصصينو تشخيص اوپرې توزيع .
۸ - داسلامي اقتصادقا نوني بنسټونه :لومړ ی ثوابت اودويم متغيرات
۹ - داسلامي اقتصادسرچينې : قران کريم ،نبوي سنت اواجتهاد
۱۰ - داسلامي اقتصاد څخه دغفلت اسباب : داستعما اوددوی دنوکرانوتسلط، په بانکو نو اوبيمه شرکتونوددوی غلبه، په تحصيلي ادارو،پوهنتونونوددوی واک، لوړ ه ، پورونه، دعصري اوديني عالمانوترمنځ واټن، ددين بې واکه ګرزول په کې شامل دي .

پوښتنې :

۱ - داسلام داقصاد ي نظام ارکان اوپايې وليکئ .
۲ - ټولنيز تکافل راوپيژ نئ.
۳ - دمقيدې ازادۍ مطلب څه شی دی،؟
۴ - دتکافل ډولونه وليکئ .
۵ - ټولنيزتکافل کوم افراد شامل دي؟
٦ - دلزوم په بڼه دتکافل دوسايلو نومونه واخلئ .
۷ - دتکافل په اړه ددولت مسؤليتونه وليکئ .
۸- داسلامي اقتصاد قانوني بنسټونه ثوابت اومتغير ات شرحه کړئ.
۹ - داسلامي اقتصادسرچينې وليکئ . ۱۰ - داسلامي اقتصاد څخه دغفلت اسباب وليکئ .

# دریيم څپرکی

## داسلام داقتصادي نظام خصوصيات

**پیلیزه**

اسلامي اقتصاد رباني اوالهي سرچينه لري اودوحی څخه خړوبېږيدبشرافکاروته په کې دخل نشته په اسلامي عقيدې اخلاقو،حلالواوحرامو استوارشوی په داسې ځانګړتياءومشتمل دی چې هيڅ نظام ورسره سيالي نه شي کولی دلويديزاوسنيوپوهانو همدغه اعترافات کړي دي چې داسلام اقتصادي نظام جلااوځانګړی نظام دی چې له شرق اوغرب سره هيڅ تړاؤ نه لري ددغه څپرکي موخې داسلام داقتصادي نظام خصوصيات له اسلامي اقتصادسره دعبادت اړيکې دي.

**۳-۱- خصوصيات يې**

- **الهي سرچينه درلودل**

داسلام داقتصادي نظام سرچينه الهي وحی اوقران عظيم الشان او نبوي سنت دي چې دمکان اووخت په بدلون سره تغيرنه خوري البته اجماع اوقياس يې فرعي سرچينې دي مګرله اسلامه پرته دنورونظامونوسرچينې بېلابېل بشري افکاراو نظريات دي چې ثابته بڼه نه لري.

- **په اعتقادي بنسټونوټينګښت**

داسلام اقتصادي نظام په خپلو قوانينو اواساساتوکې په اسلامي عقيد ې ټينګښت مومي په ټولوتصرفاتوکې به الهي لارښوونې اوهدايات په نظرکې نيسي .

- **رباني هدف**

داسلامي اقتصاد مقصد داسلامي شريعت مطابق دفرداوټولنې داړتياووپوره کول دي په اسلام کې اقتصاد وسيله ده نه هدف دمؤمن مسلمان دژونداسره او ستره موخه داخرت کاميابي اودالله تعالی رضا ده.

- **اخلاقي لوړتيا**

داسلام اقتصادي نظام په اسلامي اخلاقي اصولو اومعيارونو ولاړدی لکه صداقت ، امانت اوپه ټولو په اقتصادی معاملاتوکې دحلالومراعاتول دلته دحلالواوحراموچوکاټ دی دغرب سرمايه داري نظام دمال په لاسته راوړواولګښت دواړوکې بې چوکاټه دی مګر مارکسستي نظام دمال په لاسته راوړو کې دازادی څخه برخمن نه البته په لګښت کې دحلالواوحراموقيودنه لري.

- **اقتصاد داسلام دشامل نظام دبرخې په حيث**

شرقي اوغربي اقتصادي سيستمونه دواړه له دين څخه جلا؛ مګر په اسلام کې اقتصادداسلام دسپېڅلي دين برخه ده . داسلام اقتصادی نظام يوشامل اوهراړخيزنظام دی چې دبشر اخلاقي، روحانی مادي غوښتنو لکه کور،کالي ،ډوډی ،دوا،ښوونې اوروزنې اوروغتيا ته مثبت ځواب وايي اوله فقر اوغربت سره بشپړه مبارزه کوي اوهرچاته دابرومندانه ژوند تېرولوشرايط برابروي

- **دوه ګونې څارنه**

په نړۍ کې هريوبشري نظام اساسات اوقوانين لري چې تطبيق يې دڅارنې يوستر نظام ته اړتياپيداکوي البته په اسلام کې اقتصادي فعاليت دوه څارونکي لري چې يو يې ايماني داخلي احساس اوبل يې بشري قانوني څارنه ده .داسلام په تاريخ کې بشري قانوني څارنه له هجرت نه وروسته په مدينه کې داسلامي رياست ترجوړېدووروسته رامنځته شوه رسول الله به پخپله دبازارڅارنه کوله دمکې تر سوبې وروسته يې هلته په بازارونو څارونکي ټاکلي ؤ. له رسول الله څخه داحسان په هکله پوښتنه شوې وه هغه ورته داسې ځواب ورکړی ؤ.دالله داسې بندګي کوه ګويا ته هغه وينې که هغه ته نه ګورې هغه تاويني

- **دثوابتو اومتغيراتويووالی**

په اسلامي اقتصادکې مورږ ثابت شيان لروچې هېڅ تغيراو بدلون په کې نه رامنځته کېږي لکه دسود ،احتکار ،غلا ،غصب اودقمارحرمت ،همدارنګه دبيې جواز ،دزکات نصاب اودتوزيع مستحقين يې ،ميراث اوداسې نور... البته اجتهادي برخه يې لکه اوږده او لنډ مهاله پلانونه ،زراعتي پلان ،صنعتي پلان ،انکشافي پلان ،سوداګريز پلان اوداسې نورتر اجتهاده پورې اړيکه لري په دې برخه کې اسلامي شريعت ارت ډګر پرېښی دی.

مګرداسلام پرخلاف نورې اقتصادي تګلارې تل دبدلون په حال کې دي هلته په لويديزاقتصاد کې ګورو چې ادم سميث دريکاردواو هغه له مالتس اولوردکينز نه جلا افکار لري همدارنګه مارکسستان هم ګڼ افکار لري لينن له مارکس اوستالين له لينن نه اوماءوزيتونګ له ګورباچوف نه جلا نظريات

- **دروح او مادي توازن**

انسان له روح اومادي څخه مرکب دی الله تعالی دخپلو بندګانو په مادي او معنوي دواړو برخوپه مصلحت اوګټو ښه پوهېده نو ددواړوبرخومتوازن بندوبست يې کړی دی.

- **دټولنې او فرد توازن**

داسلام اقتصادي نظام دعامه اوخاصه ګټوترمنځ توازن ساتلی ترڅويوپربل تېری ونه کړي پانګواله نظام په فردي ازادۍ باوري ده اوکمونېزم په ټولنيزومصلحتونوترکيزکوي داسلام اقتصادي نظام دفردي اوټولنيزوګټوپه موازي ډول حمايه کوي نه پرېږدي چې يو پربل تېری وکړي.

- **دشتمنۍ عادلانه وېش**

چه په وسيله يې ډېر تفاوتونه له منځه ځي لکه دملکيت دلاسته راوړلو ناروالارې چارې ، سود ،احتکار قمار خيانت، دوکه اوداسې نور ..اوهم دداسې قوانينوجاري کول چې دثروت اوشتمنۍ دتجزيه کېدو لامل وګرزي لکه د ميراث قانون چې ديوشخص مال اوثروت دډېر وخپلو انو ترمنځ وېشل کېږي دداسې قوانينو په نظرکې ساتل چې په ټولنه کې دثروت دوېش سبب ګرزي لکه زکات اوپه مسکينانو دپيسو وېش درواخله

- **له واقعيتونو سره سمون**

اسلامي اقتصادپه خپلو اساساتو او تګلارو کې دبشر-له عملي واقعيتونو سره تعامل کوي اوله بشري فطرت سره سمون لري فردي ملکيت دبشرفطري غريزه ده دمال مينه دبشرپه زړه کې ځای لري له همدې امله کمونستي نظام دبشرله فطرت سره سمون نه درلود نوځکه ړنګ شوپه همدې توګه دلويديزماده پال اقتصاد له بشري واقعيتونوسره سمون نه خوري ځکه دغه اقتصاد وګړي په بېلابېلو طبقاتووېشي اوديوبل وينوته يې کښېنوي،کرکه،حسد،کينه،عداوت،بېکاري او غلامي ددغه نظام ستره ځانګړنه ده.

- **نړی وال توب**

اسلامي اقتصادي نظام نړی وال دهروخت اوځای له ظروفو شرايطو سره سمون لري ټول ملتونه او بشريت په خپله له شفقت نه ډکه غېږ کې نيسي-دقران خطاب نړی وال او داسلام دستر پيغمبررسالت نړی واله بڼه لري.نوپردې اساس داسلام اقتصادي نظام درسول الله دستر پيغام برخه اودټولو ملتونو دستونزو دحل ضامن دی

### ۳-۲-له اقتصادسره دعبادت اړیکې

داسلام سپیڅلی دین دبشري ژوند ټول اړخونه رهبري کوي لکه عقیده اوفکر، عبادت ، اخلاق اومعاملات، کورنی نظام سیاست جنگ ، سوله ، نړی والې اړیکې دجزاء قوانین اواقتصادي مسایل اودخلکو دژوندنیواړتیاءوپوره کول ....نو پر دې اساس هریوحکم اگرکه دنیوي هم اوسي چې حلال او حرام په کې مراعات شي عبادت گڼل کېږي.

### ۳-۲-۱- دقران عظیم الشان په رڼا کې

په قران عظیم الشان کې فردي ملکیت ، رواکاروباراوسوداگري،حلاله روزي گټل اوحلال خوراک ته مسلمانان هڅو ل شوي په همدې توگه په نارواتصرافاتوسودي راکړ ې ورکړ ې اسراف، تبدیزاوپه بخل بند یزلگول شوي همدارنگه دلمانځه داداءکولونه وروسته دحلال رزق په طلب مسلمانانو ته امرشوی اودحج په سفرکې سوداگري جایزکاراو رواعمل گڼل شوی .

### ۳-۲- ۲- دنبوي احادیثوپه رڼا کې

دپیغمبرصلی الله علیه وسلم دگڼووینا ءوکې دحلال رزق دلاسته راوړلـو مدحه شـوې همدارنگـه تجارت اوسوداگری، ته خلک هڅول شوي په احتکاراودعرضې اوتقاضـا پـه نظـام واکمنـي نـاروا عمل گڼل شوی حلاله روزي گټل دمؤمن مسؤلیت گڼل شوی.موږ به دنمـونې پـه توگـه یـو څـو روایات رانقل کړو .

### ۳-۲- ۳-دعبادت مفهوم

عبادت یوجامع نوم هر هغه کارته شامل دی چې الله تعالی پرې راضی کېږ ي له اقوالو ، باطني اوظاهري اعمالو څخه لکه لمونځ ، روژه ، زکات اوحج ، ریښتیاویل دامانت پرځای کول له موراوپلارسره نېکي ، له خپلو انو سره دخپلولی پایل په وعده وفا ، امربالمعروف اونهی عن المنکرله کافرانو سره جهاد له گاونډ ی ، یتیم ، مسکین ،مسافر، نوکراوچارپایانو سره احسان حلاله روزي گټل ،په عدل اوانصاف لاس پورې کول الله اورسول سره مینه ، صبر ،شکر ، توکل دالله تعالی درحمت هیله مندي اوله عذابه یې وېره ټول عبادت شمېرل کېږي.

### ۳-۲- ۴-ددین راهبانه تصور

په شرکي بت پالو مذهبونوهند وئیزم ، بودیزم اومسخه شوي نصرانیت کې دین اودینې چارې یوازې درمسال اوکلیسا پورې مربوطې وي، دنیو ي چارې له دین څخه ازادې وي په اقتصاد ، سیاست ټولنې ، قضاء ښوونه اوروزنه کې دین بې واکه وي دغه سیکولر اولادینه تصوردی.

### ۳-۲- ۵-ددین اوعبادت اسلامي تصور

داسلام دین یوازې دفردارېکې دالله تعالی سره نه تنظیموي بلکې قران کریم دټول ژوند دتنظیم لپاره بشپړالهي پیغام دولسونو، ملتونو اوتمدنونو دلاربښو ونی په خاطر نازل شوی داسلام سترلاربښوددپیغمبرانودقافلې سردارمحمد صلوة الله وسلامه علیه دژوند دټولواړخونولاربښودؤ،نوپردې اساس یومسلمان چې په سوداګری په صدق اومانت لاس پورې کوي ښه سودابازارته رواړي اوپه ښه نرخ یې خرڅوي یوسیاستو الواوحکمران چې په عدل اوانصاف لاس پورې کوي ، ملي امانتونه ساتي اومدیریت کوي یې دمظلوم نه دفاع اودظالم لاس لنډ وي اوپه شریعت پرېکړ ې کوي یوه ورځ په دفتر کې ناسته یې پیغمبر صلی الله علیه وسلم دشپېتو کلونو دعبادت څخه غوره بللې ده .همدارنګه یوطبیب په خپله معاینه اویوبزګرپخپل پټي اوباغ کې دلمانځه په التزام سره داسې دی لکه چې په عبادت بوخت وي

### ۳-۲- ٦- دمسلمانانو دذلت اوخوارۍ لامل

مسلمانان هلته خوار اوذلیل وګرزېدل چې دین یوازې په عباداتو کې منحصرپاتې شواودژوند له دګره ګوښه وګرزېد هرکله چې مسلمانان اقتصادي لحاظ نه پرمختللي اوپه خپل ځان بسیا ؤ،نواسلام ځواکمن ؤ مګر څه وخت چې مسلمانان اقتصادي لحاظ نه کمزوري اووارداتی وګرزېدل نودسترودولتونونوکران پاتي شول.

### ۳-۳-راشد خلیفه ګان اواقتصادي چارو ته اهتمام

یوځل عمرفاروق رضی الله عنه دیوښارڅخه لیدنه کوله هلته زیاتره اقتصادي چارې دنامسلمانو وګړو یعنې ذمیانو په لاس کې وي مسلمانانو ته سخت په غوسه شو اوپه ډېره تهد ید امېزه لهجه یې ورته ډېرې سختې خبرې وکړې مسلمانانوورته په ځواب کې وویل دوی زموږ خادمان اوالله تعالی موږ ته تابع ګرزولي دي .په ځواب کې یې ورته وویل هېڅکله داسی نه ده تاسو ددوی نوکریاست داځکه چې ځواکمن هغه څوک وي چې په تولیدلاس پورې کوي اوکمزوری

پورې کوي اوکمزوری شخص مستهلک اومصرفی وي اومصرفي کمزوری ګڼل کېږي.
داځکه چې تاسې څه مهال یوسامان په بیه اخلی پخپله یې نه لری نودهغوی چې څنګه یې
زړه وي دربا ندې خرڅوي یې دزرروپیوشی درباندې په شل زره پلوري.
دافسوس خبره ده چې اوس مهال مسلمانان خوراک ،لباس پوښاک ، ماشین الا ت ، دوا هرڅه
له کفري هېوادونو واردوي لازمه ده چې موږ په هرڅه کې ځواکمن واوسولکه په طبابت ،
مهند سي ، انجینري ،تجارت ،صنعت اوداسې نورو چارو کې نن ورځ دلویدیز والوسره دعلم
ځواک دی په نړۍ والو باداري چلوي دګڼو ملتونوسیاست اواقتصاددوی څرخوي له همدې
امله یې دمسلمانانو، ثقافت، اخلاقواودین ته زښت زیات زیان ورساوه نوپردې اساس دغه
ټکی دپرد غوروږ دی چې اقتصاددین برخه ده

## ۳-۴-داوسني مسلمان مسؤلیت

موږ ته لازمه ده چې په اقتصادي اومالي لحاظ پیاوړي په علمي لحاظ لوړ اودخپل ژوند په
ټولو شؤناتو اوچارو،لباس ، خوارک ،څښاک،په کور، اولاد اوخپلې مېرمن سره په تعامل کې
منظم واوسو موږ دځمکې په ابادولو ګومارل شوي یوترڅو چې موږ په اقتصا دي لحاظه
فوقیت ترلاسه نه کړو اوخودکفاء ونه ګرزوهېڅکله به موږ دین خلکو ته ددرناوي وړونه
ګرزووباعمله ، بافرهنګه اباداوازاد ملتونه سرلوړي وي .

## لنډیز

۱- داسلامي اقتصاد خصوصیات اوځانګړ نې : ربانیت اوالهي سرچینه درلو دل شمول ، دوه
ګونې څارنه، دثوابتواومتغیراتویووالی ،دروح اومادې توازن،دټولنې اوفرد توازن، دثروت عادلا ،
نه وېش ،له واقعیتونوسره سمون، نړی وال توب.
۲ –له اقتصاد سره دعبادت اړیکې: داسلام دوه ارکان زکات اوحج مالي عبادت شمېرل کېږ
ي داسلام سپېڅلی دین دبشري ژوند ټولاړخونه رهبری کوي دمؤمن دژوند هره برخه اګرکه
دنیو ي هم واوسي چې دالهی حکم سره سم ترسره شي عبادت ګڼل کېږي.
۴- په اسلام کی عبادت یوجامع نوم دی هرهغه کارته شاملېږي چې الله تعالی پرې راضی
کېږي

## پوښتنې

۱-داسلامي اقتصاد خصوصیاتوکې ۱- ربانیت۲-دټولنې اوفرد توازن۳-نړی وال توب شرحه
کړی

# څلورم څپرکی

## له نوروнظامونوسره داسلام داقتصادي نظام موازنه

**پیلیزه**

دشلمي پېړۍ په نیمايي کې نړۍ په دووبلاکونوشرقي اوغربي ووېشل شوه په اسلامي نړۍ کې فقر،جهل بېوزلي، نیستي اوطبقاتي سیستم حاکم ؤداسلام تولوډښمنانوپه اسلام پسې په پروپاګندلاس پورې کړچې دغه دین یوازې دفرداړیکه له خپل رب سره تنظیموي له اقتصاداوسیاست سره یې کارنشته دمسلمانانوځنې اولادونه له دغو افکارواغیزمن شول ځنو اسلام غرب اوځنو شرق پورې وتړلو په داسې حال کې چې اسلام جلااقتصاد ي نظام لري اودوحی له سرچینې څخه خړوبېږ ي ددغه څپرکي زده ئیزی موخې دفیوډالي ،کاپیټالستی،کمونستی، سوسیالستي ،مختلط نظام اوداسلام داقتصادی نظام ترمنځ مقایسه اوپرهغونیوکه ده

**۴-۱-۱-داروپا فیوډالي نظام ( Fuddle system)**

فیوډالي نظام دی چې په رومي ملت کې سابقه لري ډېرپخوانی اقتصادي زوړ اوفرسوده سیستم فیوډالي نظام اصلی امتداددلسمي میلادي پېړۍ څخه تر په توله اسیا افریقا اواروپاکې رایج ؤددغه نظام اصلی امتداددلسمي میلادي پېړۍ څخه تر شپاړلسمې میلادي پورې غځول کېږي په منځنیو پېړیوکې اروپایي ټولنه په درې طبقو مشتمله وه ۱:داشرافواوخانانو طبقه ۲:دغلامانواوبې وزلوطبقه ۳: دکلیسادیني شخصیتونه

**۴-۱-۲- داشرافو طبقه**

داشرافواوخانانوطبقې میراثي شکل درلود ځامن به یې له پیدایښته ترمړینې پورې اشراف ؤ دوی ځانګړی امتیازات درلودل ،داروپاخان خانی نظام نه یوازې داچې پراخه په زرګونه جریبه ځمکې یې په لاس کې وې بلکې سیاسي اقتدارهم له دوی سره ؤ خپل قاضیان،دفتر،اداري نظام اوپیسې یې درلودې مګر له یوه ښاره تربله یې جلا نظام ؤ،په نهمه میلادي پېړۍ کې دانګلستان پاچافریداعظم ویلي ؤ الله تعالی انسانان دمثلث به بڼه پیداکړي دي یوه ضلعه یې حاکمه ده اوبله یې عابده ده اودریمه یې خادمه ده حاکمه طبقه به واکمنه وي اوعابده طبقه دیني شخصیتونه دي دوی به یوازې په عبادت لاس پورې کوي اولاندېنۍضلعه دغلامانو او خدمتګارانو ده دوی به تل په چوپړ کې اوسي.

**۴-۱-۳-دغلامي اسباب**

غلام اودغلام اولاداودده ټوله شتمني دخان ملکیت ګڼل کېده اودهېڅ رنګ ازادی څخه برخمن نه ؤ په رومي تمدن کې غلامان ترمرګه پورې غلامان ؤدځمکې په خرڅون سره به یې دغلام،مېرمن،اولادونه اوڅاروي هم ورسره یوځای خرڅول، خانان به په قصرونو کې اوسېدل

مگرخوارغریب غلام به دژمي په موسم کې لـه خپلې مېرمن ،اولادونواوځارویوسره یوځای پـه ختینوکورونوکې ژوند ترسره کاؤ

**۴-۱-۴-لاملونه او اسباب یې**

دهغه ځای شتمنو به دبزگرانو څخه په جګړو کې دګډون غوښتنه کوله نوهغوی به دجګړوڅخه انکارکاؤ او ویل به یې چې دخان دغلام په توګه به ژوند ترسره کوي خوپه جګړو کـې برخـه نـه شي اخیستلی .کله به چې یوبزګرېبوزله شوپه خان به یې دپیسوپه مقابل کـې ځـان خـرڅ کړ،پـه جګړوکې نیول ،فقراودپورعدم وفا،دجرایموسرته رسول لکه غلااوقتـل .اختطـاف اوبنـدي تـوب ،داشرافوطبقې تـه دبـدی رسـولوپه سـبب .پـه روم ،فـارس ،هنـد ،چین ،یونان،اونوروملتونوکې لـه غلامانوسره وحشي سلوک کېده.

**۴-۱-۵-غلامي دڅه په خاطر؟**

ددې په خاطر چې خانان او شتمن دعیش اوارام ژوندوکړي ښه لباس واغوندي ،ښه خوراکونـه وخوري ،شراب وڅښي دښځینه ؤدنڅالوی لوی محفلونـه جـوړکړي ددې کاردسرتـه رسـولولپاره یې دنوروخلکودوینوڅښلوڅخه پرته بله چاره نه درلوده .

**۴-۱-٦-له دوی سره دسخت چلند بېلګې**

غلامانوبه په باغونوکې په داسې حال کې په کارلاس پـورې کـاوه چـې دتیښـتې نـه دژغـورنې پـه خاطربه یې زولنې په پښوکې پرتې وې دومره خوراک به یې ورکاوه چې سـاه بـه یـې پـرې سـاتله اودځارویوپـه سـترګه بـه یـې ورتـه کتـل دکارپـه مهـال یـې پـه قمچینووهـل اولـه دې نـه بـه یـې خونداخیسته ،په داسې جیلخانوکې به یې اوسول چې بدبوی به یې درلودپه هره خونه کې بـه یـې شمیرپنځوسوته رسیده ،غلامانوته به یې توري په لاس ورکړې ترڅویوبل ووهي دوی به ورتـه پـه کتونوناست اوننداره به یې کوله او څټ څټ به یې خندل اولاسونه بـه یـې ورتـه پړقـول ،رومـاني قانون خانانوته دخپلوغلامانودتعذیب ،تسخیراوؤژلوحق هم ورکـړی ؤهغـوی دشـکایت حق نـه درلود په دغه نظام کې غلامانوته دځناوروپه سترګه لیدل کېده

**۴-۱-۷-دغلامۍ مراسم**

دخانانواوملکـانو لـه خوادبزګرانـودغلامۍ دغـه مراسـم بـه پـه خاصـواوځانګړوغونډوکې سرتـه رسېدل په دې توګه چې خان اوملک به په چوکۍ ناست ؤغلام بـه سرتورسر ،خـان تـه پـه سـجده پرېووت اوبیابه یې سراپورته کړ اوپه لوړ اوازبه یې ژمنه وکړه چې دخـان ټولـو شرایطو منلوتـه تیاردی خان به له خپل ځایه راولاړشواویو موټی خاورې به یې دده په لاس کې ورکړې

البته دلته ځيني نورازاد بزګران هم موجودؤ چې په ځمکه کې به يې کرکيله کوله چې ځلورسلنه يې تشکيلوله په رومي تمدن کې غلامان ترمرګه پورې غلامان ؤ دځمکې په خرڅون سره به يې دغلام ،مېرمن ،اولادونه اوڅاروي هم ورسره يوځای خرڅول، خانان به په قصرونو کې اوسېدل مګر خوارغريب غلام به دژمي په موسم کې له خپلې مېرمن ،اولادونواوڅارويوسره يوځای په ختينوکورونوکې ژوند ترسره کاؤ

### ۴-۱- ۸- مسؤليتونه يې

دکال په ټولو ورځوکې کارکول دلاروجوړول ،دکوهيانوويستل ،دمېچن اوژرندې ګرځول ،په اولاددتعليم نه کول دخپل غلام له مېرمن سره دواده لومړی شپه تېرول اوکه خوښه يې شي بل چاته يې په کرايه ورکول ترمړينې وروسته دبادار له خوا ميراث وړل دکال په دوران کې کليساته دوه ټکسونه ورکول.

### ۴-۱- ۹- دکليسا ديني شخصيتونه

دوی به ځانګړی لباس اغوست له خلکو به يې جلا ټکسونه اخيستل اولښکرې به يې هم درلودلې تردې چې شاهان به يې دقدرت په ګدۍ کښېنول ،خلکوته يې دجنت ټکسونه ورکول اوويل به يې چې دوی دالله تعالی نمايندګان دي اوهره خبره يې دالله تعالی څخه نمايندګي کوي

### ۴-۱-۱۰- دغلامۍ دنظام دزوال اسباب

دغلامۍ دنظام په ړنګولو کې لاندې عواملواساسي رول درلود.

- په صليبي جګړوکې لس زره غلامانو ګډون کړی ؤدغه کاردوی خپلسري وګرځول.
- دسوداګرۍ احياء اوښارونوته له کليوڅخه دغلامانوتېښته .
- لويوخانانوخپل ټول غلامان له ځمکوراوشړل ځکه دغلامۍ نظام دوی ته غيراقتصادي ؤدځمکې دکرکيلې لپاره يې نوي وسايل اوخلک په کاروګومارل .

په اروپاکې دصنعتي انقلاب په رامنځته کېدوسره داشرافو،خانانواوفيوډالي طبقې ځای دبورژواطبقې(کوچنيوپانګوالو)ونيو. دغه داروپا وحشيانه غيرانساني طبقاتي نظام ؤچې دغبرګون په سلسله کې يې کمونېزم وزېږولو

### ۴-۱-۱۱-طبقاتي نظام داسلام په تله

داسلام سپېڅلی دين طبقاتي نظام په رسميت نه پېژني داسلام په تله هغه شخص دعزت خاونددی چې تقوی اوپرهېزګاري ولري په همدې توګه اسلام دميراث نظام ټينګ کړی چې ديوشخص ترمړينې وروسته دهغه دپانګې دخپرېدالامل ګرځي نوپه اسلام کې فيوډالي نظام ته ځای نه پاتې کېږ ي همدارنګه په اسلام کې دحاکميت اوقانون واګې دالله تعالی سره دي

هېڅوک حق نه لري چې خپل ځان خرڅ کړي اويادنوروخلکو په اخيستلولاس پورې کړي په اسلامي فقه کې چې دکوموغلامانو اووينزوذکرراغلی دی هغه دجگړې اسيران دي چې دخلاصون لپاره يې اسلام بېلابېل سيستمونه وضعه کړي دي

**۴-۱-۱۲-دغلامۍ پروړاندې داسلام دريز**

داسلام روڼ سهارپه داسې وخت خپلې وړانگې نړۍ ته خپرې کړې چې دغلامۍ نظام دنړۍ په گڼوملتونوکې جريان درلود.اسلام دغلامۍ ټولې لارې وتړلې يواځې دجگړې بنديان پاتې شوه دجنگ دبنديانوغلامي له پخواڅخه روانه وه داښه پاليسي نه وه چې دمسلمانانوبنديان دوی په غلامۍ محکومولی اومسلمانانوددوی بنديان ورخوشې کړي واي مگرددوی دخلاصون لپاره يې بېلابېلې لارې خلاصې کړې داروپاطبقاتي نظام تل ترتله غلامي هېڅکله هم اسلام په رسميت نه پېژني، درسول الله ډېرملگري غلامان پاتې شوي ؤلکه بلال، سلمان ،صهيب ،زيدبن حارثه رضوان الله عليهم اجمعين اوداسې نور.. مگر وروسته بيااازادشوي ټول لوړمقامه شخصيتونه ؤ

## ۴-۲- سرمايه داري نظام (Capitalism)

**پېژندنه يې**

پانگواله يواقتصادي نظام دی چې دشخصي ملکيت دازادۍ پربنسټ يې داساس ډېره ايښودل شوې دمال په لاسته راوړلو اومصرف کې دهېڅ رنگ قيوداتوپابند نه وي دفيوډالېزم ځای نيوونکی ده.دتوليدټول وسايل ځمکې بانکونه،اوکارخانې ديوې کوچنۍ ډلې په لاس کې پرېږدي. نوسياسي ځواک هم دوی څرخوي اوداستعمارسرچينه گڼل کېږي دغه سيستم پانگوال هڅوي ترڅودخاموموادواودخپلو توليدشويوتوکودخرڅلاؤ لپاره بازارپيداکړي ؛نودجگړواورتودساتي هلې ځلې کوي ترڅوملتونه ښکېل کړي.

**۴-۲-۱- فکري بنسټونه يې**

دپانگوالې نظام اعتقادي اوفکري ريښه روماني فلسفه تشکيلوي دعيسی عليه السلام له ښوونوسره يې هېڅ تړاؤ نشته

**۴-۲-۲-درامنځته کېدو ظروف يې**

په شپاړلسمه پېړۍ‌په اروپاکې دصنعتي انقلاب په رامنځته کېدوسره فيوډالي نظام سقوط وکړاوپه سرمايه داري نظام بدل شو په فيوډالي نظام کې دتوليد وسيله ځمکه اوپه سرمايه داري نظام کې پيسې وي.

### ۴-۲-۳- وتلې څېرې یې

داتلسمې پېړی په منځنۍ برخه کې په فرانسه کې دازادمسلک (طبیعینو) دبنسټ ډېره کېښودل شوه ددغه مسلک دسترو شخصیتونودجملې څخه فرانسوکېزنی(Francoisquesna) ، جان لاک (Johonlocke) اومیرابو (Mirbo)دي ددوی په نظر فردي ملکیت دانسان فطري غریزه ده ازاده دې پرېښودل شي . ادم سمېت(A.smith) چې تر ۱۷۹۰ کال په سکاتلند کې اوسېده (ملتونه څنګه بډای کېږي ) ترسرلیک لاندې یې کتاب یې ولیکه بل نامتوشخصیت یې ریکاردو (Ricardo) اولورد کینز (Lord Keynes) دی چې تر ۱۹۴۶ کال پورې ژوندی ؤ دوزګارتیااوعملي مصروفیت په نوم کتاب یې ولیکه

### ۴-۲-۴- اقتصادي بنسټونه یې

- دتولید دټولووسایلو (ځمکې،پانګې اوکارخانو)فردي ملکیت .
- دمال په لاسته راوړلو اومصرف کې فردي ازادي
- دپیسو په لاسته راوړلوکې یوتربله سیالي او رقابت
- دقیمتونودعرضې اوتقاضاد نظام ازادي

ددولت دنده د اقتصادي فعالیتونه سانسورول دشتمنیوساتنه اوامن دی په دمزدوردعرضې اوتقاضاقانون جاري کول ددې لامل وګرځېده چې ښځې اونرټول کاروکړی په نتیجه کې ټولنیزې اړیکې وشرېدلې اوکورنی نظام له منځه لاړ

### ۴-۲-۵-عملي پایلې یې

۱-په اقتصاداوسیاست نفوذ: دوی دخپلوکمپنیو له لارې په خارجي بازارونو اودنورو هېوادونو په سیاست کې هم ګوتې وهي دوی دبین المللي استعمار لامل هم ګڼل کېږی دجګړو اورته لمن وهي ملتونه اودولتونه ترخپلې غلامۍ لاندې راولي

۲ – په پانګوالو اومزدورانو دټولنې وېش: په دې توګه چې دمزدورانو دلاس ګټه ددوی جیب ته ځي اوپه مزدوره طبقه دعرضې اوتقاضا قانون جاري کوي.

۳ - یوازې سرمایه دارله شخصي حریت څخه برخمن وي دخپل مال اوثروت په وسیله خپل طرزفکر اوحاکمیت تحمیلوي اوټولنه ترخپل کنترول اونفوذ لاندې ساتي.

۴-پانګواله طبقه په یو دولت کې بل دولت ګڼل کېږي دزرګونومزدورانو په رایو لوبې کوي اوکه رایه ورنه کړي له کاره یې ګوښه کوي اوهم لوی پانګوال دخاموموادودلاسته راوړلواوپه بازارونودولکې دټینګولو لپاره دجګړوبازارګرم ساتي اوس مهال دجګړواساسي لامل په لویدیځ

کې دوسلو جوړولو لوېې کمپنۍ دې دوی دخپلووسلودخرڅون په خاطرپه نړۍ کې دجګړواورتود ساتي دوروسته پاتې هېوادونو بانفوذه شخصیتونه دخپلو پیسو په وسیله ترخپل اغیزلاندې راولي .اونړۍ وال رقابتونه پیلوي.

۵-دوروسته پاتې هېوادونوڅخه ګټه اخیستل په دې توګه چې دخامو موادو داستحصال ذریعه اودپخوموادودخرڅلاؤدبازار حیثیت لري

٦-پانګوال داخلاقي فسادپه لور:لوی پانګوال په خپله په فساداوعیاشۍ اخته وي اودفحاشۍ سترمراکز لري اوله دغې لارې ستره پانګه لاسته راوړي.

**۴-۲-٦-مزایااوښېګڼې یې**

دپانګوالۍ پیروان ددې نظام لاندې مزایاپه ګوته کوي

۱-دفرد کرامت اوشخصیت ته درناوی.

۲-دملکیت دفطري غریزېوده اوپالنه.

۳-په تولیدکې سیالی اورقابت داقتصادي پرمختګ دلامل په حیث.

**۴-۲-۷-نیمګړتیاوې او عیبونه یې**

۱-ټولنه په دووطبقو عیاشوشتمنواوخوارونیستمووېشي

۲-ددواړوطبقاتوترمنځ کینه اوحسد چې څنیوخت په طبقاتي شخړو پای ته رسېږي

۳-شتمن اودهوی اوهوس څښتنان دخپل مال په وسیله لوي سیاسي نفوذ پیداکوي دخپلو ګټودتامین اوپه بازارونواوخامو موادودقبضې په خاطردجګړ واورتودساتي .

۴-دمال په لاسته راوړلوکې ټولنیزوګټوته زیان اړوي په سود اواحتکارلاس پورې کوي نرخونه لوړېږ ي اودخلکو هډ وکي شپېلوی اودخلکو وینې څښي.

۵-په ټولنه کې اخلاقي فسادوده کوي زیاته پانګه په زنا لواطت، شرابو، اودخلکودضمیر په اخیستلو په لګښت رسېږ ي زیاتره پانګوال لوټمارې اوداړه مارې ډ لې لري په اختطافونواودسیاست والو په وېرولو اوتهدید ولولاس پورې کوي .

٦-انانیت اوشخصي ګټې : په دې توګه ډېرلږخلک په بازارونواواقتصادي سرچینوخپټه اچوي ټولنیزې ګټې په شخصي ګټوقربانوي .

۷-دشتمنۍ په وېش کې لوی خلل: په دې ډول چې دټولنې کوچنۍ طبقه دتولیددټولووسایلوڅښتنه اوپه مزواوچړچوکې ژوندتېروي اوبله طبقه یوه مړۍ ډوډۍ نه مومي ټولنه په دووپاټکیوووېشل شي شتمن اونېستمن،په پای کې ټولنه بې توازنه شي ..

۸-سیالي اورقابت: په دغه نظام کې ځواکمن پانګوال کمزوری شتمن له منځه وړي په دې توګه ځواکمن شتمن دجنس دنرخ په ټیټولو سره کمزوری شتمن ځپي اوله میدانه یې وباسي چې میدان ورته خوشې شي نرخونه اسمان ته لوړوي

۹-الهي نعمتونه له منځه وړل : سرمایه داردنرخودتعادل په خاطر زیات سامان اوخوراکي توکي سیندته غورځوي په ۱۹۳۴م کال په پانګوالو هېوادونوکې دوه میلیونه اوځلوېښت زره خلک له لوږې سره مخامخ ؤ،مګردامریکادمتحده ایالاتوپانګوالویومیلیون کراچۍ غله دانه دوه لکه او اوه شپېته زره ټنه بوره دوه لکه اوشپېته زره ټنه وریجې اوپنځه ویشت زره ټنه غوښه اونور مواد دعرضې اوتقاضا دتعادل په خاطرسمندرته وغورځول .

۱۰-بې کاري : په دې توګه چې زیات تولیداودلګښت کمبوداودنویووسایلوپه ایجاد سره په لکونوکاریګر ،وزګاراوله کاره ګوښه کړی شول.

۱۱-اخ اوډب: په دغه نظام کې دپانګوالو اوکاریګرو ترمنځ تل ټکر اړ اخ اوډب روان وي .

۱۲-ماده پرستي:پانګواله نظام انسان ته دمادي موجود په سترګه ګوري روحاني اواخلاقي فضیلتونه ترپښولاندې کوي.

۱۳-دلوکس شیانوتولید: پانګواله نظام دبشرداړتیاوړشیان په نظرکې نه نیسي-بلکې دتل لپاره عیاشانه دلوکس شیانوپه جوړولولاس پورې کوي موخه یې دزیاتې ګټې پلټنه وي .

۱۴-عصبي لېونتوب: ددغه سخت زړي نظام وروستی نتیجه عصبي لېونتوب ،ځان وژنه ،مخدرات،جرایم اونښې دي چې په نتیجه کې یې کورنی نظام وشړېږي اوماشومان اواولادونه له کوره وشړل شي انساني اخلاقي لوړارزښتونه ترپښولاندې اوله انسان څخه داسې وحشي-ژوی جوړشي چې په ځنګله کې یې وحشي ځناورپه وحشت کې وشرمول

**۴-۲-۸-په پانګوالې داسلام دلوړتیاوجوهات**

- په پانګواله نظام کې فردشتمنی حقیقي ښتن وي. په اسلامي اقتصادکې دشتمنیوحقیقي مالک الله اودانسان مقام دخلیفه دی
- دلته یواځې فردي ملکیت دی په اسلام کې دوه ډوله ملکیتونه دي فردي اواجتماعي دي
- په پانګواله نظام کې مال دڅروند هدف دی. مګر په اسلام کې مال اوشتمني دڅروندتېرولو وسیله ده
- پانګواله سرکښ اومستبدنظام دی . اسلام دمالي طغیان اواستبداد څخه مسلمان ساتي.

- پانگواله ټولنه په شتمنواونیستمنودووطبقوویشي. مگر اسلام ددواړو ترمنځ تعادل برابروي.
- په پانگواله نظام کې زکات شتون نه لري. اسلام دمسلمان په مال کې زکات لازم گرځولی دی
- په پانگواله نظام کې فردي ملکیت له هررنگه قیوداتوازاداودحراماوحلالوبېلتون نه و

دلویـدیځ اقتصـاددپلارادم سـمیت دویناپراسـاس پرېـږده چـې کـاروکړي دلتـه دروا اونـاروا وسایلوامتیازنشته له هرې لارې نه چې ممکن وي پیسې په لاس راوړل دي که دسـود اواحتکارلـه لارې وي اويـادقماراولا تـري اويادمخدراتو ،شرابو ،دموسـيقى ،گډا،نڅا اوزنـا دهـډودجوړولو لـه لارې.مگر په اسلام کې دحراماوحلالو قیودات دي

داسلام اقتصادي نظام دفردپه اقتصادي ازادۍ اعتراف کوي نه يې دکمونېزم په څېرمصادره کوي اونه يې ازاد ېږواگوپرېږدي .اسلامي دولت کولی شي چې پـه مبـاشر ډول پـه اقتصـادي فعـاليتونو نظارت وکـړي دسود،احتکار،غصـب،قمار ،دوکـې اوانفلاسـیون مخـه نیسي-ځکـه چـې سـودي اونازوافعالیتونه ټولنې ته اقتصادي ،ټولنیز،اواخلاقي زیانونه وراړوي

**۴-۲-۹-ځیني اصلاحات**

تر۱۸۷۵م کال پورې انگلستان لوی پانگوال هېوادؤخودهمدغې پېړۍ په وروستیوکې متحـده ایالات،المـان اولـه دویمـې نـړۍ والـې جگـړې وروسـته جاپـان رامنځتـه شـو.له دې راوروسـته دبشردحقونوکمېټې جوړې شوې همدارنگه دانتخابي اتحادیوجوړېښت ددې سبب وگرځېـد چـې دبې کارۍ دله منځه وړلو اوډزوندانه دمستوی دلوړتیاپه خاطرپه ځنواصلاحي اقداماتولاس پورې کړي اوس سرمایه داري دولتونودبې وزلو لپاره دمواصـلاتو،تعلیم اوصـحت څـه ناڅـه اسـانتیاوې برابرې کړي دي .

**۴-۲-۱۰-دنفوذ هېوادونه يې**

انگلستان،فرانسه،جاپان ،المان ،هندوستان، پاکستان ،مصراودامریکا متحـده ایـالات دي چـې پـه لویدیز بلاک سره شهرت لري

**۴-۳-۱- کمونیزم( Communism)**

کمون په عامه توگه هغې ډلې ته ویل کیږي چې دچارودادارې په خـاطر یولـه بـل سره همکـاري کوي اودلوړومقاماتودلاس وهنې څخه پرته کارونه سموي،په ځنواروپايي هیوادونوکې یوکوچني اداري واحدته هم کمون وايي

خوکمونېزم له یوټولنیزاقتصادي نظام څخه عبارت دی چې په ټولوشیانوکېدخلکوپه مشارکت باورلري لکه خوراک څښاک ،پوښاک، کور،اوزدواج اویاپه بله اصطلاح ددرې شیانواشتراک پیسی، ښځه اوځمکه ،دکمونستي نظام طرحه چی مارکس جوړه کړې ده مثال یې شفاخانې اویاعسکري پایګاه ته ورته ده چې هلته ورڅخه خلک مؤقته استفاده کوي کمونیزم دداسې ټولنې په پښودرول غواړی چې هلته فردي مالکیت نه وي بلکی ټول یې وخوري ویې څښي، وایې اغوندي اودهشي اوډله ئیزازدواج وکړی اوپه کارلاس پورې کړي.

په کمونستي نظام کې دتولیدوسایل ،ځمکې ،کارخانې ،تعمیرونه ،بانکونه ،شرکتونه ټول هرڅه دولتي وي په دې نظام کې نه څوک ځمکه لري ،نه کارخانه نه موټرې اونه بانکونه بلکې هرڅه ددولت په لاس کې وي دولت مکلفیت لري چې خلکوته دکارپه مقابل کې دخوراک،پوښاک دصحت اوتعلیم خدمات برابرکاندي

## ۴-۳-۲- تاریخي شالیدې

کمونېزم داوسني وخت زېږنده نه ده اونه یې مارکس بنسټګردی بلکې تاریخي سابقه لري دمیلادنه نولس پېړۍ پخوالیکوغورس په یونان کې عملی کړتولی ځمکې یې مصادره اوبیایې مساوي وویشلې دماشومانواجتماعي پالنه دولت پرغاړه واخېسته که چېرته به کوم ماشوم معیوب نړی‌ته سترګې پرانستې موربې په وژلومکلفه وه. په دویمه قبل المیلادپېړۍ‌کې د یهودویوه ډله دعمومي ملکیت غوښتونکې اودمساوات مدعی شوه دشتمنوپرخلاف یې مبارزه اعلان کړه ،په څلورمه قبل المیلادپیړۍ کې افلاطون دهمدغه نظام دتطبیق پلوي وکړه دشتمنیواودښځو اشتراک یې اعلان کړ.په شپږمه میلادي پېړۍ کې ایراني مزدک په فارسي ملت کې د دشتمنیواودښځود اشتراک مدعي شو.

په اولسمه میلادي پېړۍ کې ایټالوي مفکر (کامبافیلا)دیوکتاب په لیکلولاس پورې کړدهغه نظر داؤ چې شراوبدي دثروت په عمومي کولوله منځه ځي. همدارنګه په نولسمه پېړۍ په روسیه کې دنهلستانو په نوم یوه ډله دایراني مزدک دخوځښت په څېر رامنځته اودخیر او عدالت اودفقراوغربت دله منځه تللو اعلان یې کاوه.

## ۴-۳-۳- دکمونیزم عملي پړاؤ

په نولسمه پېړۍ په ۱۸۴۷م کال دمارکس اوانګلزپه وسیله یې په لندن کې دیهودیانو په مالي مټ داساس ډبره کېښودل شوه او په ۱۹۱۷ م کال دلینن یهودی په وسیله په روسیه کې دبري ترپړاوه ورسېد اوبیایې په اوسپنیز څواک سره په نړۍ کې پراختیا وموندله اومسلمانانوته یې سخت زیانونه واړول په پای کې دالهي نصرت په زوراودافغان ولس په مټ دتاریخ کندې ته وسپارل شو.

### ۴-۳-۴- وتلې څېرې يې

#### ۱-کارل مارکس

کارل مارکس يهودي کينه کښ،کبرجن اوتندخويه شخصيت ،له پانگوالې سره دسختې کينې ښمنتن ؤ،تلپاتې فقر،نيستي اولاس تنگی دشتمنوپروړاندې دمارکس کينې ته لاپياوړتياوبخښله، کمونيزم دکليسادمذهبي مشرانودتيريو،ظلمونو،خرافاتواوعبثيا تواودارولپادطبقاتي خان خاني نظام پرخلاف يوغبرگون دی. په اولسمه اواتلسمه پيړی کې داروپاکارگرانواوبزگرانودفيوډالانواوسرمايه دارواوکارخانه لرونکوله لاسه ډېرزيانونه وليدل دغه کارکارل مارکس دې ته وهڅاوه چې له دين څخه انکاروکړي اودين دملتونوافيون وبولي په ۱۸۴۸م کال يې په لندن کې دخپل ملگري انگلز په ملاتړاوديهودوپه مالي مرسته اوږدي غونډې وکړي ،يويې کمونستي بيان اوبل يې دپانگې په نوم کتاب خپورکړ.

#### ۲-لينن

چې اصلی نوم يی والديمرالتيش بوليانوف دی ،په روسيه کې په ۱۹۱۷م کال دکمونستي خونړۍ انقلاب بنسټ ايښودونکی دی لينن ډېرسخت زړی ،ظالم اودکتاتور،سخت کينه کښ انسان ؤ.لينن په خټه يهودې خوورروسته يي په روسي نوم شهرت موندلی،دکمونيزم عملي مؤسس بلل کيږی .

#### ۳-ستالين

اصلی نوم يی جوزف فاديونوفتش دی دکمونست گوندسرمنشي-اوله لينن څخه وروسته دکمونست گوندلاربشودهم پاتی شوی په دکتاتوری،ظلم ،اوپه سخت زړي توب سره يی نوم درلود،تل به يی په خپلی رايی ټينگارکاوه ډيرجاه طلبه سړی ؤ.)

#### ۴-تروتسکي

په خپله يهودي اواصلی نوم يی بروشتاين دی،په کمونست گوندکې يې لوړمقام درلوددکمونست گونددخارجه چارومسؤل ؤبياوروسته دوسلوال پوځ سرلښکروټاکل شوپه پاي کې دستالين په امرله گونده خارج اوپه داروځړول شو.

### ۴-۳-۵-دکمونيزم افکاراومعتقدات

- دالله تعالی له وجوداوله ټولومغيباتوڅخه انکارلکه روح،جنت ،دوزخ ،ملايکې،پيريان ،وحی،اخرت اوپه دې باورچې ماده دهرشي اساس اوبنسټ تشکيلوی.مارکس ويلي دي چې الله عزوجل نشته اوژوندټوله ماده ده، لينن وايي هريوديني فکرچي په الله عزوجل باوري وي

حماقت اوجهالت دی په الله عزوجل باورپخوانی توره ارتجاع اودین دولسونودنېشه کولووسیله ده، په کارده چې ددین پرخلاف جگړه اعلان شي.

- دوی له ټولودینونوسره مقابله کوي ادیان دپانگوالې اواستعمارپه چوپړکې گڼي .
- ځانگړی (شخصي )ملکیت له منځه وړي اودمیراث دلغوه کېدوپلوی کوي.
- په ولسونودبرچی په زورخپل فکرتحمیلوي.
- کمونیزم ماده ازلي بولي او وایي چې ماده تل ده اوتل به وي اوله منځه نه ځي دوی طبیعت معبود بولي.
- په دی باورلرل چي ددنیاله ژونده پرته نه اخرت شته ،نه عذاب اونه ثواب.
- کمونیزم په اخ اوډب اوزورزیاتي باوري دی.
- لینن په دي باورلري چه که چیرته دکمونستي انقلاب دبري په لارکې دنړیدخلکودرې برخلوربرخې له منځه ولاړشي داکاردې سرته ورسېږي .
- کمونیزم په ټگی ،خیانت ،اوغدرباورلري اگرکه دخپل گوندله غړوسره وي

**۴-۳-٦- دکمونستي نظام اقتصاد ي بنسټونه**

دکمونستي نظام اصول په لاندې ټکوکې راخلاصه کوؤ

- دفردی مالکیت بشپړلغوه کول او دولت ته یې تسلیمول.
- د وس په اندازه کارکول اود حاجت په اندازه اجوره اخیستل.
- دتولیداوتوزیع لپاره اقتصادې تگلاره جوړول.

په هرشي کې دخلکومشارکت لکه ځمکه ،کور،جامه ،سامان ،غذایي توکي اوازدواج دضرورت پراساس توزیع ،دلته دشتمنی وېش دکارپراساس صورت نه نیسی مارکسېزم وایي چې دکاراوکاریگرترمنځ هېڅ اړیکه نشته کاریگرچې هرڅومره کارکړی دخپل ضرورت له پوره کولو څخه پرته دهېڅ شي حق نلري کاردقدرت په اندازه اومعاش دحاجت په اندازه نوپه توزیع کې دکارموقف منفي دی

**۴-۳-۷- دسوسیالیزم اوکمونیزم ترمنځ فرق**

سوسیالیزم له کمونېزم سره دشتمنیوپه تمرکزیوشان نظرلري مگردتوزیع په سیستم کې سره جلاکیږی په کمونیزم کې توزیع دحاجت پراساس مگرپه سوسیالیزم کې دکارپربنسټ دکمونستي نظام دتطبیق لپاره لینن له خلکو دځمکوداخیستلو فرمان صادرکړ په زوردځمکو

اومالونواخیستل څه اسان کارنه ؤدکمونستي پلان دتطبیق لپاره دوی نولس میلیونه وګړي په روسیه کې په دارځړولي دوه میلیونه وګړوته یې سختې سزاګانې ورکړي په مرکزي اسیاکې یې اولس نیم میلیونه خلک له تیغه تېرکړي دقراقرم دجمهوریت یونیم میلیون وګړي یې وژلي اوټوله سیمه روسي ګرځول شوې ده. پنځه میلیونه خلک یې په روسیه کې سا بیریاته تبعیدکړي په مرکزي اسیاوروسیه کې یې دېرش میلیونه دکرکیلې غوایي اوڅلویښت میلیونه اسونه له منځه وړي،په روسیې اومرکزي اسیاکې یې پنځوس زره جوماتونه داسونواوغوایانوپه غوجلواودګدااونځایه مراکزوتبدیل کړي .دروسیې اقتصاد او کرکیله درکود سره مخامخ شوهنو لینن د مارکس فلسفه تغیر کړه اوکاریې دتوزیع معیار وباله سوسیالستي اقتصادوایي! کارګر هغه څوک دی چې دخپل کار په وسیله یې مادې ته تبادلي ارزښت ورکړی کار دقیمت اساس دی نوکاردقدرت په اندازه اومعاش دکارپه اندازه دتوزیع یواځنی وسیله کاردېنوپردې اساس لینن دمارکس فلسفه تغیرکړه دلیننېزم په نوم اوچینایي ماءوزیتونګ دماءوءېزم په نوم ونوموله

دتولنې درې طبقات اوددوی پرورلندې داقتصادي نظامونودریز

| طبقات نظامونه | اعلی | اوسط | ادنی |
|---|---|---|---|
| کمونېزم | حاجت | حاجت | × |
| نوسیالېزم | کار | کار | × |
| اسلام | کار | کار+حاجت | حاجت |

### ۴-۳-۸- اهداف او مقاصد

کمونېزم دبشریت او په خاص ډول داسلام په هکله لاندې کرغېړن ناولي اوبشردښمنه اهداف لري.

- ددین له منځه وړل:کمونستان چې په هراسلامي هېواد کې بریالي شوي دي ترهر څه دمخه یې ددین په ختمولو برید کړی اوددین دبقاء څلورواړه ستنې یې نړولي دي

۱:دعلماءو وژل:په هغو هېوادونو کې چې کمونېزم حاکم شوی علماء یې وژلي دي په روسي ترکستان کې یې پنځوس زره او په چیني ترکستان کې یې پنځه دېرش زره په البانیه کې یې

اوه سوه نهه څلوېښت په عربي نړی کې یې یو نیم زر په افریقا کې نهه سوه او په افغانستان کې یې په زرګونو نامتو علماء وژلي دي.

۲:جوماتونه:کمونستان چې په کوم هېواد کې په سیاسي ډګر بري ته رسېدلي دي نو دجوماتونو په نړولو،بندولو،په ګوداموـنو،سینماګانو دګډا اونڅااودشراب خانوپه مراکزو یې بدل کړي دي.دمرکزي اسیا په شپږوجمهوریتونو ازبکستان،تاجکستان،ترکمنستان، قرغیزستان،قزاقستان اواذربایجان کې یې د ۱۹۱۸م نه تر ۱۹۴۱ کال پورې څوارلس زره جوماتونه له منځه وې وړل په همدې توګه دچین کمونست لارښود ماؤزیتونګ اومارشال تیتودبالقان په اسلامي هېوادکې زرګونو جوماتونوسره هغه څه وکړل چې لینن اوستالین کړي ؤ.

۳:دیني مدرسې:یواځې په مرکزي اسیا اوروسیه کې یې پنځه ویشت زره دیني مدرسې چې په دې کې لس زره ابتدائیه اوپنځلس زره لوی دارالعلومونه شامل ؤ ختمې اوعربی رسم الخط یې په روسي بدل کړ.

۴:داسلامي قوانینو له منځه وړل:په هر هېواد کې چې کمونېزم اقتدارته رسېدلی هلته یې داسلامي قوانینواوشریعت په له منځه وړلولاس پورې کړی داځکه چې دشرعي قوانینو تداوم او عملي کېدل ددین دبقاء لامل ګرځي.

نوکله چې په یو ملت کې دبرچې په زورددین دغه څلورمحوري ستنې ونړېږي او پرځای یې دالحادي نظام برنامه اوپروګرام پلې کړای شي نو په خپله به دین ختم اودکمونېزم په وحشیانه منګولو کې به ښکیل پاتې شي.

- دکورنۍ نظام ړنګول:دکمونېزم بنسټګر کارل مارکس په خپل لومړني کمونستي منشور کې په دې اړوند ویلي مور دکورنۍ پای ته رسول غواړو په کمونستي نظام کې پلارتوب،مورولي،داولاد مخصوصه روزنه،خورتوب او وروروولي ،زړه سوی،خپلولي اوخپل منځي مرسته ،میراث اونورټول دیني شعایراو قوانین له منځه ځي دوی له بشري ټولنې دځارویو په څېرټولنه جوړول غواړي.
- دفردي مالکیت په بشپړ پای ته رسېدو سره داسلام دوه ارکان زکات،حج اود میراث احکام ړنګېږي په دغه نظام کې ټولې شتنمی سرکاري ملکیت ګرځي اوضبط کېږي له ضرورته پرته یوشخص دهېڅ شي څښتن نه ګرځي.

**۴-۳-۹-سیاسي تګلاره**

- یو ګوندي حکومت ،معناداچې دکمونست ګوندله غړوپرته څوک حق نه لري وزیر،والي،سفیر،قاضي اوولسوال شي

- دقدرت نه محدودیت:په کمونستي نظام کې مشران ټولواک وي اوهېڅوک یې صلاحیت محدودولی نه شي.
- دگوند گټې په نظر کې نیول:دکمونست گوند دغړودگټو ساتلو لپاره ددولت ټول وسایل استخدامول اوله هغوڅخه دفاع کول.
- ترور اووژل:کمونست واکمن گونددخپلومخالفینودخپلو لپاره،وژلو،بندي کولو،زورولو ،سیاسي،اقتصادي ،فردي،اجتماعي او علمي حقوقوله محروملو څخه کار اخلي.
- د زورله لارې دخپلې ایدیالوژۍ تحمیلول:دوی په زورپه خلکوخپله نظریه تپي فردي ازادي له منځه وړیاو ټول ملت دخو محدودوکمونستانو غلام گرځوي.
- دانتقادمخنیوی:دوی هېچاته اجازه نه ورکوي چې دکمونېزم پرنظام نیوکه وکړي او که نه دژوندکولوحق له لاسه ورکوي.
- لاقانونیت:دکمونېزم پیروان په بنسټیز ډول په حکومت کولو معتقد نه دي دوی وایي چې حکومت او قانونډولنیزو تضادونوزېږنده ده چې ټولنیز تضادته دپای ټکی کېښودل شي دحکومت قیام ته اړتیا نه پېښېږي له همدې امله کمونستان دحکومت کولو لپاره قانون جوړول ضروري نه گڼي بلکې دگوند دمشرهره خبره دفرمان حیثیت لري .
- فحشاء خپرول:کمونستان دخپل اقتدار په دوران کې دجنسي تعمیم اودفحشاودخپرولو لپاره له هرډول غیراخلاقي چاروڅخه گټه اخلي دعفت،عصمت اوحیاء ضد چاروته اقدام کوي.
- دوی ماده ازلي اوابدي بولي په دې معنا چې ماده ابتداء اوانتهاء نه لري تل ده تل دی تل به وي په داسې حال کې چې مسلمانان دغه دواړه صفتونه دالله تعالی بولي.
- دکمونېزم مفکوره داباحیت ده دوی په حلالواوحراموباورنه لریانسان کولی شي ازاد ژوندوکړي هرڅه وخوري هرڅه وڅښي اوله هرچا څخه جنسي گټه پورته کړي زنا،لواطت اوله محرماتولکه مور، خوراولورڅخه جنسي استفاده کولی شي.
- دوی پیغمبران مصلحین اوله عامو فلاسفه ؤسره یې یوشان بولي.

**۴-۳-۱۰-دکمونېزم مزایاوعیبونه**

**الف :مزایااوښېگڼې**

دکمونېزم پلویان ددغه نظام محاسنو اومزایاء وته داسې گوته نیسي.

۱-دشخصي گټواوشخصي حاکمیت پای ته رسول .

۲-له ټولو فردي اغیزوڅخه ددولت لېرې ساتل اوټولنیزې گټې په نظرکې نیول .

**ب : عیبونه اونیمګړتیاوې یې**

۱- دفرد ازادي اوشخصیت له منځه وړل هلته خلک دحکومت یوه اله وي دهېڅ رنګه ازادۍ اوحیثیت څخه برخمن نه وي

۲- په فردي ملکیت پابندي اودبشرله فطرت سره جګړه داځکه چې د فردي مالکیت ازادي اودموراوپلاردرلودل دبشرفطري غریزه ده .

۳- دتولید دکمیت اوکیفیت راټیټېدل ځکه چې هلته فردي ملکیت سیالی اورقابت نه وي په روسیه کې دکمونستي انقلاب تربرې را وروسته دوید اړتیا وړغنم له لویدیزو هېوادو نو واردول.له همدې کبله روسي صنعت په نړ ی وال مارکیټ کې خریدارنه درلود .

۴- اخلاقي اوټولنیز فساد ته وده لکه زنا ،رشوت اوغلا داځکه چې په دې کې دیوشخص محدوده تنخوا وي چې سراوبریې بس کېږي نوپردې اساس دلا س بري په صورت په نورونارواً لاروچارولاس پورې کوي.

۵- دټولودینونو، قوانینو اواخلاقو سره بشپړ ه مقابله اوهغه ته دتورې ارتجاع اوبورژوازي نظام په توګه کتل.

۶-ټولودینونوته افیون ویل مناسب کارنه ؤکه ظلم، خرافات ،له عقل سره ټکراو که دخانانواوسرمایه داروترځنګ دربدل وي نودغه خودکلیسادرهبرانوجرم ؤکاشکې مارکس له اسلام سره اشنایي درلودی هېڅکله به یې داسې ناوړه خیالات نه وای وړاندې کړي .

۷-داقتصادي ازادۍ خاتمه :په کمونستي نظام کې شخصی ملکیت پای ته رسیږي هرفردډټولنې دماشین یوه پرزه ګرځوي دبشرازادي ،اراده اوشخصیت سخته ضربه ویني.

۸-دبشرفطري استعدادله منځه وړل : داچې ټول تولیدي وسایل دحکومت په لاس کې دي نوځکه هرفردته حکومت تنخواورکوي اوپه تنخوا کې دچافرق نه وي.نودلوړاستعدادڅښتنانوته دهغوی داستعدادپه برابرمعاش نه ورکول کېږي نوداستعدادڅخه استفاده نه کېږي په هیچاکې شوق اوجذبه نه پاتې کیږي.

۹-دمصرف کوونکیودازادۍ ختمول :په کمونستي نظام کې اقتصادي ازادي نه وي ځکه چې دحکومت له خوایواځې یوشی تولیدیږي دټولنې هرمصرف کونکی مجبوردی هماغه شی مصرف کړي اودخپلې خوښې اورضاءڅخه تېرشي همدارنګه دشیانوتنوع هم له منځه ځي .

۱۰-دکاردشوق اوسیالی خاتمه:په کمونستي نظام کې چې کله اقتصادي ازادي ختمه شي نوبیاپه خلکوکې دزړه داخلاصه دکارکولواوله نوروسره دسیالی جذبه پای ته رسیږي ځکه دګټې احساس انسان زیات کارته هڅوي اوټول جسماني اودماغي ځواکونه په کاراچوي .

۱۱-دحکومتي کارکونکيوبې پروايي : داقتصادي کوښښ ،کارکولواودصنعتي پرمختګ لپاره جرئت ،تجربه ،نظارت
،اواداري صلاحيت ضروري دی دحکومت مامورين دمسايلواوکارونوچندان پروانه لري په نتيجه کې ټول پرمختيايي پرګرامونه خرابيږي زياتې پيسې مصرف اونتيجه يې منفي وي.
۱۲-دسياسي اواقتصادي قدرت تمرکز :دحکومت دنده دعواموخدمت هغوی ته دازاادیوبرابرول دهغوی استعدادونوته
وده ورکول،دعاموخلکوکاراقتصادي څرخ پرمخ بيول دي مګرپه کمونيزم کې حکومت په اقتصاداودتوليدپه وسايلوخپله اچوي ،دهقاني ،دوکانداري ،ډرېوري،اودهرشخص دروزۍ کيلي په لاس کې اخلي ،دسياسي اواقتصادي قدرت تمرکز په دولت دبوج لامل ګرځي.
۱۳-په دروغودمساوات چيغې وهل : په کمونستي نظام کې درهبرانواونوروخلکو دژوندترمنځ دځمکې اواسمان فرق
وي ددولت دمساوات خبره بشپړه ناسمه ده دلته دکمونست ګوندخاني ده اوپه سرمايه داري نظام کې دسرمايه دارخاني ده.
۱۴-کمونستي دکتاتوري اودقدرت تمرکز :دروسې اوچين خلک ټول په کمونست ګوندکې شامل نه دي هلته جبر ،زور ،استبداداوبرچه حکومت کوي دکمونستي نظام مثال هغه وزن ته ورته ده چې دمټوپه زورفضاته پورته کيږي چې څومره زوروي هومره به پورته ځي چې زورختم شي پخپله دسقوط سره مخامخ کيږي .
۱۵-په کارګرانومفت کارکول :دکمونست ګوندلوړمقامه شخصيتونه په بيلابيلوپلموکارګران راغونډوي ورڅخه کاراخلي اومزدوري نه ورکوي يواځې په ډوډۍ يې بسياکوي.
۱٦-دانساني شخصيت خاتمه اودځنګله دژويوپه رمه يې تبديلول.
۱۷-دډېروټولنيزواړيکولغوه کول لکه ميراث اوهبه .

**۴-۳-۱۱-په کمونستي نظام داسلامي اقتصادامتيازات**

- **دهدف له حيثه**

۱- دکمونستي اقتصادموخه ټولنيزو ګټوته ترجيح ورکول اسلام دفرداوټولنې دګټوترمنځ توازن ټينګول غواړي
۲-په روحي احساس کې کمونيزم په مادې باور لري اوله روحانيت څخه انکارکوي اسلام مادي اوروحاني دواړه اړخونه رهبري کوي

- **په دوه اړخیزه څارنه کې**

دبشر په لاس په جوړشوي اقتصادي نظام کې یواځې قانوني څارنه ده البته په اسلامي اقتصادکې ذاتي اوایماني احساس هم شامل دی مؤمن مسلمان پردې پوهیږي چې کـه چیرتـه دقـانون لـه منګولوڅخه وژغورل شودالهي محاسبې څخه به څنګه خلاصون ومومي .

- **دهدف په لوړتیا کې**

دکمونستي نظام موخه ټول خلک له مادي رفاه اوښه ژوندډی مګرداسلام په اقتصادي نظام کې مادي خوشالي وسیله ګڼلی شي .

- **دملکیت په ډګرکې**

کمونستي اقتصاددعامه ملکیت پربنسټ ټینګښت مومي په فردي ملکي اعتراف نه کوي مګرپـه اسلامي اقتصادکې دوه ګونی ملکیت دی فردي اواجتماعي دواړه دي

- **دازادۍ په ډګرکې**

کمونستي اقتصاد دتولیدټول وسایل په ځپله ولکـه کـې سـاتي ؛مګرداسـلام اقتصـادي نظـام لـه داسې پالیسۍ سره سخت مخالف په شرعي چوکاټ کې هرچاته ازادي ورکوي.په سودي تعامل ،احتکار،خیانت ،دوکې ،دقیمتونو په لوړولو ،قماراودمخدره توکوپه سوداګرۍ بندیزلګوي

## ۵-۱- اقتصادي مختلط نظام

دغه نظام دسوسیالستي اوپانګوالي نظام څخه ترکیب شوی نه دکمونیزم اوسوسیا لیز م په څېر ، دفرد ازادي سلبو ي اونه یې دپانګوالي په شان ازادپرېږ دي هدف یې اقتصادي ازادي اولویو احتکار ونو مخینو ی دی په دې توګه چې دتولید کونکي اومستهلک ګټې موازي خوندي ساتي

## ۵-۲-اقتصادي بنسټونه

۱- دعامه ملکیت اوسترو پروژوواک به ددولت په لاس کې وي ځانګړ ی ملکیت اوخا صې پروژې به ازاد ې وي .

۲- داقتصادي فعالیتونوپلان اورهبري به په یوه ټاکلې محدوده کې حکومت پرمخ وړي.مګرپه اقتصادي فعالیتونوکې به ازادي وي .

۳- داقتصادي مختلطه نظام هدف دخا صو ګتوساتنه اوحفا ظت

۴- دمختلط اقتصادي نظام ستره نښه دکارګرانودحقوقو ساتنه اودکاري فرصتونو برابرول اودعامواوکمزوروخلکورعایّت اوپالنه ده .

۵-مختلط اقتصادي نظام مستهلک ته ددولت له خوا اقتصادي ازادي برابروی په کمونستي نظام کې خو مستهلک دازادۍ څخه برخمن نه وي .

**۵-۳-نیمګړتیاوې**

۱-دګټې دهڅونکي نه شتون چې دکفا ءت په عنصرمنفي اغیزه پرې باسي

۲-دخا صو فعالیتونو اودولتي نشاطاتوترمنځ دحدودو دمعلومولوسختوالی

۳-دخاصه نشا ط اودولتي نشا ط ترمنځ داندول نابرابرې

۴-داسې اصولو اواجراء اتو ته دلاسرسي سختي چې ددواړو جهتونوترمنځ دتکرمخه ونیسي

۵-په دغه نظام کې تولید اواستهلاک دواړوکې دروا اوناروا امتیازنه وي

**۶-۱-داسلام اقتصادي نظام**

اسلام دژوند بشپړه تګلاره اواقتصادي سیستم داسلامي نظام مهمه برخه ده مثال یې دمعدې په څېردی چې ټول بدن ته غذایي توکي رسوي.داسلام داقتصادي نظام موخه عام تولید ته وده ورکول دي ترڅودخلکو بنسټیز ې اړتیا وې پورهاودټولنې دګڼوطبقاتوترمنځ فاصلې رالنډ ې اودهرفرد لپاره برابره،منا سبه مادي پراختیااودسوکاله ژوندشرایط برابرکړی شي .

داسلام اقتصادي نظام مستقل نظام دی نه دپانګوالې په څېردی چې ټول ملکیتونه انفرادي وګرځوي اودحراماوحلالو قیودات په کې ونه اوسي اونه دکمونستي نظام په څېردی چې ټول ملکیتونه دولتي کړي اوفردته دځپل حاجت دپوره کولونه پرته هېڅ په برخه نه وي .موږبه داسلام اقتصادي نظام په لنډوټکوکي معرفي کړو

۱:په مال اوثروت دانسان لاس عارضي دی دټولوکایناتوحقیقي څښتن الله تعالی دی اودبشرملکیت مجازي دی دحقیقي څښتن دلارښوونوسره سم به په کې تصرف کوي

۲:په اسلام کې ملکیتو نه په درې ډوله دي فردي،عامه اودولتي،داسلام په اقتصادي نظام کې مشروع فردي ملکیت له هررنګه تېري څخه مصؤن اوخوندي دی هرشخص چې له روالاروڅخه څه شی ترلاسه کړي حق یې ګرځي،په همدې توګه فردي ملکیت په اسلام کې داحترام وړګڼل کیږي،دفردي ملکیت په لغوه کېدوسره داسلام نظام ړنګېږی لکه دزکات ،حج اومیراث احکام.

۳:عامه ملکیت دالله تعالی هغه نعمتونه دي چې په تیارولوکې یې دچادهلو ځلودخل نه وي لکه سیند ونه ،دچینواوبه ،ځنګلونه، دطبیعي ونوموې،واښه،هوا،اوبه دبیابان ځناور،کانو نه،لویې لارې اودتېلوچینې دغه شیان عامه ملکیت دي هرچاته حق حاصل دی چې ورڅخه استفاده وکړ ي؛البته کوم وګړ ي یې چې دشخصي ضرورت نه پرته دسوداګریزواهدافولپاره په کارراولي دولت ته به ټکس ورکوي .

۴:دولتي ملکیتونه دعامه ګټوپه خاطردي لکه دبرښنابندونه،دبېړیو،وسلواوالوتکوصنعت اوداوسپنې دویلې کولوفابریکې

ايلو برابـــر ول اوهمدارنگـــه

۵:دهېوادهریواســـتوګن لپـــاره دکاردوســـ

کور،کالي،ډوډۍ،صحي،ټولنیزې اوعلمي اړتیاوې پوره کول په کې شامل دي.

۶:هرکاریګرته دهغه دلیاقت سره برابره اومناسبه تنخواورکول لازمي دي پـه مـال کـې زکـات

ترټولوادنی حق دی اودلګښت محدودځایونه لري دزکات اندازه اودمصرف ځایونه یې الله تعالی

ټاکلي دي هېڅوک په کې بدلو ن نه شي راوستلی .

۷:دولـت حق لـری اوکـولي شي داړتیاپـه مهال دهېوادپـه استوګنوعادلانه ټکس ولګـوي

ترڅولښکرې په وسلوسمبال اوله همدغوپیسوڅخه دهېوادپه وده ،ښېرازتیا،ابادی اوپرمختګ کې

استفاده وکړی شي .

۸:پـه هرهغـه کاربنـد یزلګـول چـي ټـولنې تـه زیـان اړوي لکـه ،سـود،احتکار،خیانت

،دنارواشیانوخرڅول،ددوکې بیه په تول اوګزکې کموالی دنرخونو ټیټول اوښکته کول

۹:دخیر په چاروکې په لګښت دخلکو هڅونه اودهېوادداستوګنوترمنځ ټولنیز تکا فـل رامنځتـه

کول .په دې توګه چې هېڅوک بې کوره،بې پو ښاکه،بې خوراکه بې واده اوبې تعلیمه پـا تـې نـه

شي.پـه روالاروچـارولاس تـه راغلـی ملکیـت دعـزت وړ؛مګرناروااملکیتونـه دتنقیـدوړدي.هـېڅ

یوحکومت حق نه لري چې دزورله لارې له یوچاڅخه دهغه مال واخلي.

۱۰دالله تعالی بندګان په جسماني لحاظ په ښایست ،صحت اوددماغي قابلیت له امله یوشان

نه دي په همدې اساس درزق اوروزي تفاوت یومنـل شـوی حقیقـت دی، اسـلام درزق اوروزی

دلاسته راوړلوپه هلوځلوکي په مساوات قایل دی ،پـه ټولنـه کـې داقتصـادي تـوازن لپـاره یـې پـه

شتمنودزکات فریضه لازمه ګرځولې ترڅو یې په اړوخلکووېشي-اوپـا نګـه یـواځې دشتمنو پـه

لاس کې منحصره پاتې نه شي .

۱۱:داسـلام سـپېڅلی نظـام دیوهېوادتولیددټولووسـایلوددولتي ګرځولوپـه ټینګـه مخـالف

دی؛داځکه چې دفرد لپاره سیاسي ،ټو لنیزه اواقتصادي ازادي ضروري ده اسلام جابر (سر زوری

نظام) له پښوغورځوي چې دخلکو درزق کلیګا نې یې پخپل لاس کې نیو لې وي اودداسې نظام

هـم مخـالف دی چـې افرادوتـه ټـولنیزه اواقتصـا دي بـې واګـوازادي ورکـړي اودشخصـی ګټوپـه

خاطرټولنیز ي ګټې له خطرسره مخا مخ کړي .

۱۲:اسلام ددواړوتګلاروپرخلاف منځنۍ تګلاره ده چې هـم فـردي اوهـم ټـولنیزې ګټـې پـه

نظرکې ساتي اسلام په بې ځایه لګښتونو پا بندي لګوي اوبذراواسراف یې بولي اسلامي حکومت

کولی شي چې په شتمنی کې له نارواتصرفاتوڅخه دمخنیوي پـه خـاطر دحکـومتي فرمـان څخـه

کاروااخلي،کومه شتمني چې یوچاپـه خپـل ژونـد کـې تیـاره کـړې دده ترمړ ینې وروسته دده د

خپلوانوترمنځ وېشل کېږ ي اوکه خپلـوان یـې نـه درلـودل ټـول مـال بـه بیت المـال تـه سپا رلی

شي ،دغه قانون دلويې سرمايه دارۍ مخه نيسي ــ دلته يوڅوک لوی فيوډال (دلويو ځمکوخاند)اوميليونرنه پا تې کيږي

**لنډيز**

۱ – ډېرزوړاوفر سوده اقتصادي سيستم فيوډالي نظام دی چې په رومي ملت کې سابقه لري په ټوله اسيا اواروپا کې رايج ؤ اصلي امتداد يې له لسمې ميلادی پيړ ی نه ترشپاړلسمی ميلادی پوربغځول کيږي په منځنيو پيړيوکې اروپايي ټولنه په درې طبقومشتمله وه

۱ – خانان او اشراف ، غلامان اوروحانيون

۲ – دغلامی اسباب په جګړ وکې عدم اشتراک ، پو ر، اوخان ته زيان رسول اوپه جګړو کې نيول .

۳ – غلامی ددې په خاطر وه چې خانان دمزوژوند وکړي ښه لباس واغواند ي ښه خوراکونه وخوري اودنځا لوی محفل جوړ کړي ددې لپاره يې دغريب دوينو څښلو نه پرته بله چاره نه وه

۴ – په باغونو اَوځمکو به يې پرې کارکاوه اوپه ښو کې به يې زولنې پرتې وې په قمچينو به يې وهل اوله دوی به يې خوند اخيسته تورې به په لاسو کې ورکړی ترڅو يوبل وخرپوي دوی به په کټونوورته ناست او خت خت به يې خند ل.

۵ – په صليبي جګړوکی لس زره غلامان وتښتېدل اوهمدارنګه داروپا کې دصنعتی انقلاب په رامنځته کېدوسره غلامان ښارونو ته راوتښتېدل اوفيو ډالي نظام په پانګوالي بدل شو .

۶ – طبقا تي نظا م داسلام په تله شتون نه لري اسلام غلامی ته دپای ټکی کېښود .

۷ – پانګو اله دفيوډالېزم ځای نيوونکې دشخصي ملکيت دازاد ی پربنسټ قايمېږ ي دمال په لاسته راوړلواومصرف دواړوکې دهيڅ رنګه قيوداتو پابند نه وي .

۸ – فکري بنسټ يې رومي فلسفه تشکيلوی اودعيسی عليه السلام له لارښوونو سره سروکار نه لري .

۹- داتلسمې پيړ ی په منځنی برخه کې دجان لاک، ميرابو،اوفرانسواکيزني له خوايې داساس ډېره کېښودل شوه دادم سميت ، ريکاردواولوردکنزافکار هم په کې شامل دي .

۱۰- فردي ملکيت، په توليد اومصرف کې ازاد ي، سيالي اورقابت يې بنسټو نه دي

۱۱- دفرد کرامت ته درناوی دملکيت دفطري غريز ې وده اوپه توليدکې رقابت داقتصادی پرمختګ دلامل په حيث ددغه نظام دپيروانوله خوا مزايا ګڼل کيږي .

۱۲ – طبقات رامنځته کول ټولنيزوګټوته زيان اړول احتکار ، سود اخلاقي فساد،دشمنی په وېش کی لوی خلل ،دالهی نعمتونو برباد ول، اخ اوډب ، ما ده پرستی، عصبي ليونتوب ددغه نظام عيبونه دي .

۱۳ - کمونېزم يوټولنيزاقتصاد ي سستم دی چې دپا نګوالي پرخلاف فرد ي ملکيت له منځه وړي په خوراک ،څښاک ،پوښاک کور اوازادواج کې ټول خلک مشترک وي .
۱۴ - تاريخي شاليدې دميلادنه نولس پېړۍ سابقهلري په څلورمه قبل الميلاد دپېړۍ کې افلا طون دهمدې نظام دتطبيق پلوي کړې په شپږمه ميلادي کی ايراني مزدک هم دشتمنيواودښځو داشتراک مدعي شو .:مګرپه نولسمه پېړۍ کې يې مارکس ،انګلس اولينن ددې تصورعملي بنسټګردي اولينن يهودي په روسيه کې تطبيق کړ .
۱۵ - له الله تعالی اوتولومغيباتو څخه انکاراوله ټولودينونوسره مقابله دشخصي ملکيت لغوه کول ماده ازلي بلل ددوی معتقدات دي .
۱٦ - دسوسياليزم اوکمونېزم فرق: دشتمنيوپه تمرکزکې يو شان نظر لري مګرپه توزيع کې سره بېلتون مومي په کمونزم کې توزېع اووېش دحاجت پراساس ،په سوسياليزم کې دکارپراساس دی
۱۷ - سياسی تګلاره يې په جبر، استبداد اودکتا توري استواره اويوګونده حکومت باوري وي
۱۸ - دشخصي ګټو پای ته رسول اوله فردي اغېزوڅخه ددولت لېږې ساتل اواجتماعي ګټې په نظرکې نيول ددغه نظام پيروان ددغه نظام مزايا بولي .
۱۹ - فردي ازادي ختمول ، دکورني نظام ړنګول ، دبشر له فطر ت سره جګړ ه، اخلاقي اوټولنيز فسادته وده له ټولودينونو سره جګړه داقتصادي ازاد ی خا تمه، دکتا توري، جبراستبداد دانساني شخصيت خاتمه اونور ... ددغه ظا لمانه نظام عيبونه دي .
۱ ۲- داسلام اقتصاد ي سيستم مستقل نظام دی نه دپانګو الي اونه دکمونېزم سره ورته والی لري دلته په ثروت اومال دانسان ملکيت عارضي دی حقيقی مالک يې الله تعالی اوبشر دخليفه حيثيت لري په اسلام کې درې ډوله ملکيتو نه دی فردي ، عامه اودولتي دهېواد هر استوګن ته دکار باربرابرول کور،کالي ډوډۍ اواوبه صحي اوعلمي اړتيا وې پو ره کول په کې شامل دي .
هرکاريګر ته دهغه دلياقت سره برابره اومناسبه تنخوا ورکول لازمي دي اسلام په سود ، احتکار خيانت اودناروا شيانوپه توليد اواستهلاک بنديزلګولی دی دخيرپه چارو کې دلګښت هڅونه اودټولنيزتکافل رامنځته کول دي - داچې انسانان جلا استعدادونه لري داسلام سپېڅلی دين درزق اوروزي دلاسته راوړلو په هلوځلوکې په مسا وات قايل دی په ټولنه کې يې داقتصادي توازن لپاره دزکات نظام لازم ګر زولی دی

**پوښتنې**

۱ - فيوډالي نظام بشپړشرحه کړئ
۲ - دسرمايه داري نظام او دکمو نستی نظام اقتصاد ي بنيا دونه شرحه کړ ئ .
۳- دکمو نېز م اوسياسياليزم.او داسلام اقتصاد ي نظام فرق راوپېژنئ

## پنځم څپرکی

## په اسلام کې ملکیت اوډولونه یې

### پیلیزه

ملکیت دبشر فطري غریزه ده داسلام سپیڅلي دین وسط اومتو ازن نظام دی دکپیټا لستي اوکمونستي نظام په شان نهیوازې دفرد اونه یوازې دټولنې ترځنګ درېږي بلکې دفرداودټولنې دحقوقوموازي ساتنه کوي ددغه څپرکي زده ئیرې موخې دملکیت پېژندنه دشتمنیو ډولونه دفردي ملکیت اهداف دمال دځښتن حقونه دفردي ملکیت دحقونو پولې ،عام اوټولنیزملکیت اودعا مه ملکیت موخې تشکیلو ي .

### ۵-۱- دمال پېژندنه

په قران عظیم الشان کې مادي شتمنیو ته مال ویل شوی ،مال ورته ځکه وایي چې دانسان زړه ورته میلان لري داچې دانسان بدن له مادي اشیاءو څخه جوړښت موندلی نودزړه دتمایل پربنسټ مال بللی کېږي.

### ۵-۱-۱-دملکیت تعریف

ملکیت په عربي ژبه کې په یوشي قبضې،واک او تصرف ته وایي اوپه اصطلاح کې یوشخص پورې دیوشي اختصاص ته ویل کېږي چې په شرعي توګه یې په لاس راوړی وي له اصولي او قانوني موانعو پرته له خپل ملکیت څخه اصالةً او نیابةً داستفادې حق ولري.

البته دلویدیز نامتو قانون پوه استن یې داسې راپېژني:ملکیت په یوشي دیوشخص دحق ثبوت دی چې په استعمال اوتصرف کې یې دهېڅ قیدٰاوشرط پابند نه وي دملکیت دغه تعریف په اسلام کې دملکیت له تصورسره هراړخیزبېلتون لري.

### ۵-۱-۲-دشتمنیوډولونه

په اسلام کې شتمني لاندې ډولونه لري ۱-دشکل له حیثه لکه نقدي شتمني او چلېدونکې روپۍ ۲-عیني پانګه لکه اسباب ،الات او ماشینونه ۳- داستعمال له حیثه:ثابته پانګه غیرمنقوله جایداد لکـه ځمکـه، کورونه ،باغونه ،تعمیرونـه اوودانـۍ ۴- متداولـه پانګـه ۵-منقولـه جایـداد ،خام مواد ،موټرې ،الوتکې ،بسونه اورګادي ،مواشي اوداسې نور.. .........

۵-دجوړښت له حیثه مادي پانګه (پیسې،ځمکه،تعمیرونه،باغونه٦- غیرمادي پانګه لکه نبوغ،استعداد،پوهه ،لیاقت ٧- دشخصیت له حیثه:فردي (شخصي-شتمني) او عامه(اجتماعي شتمني)

**۵-۱-۳- فردي او شخصي شتمني**

**پیژندنه یې:**

شخصي شتمني هغه ده چې په ایجاداودکیفیت په جوړښت کې یې دبشري قوت اوکاردخل وي کارګر یې بایددملکیت حق ولري اوعامه شتمني هغه ده چې په هغې کې دبشري قوت اوکاروندډه نه وي. اسلام سپیڅلي دین فردي ملکیت ثابت کړی اوله هر رنګ تیري اوتجاوزڅخه یې ساتنه کړې ملکیت یې تنظیم کړی ترڅوفقرته دپای ټکی کیښودل شي.

**۴-۱-۵-دفردي ملکیت اهداف**

**۱-عادلانه سیالي**

دعادلانه سیالی اورقابت له لارې ټولوخلکوته داسوده ژوند شرایط برابرول،اسلام دښه کارپه لوري خلک هڅوي رواسیالي دکاردښه توب لامل ګرځي چې په نتیجه کې عاموخلکوته داسوده ژوندشرایط په لاس ورځي رواسیالي احتکارله منځه وړي لازمه ده چې دغه داسلامي اوشرعي معیارونوپربنسټ وي .اسلام دمارکیټ له انحصارسره چې دمحدودوشتمنوپه واک کې وي په ټینګه مبارزه کوي دغه کارپه رسمیت نه پیژني دغه کارداقتصادي فعالیت دبربادی لامل ګرځي.

**۲- ددولت نه مشغولتیا**

په تولیدي اوکاروباري چاروکې ددولت نه مشغولتیاچې خلک یې دکولوسه ولري په دې توګه چې دکمونستي نظام په څېربزګري ،دوکانداري ،ډرېوري،کلینري اوواړه واړه کارونه هم پخپله ذمه واخلي .ددولت ستر مسؤلیتونه

- ددین ښونه اوساتنه
- دحدودواقامه
- په نېکیوامراودبدیومخنیوي
- دعدل ټینګول
- دهېواددابادولوپلان جوړول
- داخلی امن اوبیرونی دفاع

- په مادي اوروحاني برخه کې دمملکت پرمختګ
- دمملکت دستروچاروړهبري اوڅارنه
- دلويوصنايعوپه پښودرول
- نړۍ واله سوداګري
- صحت ته پاملرنه
- دلويوپروژورامنځته کول
- دمملکت په شامل پلان نظردرلودل.

**۳-دمال دميني دغريزې اشباع**

انسان له مال سره په فطري توګه مينه لري دغه غريزه دفردي ملکيت له لارې پوره کيږي اسلامي فقهاؤدملکيت دلاسته راوړلوشرعي لارې چارې بيان کړي دي.

**۲-۵-دمال دښتن حقونه**

په دغه برخهکې به موږهغه حقوق بيان کړوچې اسلامي شريعت دمال ښتن ته ورکړي دي دغه حقوق څلوروبرخوته وېشل شوي دي .

**۵-۲-۱- داستعمال اوتصرف حق**

دمال هريوښتن ته دشرعي حدودوپه چوکاټ کې داستعمال حق حاصل دی قران عظيم الشان پردې ګواه دی چې په کايناتوکې دغه هرڅه الله تعالی دانسان دخدمت اوفايدې په خاطرپيداکړي دي انسان يې بايددنيوي اواخروي کاميابۍ په خاطرپه کارراولي خپل منقول اوغيرمنقول ملکيت هم ترميمولی اوهم تبديلولی شي دشريعت په حدودوکې دده په تصرفاتوهيڅ بنديزنشته مګرکمونستي نظام دانسان ارادې ته دپای ټکی ږدي دبرچې اوزورپه وسيله په انساني تصرفاتوپابندي لګوي .

دکمونستي اوپانګوالې اختلاف دملکيت په کميت کې ده ؛ څکه په کيفيت کې دواړه يوشان دي په دواړوکې په زنا،شرابو،لواطت اوفحشاؤبنديزنشته اسلام له دواړونظامونوسره هم په کميت اوهم په کيفيت کې اختلاف لري.

**۵-۲-۲- دګټې په خاطردکاروبارحق**

هرڅوک حق لري اوکولی شي چې خپله منقوله اوغيرمنقوله شتمني په زراعتي صنعتي اوسوداګريزکاروبارکې دشريعت په چوکاټ کې په کارراولي،دشرعي کاروبارلاندې طريقې دي

- داچې خپله پانګه په خپله پخپله په کرنه ،صنعت اوتجارت کې په کارراولي .

- چې خپل کاروبارله بل چاسره شریک کړي چې دیته مشارکت وایي .
- داچې خپله سرمایه په ګټه اوتاوان بل چاته وسپاري چې دیته مضاربت وایي.
- چې خپله پانګه په ټاکلې ګټې چاته ورکړي لکه سوددغه څلورم شکل حرام دی.

دسوددحرمت دټول امت په اتفاق ثابت دی په قران عظیم الشان کې ګڼ ایاتونه اودنبوي حدیثوپه هریوکتاب کې دسوددحرمت په هکله نبوي مبارک فرمانونه اوداسلامي فقهې په هرکتاب کې دسوددحرمت مباحث شتون لري، په قران کریم کې الله تعالی اورسول دسودخوروپرخلاف دجګړې اعلان کړی ددغه الهي فرمان مطلب دادی چې کچیرته سودخواره دیوقوت اوځواک په توګه وي اسلامي حکومت چې دالله تعالی اورسول دنماینده حیثیت لري دوی به دسودخورودله منځه وړلولپاره عسکري اومسلح اقدامات ترسره کوي اوله پښوبه یې غورځوي.

**۵-۲-۳-بل چاته دملکیت دانتقال حق**

دمال هریوڅښتن کولی شي چې خپل ملکیت دعوض اوپه بلاعوضه توګه بل چاته انتقال کړي لکه نغده پانګه ،منقوله اوغیرمنقوله شتمني ،بیه ،هبه اووصیت، ددې پرعکس کرایه اوعاریت دمنافعوانتقال دی نه اصل ملکیت دملکیت دبلاعوضه انتقال لپاره اسلام خلک هڅولي دي ترڅودبیوزلولاس نیوی وکړي لېکن دغه دمرګ دبسترپرمهال ساقط کېږي دمیراث دقوانینوپربنسټ به دغه شتمني وېشل کېږي دهبې (ډالۍ)لپاره ضروري ده چې مقابل شخص یې قبوله کړي .

البته که چیرته یوڅوک هېڅ خپلوان ونه لري دحنفي فقهاؤپه نیزددټول مال وصیت کولی شي حقیقت دادی.چې دملکیت دانتقال حق هغه څوک استعمالولی شي چې دشریعت په رڼاکې داهلیت څښتن وي بې عقل ،لیونی ،پاګل اوسفیه(کم عقل) دخپل ملکیت دانتقال حق نه لري .

**۵-۲-۴- دملکیت دتحفظ حق**

دمال هریوڅښتن ته دبل چادتېري اوتجاوزڅخه دخپل مال دساتنې حق په برخه ده دملکیت حق به هلته حقیقي اغیزه وکړي چې څښتن یې دبل چادمداخلې څخه ازادي ولري دخپل مال دساتنې اوحفاظت لپاره هغه خپل ځان هم قربانولی شي اودشهادت مقام ته رسېږي دعبدالله بن عمروڅخه راویت دی پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایي څوک چې دخپل مال دحفاظت پروړاندې ووژل شي هغه شهیددی .

په همدې توګه اسلام دغلواوداړه مارانودلاسونواوپښودغوڅولوحکم کړی دی .همدارنګه خپل مال هم ذخیره کولی هم شي څنې خلک دنغدې پانګې جمعه کول اوساتل داسلام دلاربښوونوخلاف بولي داپه هغه صورت کې چې دبخل پربنسټ وي؛ البته

دخپلوراتلونکوضروریاتودپوره کولواودنوروښواهدافوپه خاطردمال په ساتلواوذخیره کولوکې څه باک نشته.

## ۵-۳- دفردي ملکیت دحقونو پولې

دشتمنی دتصرف اواستعمال لپاره چې اسلامي شریعت کومې پولې اوحدود ټاکلي دي په لاندې توګه دي

### ۵-۳-۱-دشتمنی د بربادولو بندیز.

دملکیت داسلامي تصورلومړی غوښتنه داده چې فردته دې دخپل ملکیت دضایع کولو واک ورنه کړی شي داځکه چې ملکیت دحقیقي مالک امانت دی امین دامانت دبربادولوحق نه لري بیاانسان ته دملکیت دحق دورکولو اصلي لامل دادی چې دژوند داهدافو دحصول لپاره یې وسیله جوړه کړي دمال بربادول ددغه هدف سره ټکرلري له همدې کبله الله تعالی انسان ته دغه حق نه دی ورپه برخه کړی قران عظیم الشان دمال بربادول دفساد په حیث معرفي کوي هلته چې فرمایي

﴿ وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾ البقرة: ژباړه:او کله چې هغه ته قدرت په لاس ورشي نوپه ځمکه کې د هغه ټولې هلې ځلې ددې له پاره وي چې فساد خپورکړي،کښتونه لوټ کړي اوانساني ځوځات له منځه یوسي په داسې حال کې چې الله هیڅکله فسادنه خوښوي.

به یونبوي فرمان کې هم دمال دضایع کولو منعه راغلې ده پیغمبر علیه السلام فرمایلي دي (الله تعالی ستاسې لپاره درې شیان بد ګڼي بېځایه بحثونه ،دمال ضایع کول اوله خلکونه زیاتې غوښتنې کول)

ددغه روایت په توضیح کې حدیث پوهان داسې وایي : خپل مال په غیرشرعي لاروګول اوبې ځایه یې بربادول دمال ضایع کول دي دالهی لارښوونو په رڼاکې مال دانساني ژوندانه دبقاء مرستیال دی له دښمن سره دجګړې په حالت کې هم اسلام تروسې پورې دمال له بربادولو منعه فرمایلې ده ابوبکرصدیق رضی الله عنه چې دشام لوري ته دیزیدبن ابوسفیان ترمشرتابه لاندې کومې لښکرې لیږلې وې هغوی ته یې دلارښوونوپه ترڅ کې داسې فرمایلي ؤ زه درته لس وصیتونه کوم: ښځینه،ماشومان اوبوډاګان به نه وژنئ میوه لرونکې ونې به نه غوځوئ دغذایي ضرورتونوڅخه پرته ګډې اواوښان مه ذبحه کوئ دشاتومچې به نه سوزوئ اونه به یې دځالې دخپرولو کوښښ کوئ نه به خیانت کوئ اونه به دبزدلی اوډارڅخه کاراخلئ

البته دجګړې په حالت کې دښمن ته ماتې ورکول دمال له ضایع کولوپرته ممکن نه وي جوازيې شتون لري ؛مګرپه اسلام کې دمال ډېربادولو بنديزيوثابت اومنلى شوى اصل دى .

- **دلویدیز قانون له نظره .**

دلویدیزقانون په دې هکله وايي (خپله منقوله اوغیرمنقوله شتمني دمطلق ملکیت له مخې يې دضایع کولو حق خپل څښتن ته په برخه ده په دې شرط چې بل چاته پرې بده اغېزه ونه رسېږي) داسې معلومېږي چې دغه بحث عبث ځکه دی چې څوک دماغي رنځورنه وي هېڅکه پردې کارلاس نه پورې کوي واقعیت دادی چې دلویدیزپه پانګوالـه نظام کېدکرنیزو اوصنعتي محصولاتوبربادول کومه داريانتيا خبره نه ده ځکه هلته دعرضې اوتقاضادتعادل درامنځته کولوپه خاطراجناس له منځه وړل کېږي ځنې اجناس چې په ځنډسره خرابېږي لوی شتمن يې په له منځه وړلولاس پورې کوي د۱۹۳۱ نه تر ۱۹۳۴ پورې برازیل شل لکه ټنه قهوه په سیند لاهوکړه په ۱۹۳۲ کال جاپان شل لکه اوشل زره پنې وسوزولې ځکه عرضه ډېره وه له تقاضا سره دعرضې دسمون په خاطريې پردې کارلاس پورې کړ .

**۵-۳-۲-په ناروا لاروکې دمال دلګولو بندیز**

دمال لګښت به په غیرشرعي مصارفوکې نه وي لکه زنا ،قماراوشراب دټوپکواوراکټونوبې ځایه ډزې درقص اونڅا محفلونه جوړول اوداسې نور.. قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمايي﴿ وَءَاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرۡ تَبۡذِيرًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ ٱلۡمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخۡوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِۖ وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورٗا ﴿٢٧﴾ الإسراء[

**۵-۳-۳-په اسراف بندیز**

په قران کریم کې اسراف جامع اوهراړخیزه اصطلاح ده به رواچاروکېدزينت اوښکلا په خاطردزيات مال لګول اسراف دی دضرورت نه پرته دمال زيات استعمال دبېلابېلو مقاصدوپه خاطروي لکه شهرت اودشتمنۍ داظهارغیرشرعي احساسات پردې اساس اسراف دضروریاتودبشپړتیادحدنه اخوا اندازې ته ویل کېږي قران عظیم الشان اسراف ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمايي:﴿ وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ﴿٣١﴾ الأعراف﴾ ژباړه:او خورئ څښئ او له حد نه تیرى مه کوئ،الله له حدنه تیري کوونکي نه خوښوي.

عمرفاروق رضی الله عنه خپلوواليانواودولتي مسؤلينوته ليکلي ؤ چې لوړاودنګ تعمیرونه مه جوړوئ داځکه چې دغه دبدترينې زمانې اووخت نښه ده .

ایادامعقول کاردی چې دټولنې یوه خاصه طبقه دې دارام اوعیش سامان ځانته برابروي اونورخلک دې یوه مړۍ ډوډۍ نه مینده کوي له مهم ترینو ضروریاتونه پرته په نورولاروچارو کې دمال مصرفول مناسب کارنه بریښي

**۵-۳-۴-په عیاشی اومزوچړچوبندیز**

په عیاشی ،مزو اوچړچو کې مبالغه اوله حدنه تېری ناوړه کاراوځان ساتل ورڅخه ضروري دي له معاذبن جبل رضی الله عنه څخه روایت دی رسول الله صلی الله علیه وسلم یمن ته دلېږلوپرمهال ورته سپارښتنه کړې وه (ایاک والتنعم فأن عبادالله لیسوا باالمتنعمین : ژباړه : دمزواوچړچوڅخه ځان وساته ځکه چې دالله بندګان عیاشان نه وي په همدې توګه عمرفاروق رضی الله عنه عتبه بن ابی فرقد ته ویلي ؤ دمزوچړچو اودمشرکانو په څېردجامواودوړېښمو داغوستلوڅخه ځان وساته .

یوشخص په سوونوخادمان،موټرې،بنګلې لري اودښکلاپه سامان په لکونوروپۍ لګوي اوس پوښتنه داده چې دداسې خلکوپرخلاف څرنګه قانوني چلند په کاردی ؟ځواب داده چې دهېواددداخل ته دې دعیاشی په سامان بندیزولګول شي اوپه همدې توګه ددغسې اشخاصو په تصرفاتودې سانسورولګول شي داسلامي حکومت مسؤلیت دی چې په داسې وګړودحجرقانون تطبیق کاندي .

**۵-۳-۵-بل چاته دزیان رسولو بندیز**

دفردي ملکیت استعمال په داسې ډول روانه دی چې نوروافرادواویاېې ټولنې ته زیان ورسېږي بل چاته زیان رسول ظلم اوتېری ګڼل کیږي قران عظیم الشان دظلم اوتېري په کلکه غندنه کوي هلته چې فرمایي ﴿ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٣٧﴾ ﴾ ژباړه :حقه داده چې ظالمان هیڅکله فلاح اوبری نه مومي .

پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایلی دي په اسلام کې بل چاته زیان رسول روانه دي په همدې توګه له ابوبکررضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي (هغه څوک دالله تعالی په لعنت اخته دی چې مؤمن مسلمان ته زیان رسوي اویاېې پرخلاف په دسیسولاس پورې کوي.

دضرررسولو ګڼ مثالونه زموږ فقهاؤ بیان کړي دي دمثال په توګه په خپل کورکې دبېښ،ژرندې اوبټۍ لګول په بازارونوکې دکښواوګاډوهجوم ،دننګ اولوړعمارتونه جوړول

وهمدارنگه دگاونډي دکورپه لوړکړکی پرېښودل اوداسې نور... شامل دي په دې هکله بایدده‌پوادقانو جوړونکی اداري تصمیم ونیسي اودغه مسایل دې وڅېړي

## ٥-٣-٦-په ذي روحو املاکودتصرف حدود

په فردي ملکیت کې هغه څاروي هم شامل دي چې کارکوي لکه غوایي،اس،خر،کچراو اوښ له دغوشیانوڅخه دوسې سره سم کاراخیستل په کاردي له هغوی څخه دوسې نه زیات کاراخیستل جایزنه دي همدارنګه خواړه اواوبه ورکول يې حق ګڼل کېږي په یوروایت کې راغلي دي چې دپیغمبرصلی الله علیه وسلم په یواوښ تېرېدل وشوه چې خپله خېټه يې په ځمکه لګولې وه نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل دالله تعالی څخه ددغوڅارویوپه باره کې ووېرېږئ ترڅوچې دسورلۍ وړتیاولري پرې سورېږئ اوپه ښه حالت کې ورته خواړه برابروئ

## ٥-٣-٧-دملکیت دګټهورکاروبارحدود

په اسلام کې دپانګې دګټهوراستعمال لپاره هم څه حدوددي په هغې کې ترټولوزیات څرګندحدودبل چاته زیان رسول اودبل چاپې ځایه استعمال(دهغه دکوښښنواوکارڅخه ګټه پورته کول) دي دغه دومره پراخه موضوع ده چې دتفصیلي مطالعې لپاره يې یومستقل کتاب ته اړتیالیدل کېږي؛لیکن موږبه په لنډډول ورته اشاره وکړو.

په کاروبارکې دمنفي اخلاقي حرکتونوپه وسیله دګټې لاسته راوړل لکه دوکه اوفریب، مبالغه امېزه اشتهارات ،ټیټ مال په لوړمعیارمعرفي کول،په ټول اوپیمانه کې له ناسم معیارڅخه کاراخیستل،تاریخ تېرخوراکي توکي اودواګانې خرڅول،قیمتی ته دشیانوپه ذخیره کولولاس پورې کول،په سوداګریزه راکړه ورکړه کې دجبراوزورڅخه کاراخیستل،دخرڅونکي له خوااخیستونکي ته دخپل مال عیب نه په ګوته کول، داخیستونکي دزیاتې اړتیااوداضطراري کیفیت څخه کارنه ګټه نه پورته کول،په بشپړبازاراوملکت دڅوتنولکه ټینګول اودخلکوپرژوندلوبې کول،غوره بېلګه يې اوس مهال مافیایي کړی دي چې ددولتونوهم پرې زورنه رسېږي .

## ٥-٣-٨-دملکیت دانتقال حدود

بل چاته دخپل ملکیت په انتقال کې هم اسلامي شریعت ځنې حدود ټاکلي دي چې هغې ته شفعه ویل کېږي ستادملکیت دغیرمنقوله جایدادپه اخیستلوکې ستاګاونډی زیات مستحق دی دهغه له اجازې پرته دغه عقد قانوناً نه نافذېږي،په همدې توګه دوصیت په صورت کې دمال په دریمه برخه کې نفاذ صورت مومي دوه نورې برخې دوارثانومال دی په هغه کې وصیت نه جاري کېږي .

**۵-۳-۹-دپانګې دذخیره کولو اوساتلوحدود**

دشتمنۍ هرڅښتن کولی شي دخپلې کورنۍ دراتلونکي وخت داړتیاؤ اودخپلو وارثانو لپاره دمال په ذخیره کولولاس پورې کړي؛ لېکن دغه حق بایدداعتدال له ساحې څخه تجاوزونه کړي .اسلام هېڅ ته دغه حق نه دی ورکړی چې خپله پانګه بې ځایه ذخیره کړي اوله چلندڅخه یې وغورځوي دخپل ځان اودټولنې داړتیاؤ دپوره کولو نه تېښته وکړي په اسلام کې بخل له اسراف څخه کم نه دی دقران کریم دمطالعې څخه څرګندېږي چې دغه رنځ ډېرې ژورې ریښې لري په ټولنه ډېرې ناوړه اخلاقي اغېزې پرې باسي څرنګه چې اسراف اوتبذیر بېځایه دمال دلګښت نوم دی په همدې ډول بخل په خپل ځای اوپه خپل وخت دمال دنه خرڅ کولونوم دی په قران عظیم الشان اونبوي احادیثو کې دبخل ډېره زیاته غندنه شوې ده. لنډه داچې دمال څښتن ته دخپل مال اودارایې ذخیره کولو حق په برخه ده په شریعت کې دذخیره کولو معنا اومفهوم دانه دی چې حقدارانوته خپل حق ورنه کړی شي دبخل اوذخیره کولومفهوم دادی چې له ضرورته پرته ټولنه له الهي نعمتونوبې برخې کړۍ شي .

**۵-۴- عام( ټولنیز )ملکیت**

**۵-۴-۱-دعام ملکیت پېژندنه**

داله هغه ملکیت څخه عبارت دی چې منافع یې داسلامي دولت ټولواوسېدونکوپورې اړیکه ونیسي دهېوادچارواکي به یې دامانت په ډول ساتنه کوي اوپه عاموشرعي معتبرومصلحتونوکې به یې مصرفوي .

**۵-۴-۲- موخې یې**

دعام ملکیت څخه اسلامي شریعت پراخه هدفونه لري اومقصدیې دعاموګټولحاظ ساتل دي چې ځنې یې په لاندې توګه دي .

- دخلکو دضروریاتوپوره کول اوپه عامومسلمانانوپراختیا .
- دحکومتي لګښتونوپوره کېدل:لکه امن ،دفاع ،صحت ،ښونه اوروزنه ،خدمات ،مواصلات ددولتي مامورینومعاشونه اومادي پرمختګ .
- په بې وزلوپراختیا:داچې دټولنې ټول وګړي په جسماني صلاحیتونوکې یوشان نه دي ځنې په طبیعي شکل معیوب،ګوډاوشل دي ځنې یې اوږدوجګړوشل اوشوټ ګرځولي وي که دزکات اونفلي صدقاتوله لارې ددوی ستونزې حل نه کړی شي نوټولنه به په طبقاتي نظام تبدیله اودتباهۍ په کنده کې به وغورځول شي ځنې خلک به له مړښته چوي اوځنې نوربه له لوږې مري .
- دځمکې دابادۍ په عامو محصولاتوکې ددولت اوولس ترمنځ مرسته:په دې توګه چې

بيت المال خالي وي نوشاړې دښتي به څنګه ابادې ،کانالونه اوبندونه به څنګه اعماراوکانونه به څنګه رابرسيره اواقتصادي فعاليتونه به څنګه پرمختګ وکړي، تېل به څنګه استخراج اوطبيعي زېرموڅخه به څنګه استفاده صورت ومومي.

**لنډيز**

۱ - ملکيت دبشرفطري غريزه ده داسلام سپېڅلی دين متوازن نظام دی نه دفرداونه دټولنې ترڅنګ درېږ ي؛بلکې دواړه موازي پرمخ بيا يي

۲ - ملکيت په عربي ژبه کې قبضې ، واک اوتصرف ته ويل کېږ ي چې په شرعي توګه يې تر لاسه کړی وي له اصولي او قانوني موانعو پرته يې اصا لة اونيابة داستفادې حق ولري ؛مګر دلويديز قانون يې ديوشخص دحق ثبوت ګڼي چې په لاسته راوړلواستعمال اوتصرف کې يې هېڅ قيودات نه وي .

۳ - په اسلام کې شتمني فردي اواجتماعي دي دفردي شتمنی موخه :۱-عادلا نه سيالی اورقابت ۲-په توليدي چاروکې ددولت نه مشغولتياداځکه چې دولت سترمسؤليتونه لري لکه ښونه اوروزنه دحدودواقامه ،په نېکيوامراو دبدو چارومخنيوي، عدل ، دفاع ،امنيت ، صحت، بهروني سياست تجارت او صنعت. ۳-دمال دمينې دغريز ې اشباع

۴ - دمال دڅښتن حقونه :داستعمال اوتصرف حق، دګټې په خاطردکار وبارحق ،بل چاته دملکيت دانتقال حق، دملکيت دتحفظ حق

۵- دفردي ملکيت دحقونو پولې : دشتمنی دبربادولوبنديز ، په ناروا لاروکې دمال دلګولوبنديز په اسراف بند يز، په عياشی اومزو بنديز، بل چاته دزيان رسولوبنديز ، په ذېروحو املاکو دتصرف حدود ، دملکيت دګټورکاروبارحدود، دملکيت دانتقا ل حدود، دپانګې دذخيرِ ه کولو اوساتلوحدود

۶ - عامه ملکيت چې منافع يې ددولت ټولواستوګنو ته شمول پيدا کړي دعامه ملکيت هدفونه دادی - دخلکودضرورياتو پوره کول ، دحکو متی لګښتونو پوره کېدل په بې وزلوپرا ختيا ، دځمکې دابادۍ په برخه کې ونډ ه اخيستل

**پوښتنې**

۱ - ملکيت په اسلام اودغربي مفکورې له نظره وليکئ .

۲ - دفرد ي شتمنی اهداف راپه ګوته کړئ.

۳ - ددولت ترمسؤ ليتونه کوم دي ؟

۴ - دمال دڅښتن حقوق وښاياست؟

# شپږم څپرکی

## داسلا مي دولت دبيت المال سرچينې

**پيليز ه**

اسلامي پوهان څلورشيان دبشردفطري اړتيا ؤڅخه بولي :خو راک ، پوښاک ، کور، سياست اوحکومت، حکومتونه په فوځ ،صحت ښوونې اوروزنې اودهېواد درغاونې لپاره لګښت ته اړتيا لري اولګښت خوپه بيت المال سره سرته رسېږ ي اوبيت المال سرچينې غواړي ددغه څپرکي زده کړه ئيز موخې داسلامي بيت المال عوايد :ملي شتمني، کاني ذخيري، زکات اوعشر، جزيه ، فئ، غنيمت، دځمکې کرايه کاروباري ګټې ،اوقاف اوعطا يا ، عشور، اموال فاضله،لقطه، ماليات، ګټې عايد اتي سرچينې ، تعزيري مالونه اولاوارثه شتمنی دي

**٦-١-ملي شتمنی**

دهيوادتولې غيرمملوکه ځمکې دځمکې پرسطحه کاني ذخيرې ،ځنګلونه ،څرځايونه ،پلونه ،سرکونه ،بارکونه، سيندونه ،جهيلونه چينې ،غرونه ،اګرکه دفردي استفادې په خاطرورڅخه هرڅوک ګټه اخيستلی شي ليکن په مجموع کې اسلامي رياست تـه دټولنيزواهـدافودتحقق په خاطر دګټې اخيستنې بشپړحق په برخه ده داوبودذخيروڅخه به داوبورسولواود برېښنادتوليدلپاره کاراخيستل کېږي چې ددې ټولوعوايداومحصولات دبيت المال اقتصادی مهمه سرچينه جوړوې.

**٦-٢-کاني ذخيرې**

په دولتي ځمکوکې ټول ددولت مال شمېرل کيږي دولت به يې دعوض په مقابل کې چاته په اجاره ورکوي .

**٦-٣-زکات اوعشر**

دبيت المال په سرچينوکې مهمه سرچينه داسلام بنستيزرکن رکات دی په قران عظيم الشان کې دېرش ځايه راغلی اوپه اوه ويشت ځايونوکې دلمانځه سره يوځای ذکرشوی په هربالغ مسلمان دنصاب په درلودلوسره په کال کې يوځل لازميږي .دنابالغوهلکانوپه مال کې نشته؛ البته عشرپرې لازميږي منکريې کافراو نه ورکونکي سره يې جګړه هم کيدای شي حکمت اومصلحت يې دادی چې له شتمنودې واخستل شي اوپه بې وزلودې وويشل شي.

**٦-٣-١- دزکات بېلابېل مالونه اونصابونه**

**١-سره اوسپين زر**:دسپينوزرونصاب دوسوه درهمه ٢،٤٢٠گرامه او٣٦تولې پنځه ماشې اوڅلوررتې کيږي دوه نيم فيصده زکات پرې لازمېږي ،دسروزرونصاب شل ديناره ديودينارو زن يومثقال اوسنی اندازه يې اوه نيمې تولې اويا٨٧،٠گراموسره برابره ده

**۲-بانک نوټونه**

هررنگ نغده پانګه که دسیکوپه بڼه وي اویادنوټ په شکل وي په دې شرط چې ارزښت یې دسرواویاسپینوزرونصاب ته ورسیږي زکات پرې لازم دی.

**۳-سوداګریزسامان**

لکه ځمکه ،تعمیرونه،باغونه ،موټرې ،غله دانه ،لرګي،پنبه ټوکر،څپلی،قرطاسیه باب لنډه داهرشی چې تجارتي شکل غوره کړي دهغې په قیمت کې دوه نیم فیصده زکات لازمیږي؛البته دحمل اونقل وسایل چې دخپل ضرورت لپاره وي زکات په کې نشته کارخانې،الوتکې ،بیړی ،ماشین الات اودسفربري موټروپه حاصلاتواوګټه کې دوه نیم فیصده زکات لازمیږي.

**۴-حیواني محصولات**

لکه اوښان،ګډې،اوزې،پسونه ،غواګې،اومیښې زکات لري داوښانونصاب پنځه دګډواواوزوڅلویښت دغوایانودیرش دی

**۵-کرنیزمحصولات**

هغه څه چې ځمکه یې تولیدوي عشرپه کې لازم دی ثبوت یې په قرانکریم شوی دځمکې دتولیداتوزکات دحاصل اخیستلوپروخت فرض دی حنفي فقهاءدځمکې په ټولوپیداواروکې زکات لازم بولي په ارتې اودتیوب ویل په وسیله دخړوب شویوځمکونصف العشریعنی په شلومنوکی یومن عشرلازمیږي په همدې توګه که لږوي اوکه ډیرعشرپه کې شته.

**۶-۴-درکاز پنځمه**

په ځمکه کې ښخې خزانې چې اسلامي دورنه مخکې مهرولري پنځمه برخه یې بیت المال ته تحویلیږي اوکه داسلامي دورمهرپرې باندې وي دلقطې حکم غوره کوي دغه پنځمه برخه په نبوي فرمان سره ثابته ده

**۶-۵- خراج**

خراج دځمکې دهغې کرایې نوم دی چې اسلامي حکومت یې دخپلوځمکوپه مقابل کې دکافرانوڅخه اخلي هغه ځمکې چې په زورسره فتحه شوي ټولې دولتي دي حکومت یې خلکوته په کرایه ورکوی چې دغه بیاپه دوه ډوله دي

**۱:خراج وظیفوي:**

چې ځمکی هرڅومره وکړه دولت ته به لس منه اویاشل منه تحویلوې

**۲:خراج مقاسمه**

دمحصولاتوپه تناسب ده چې هرڅومره یې وکړه په نیمایي اویاپه دویمه برخه کې لازمیږي،عمرفاروق رضیرالله عنه دایران اوعراق ځمکی خراجی ګرځولې وې.

### ٦-٦- جزیه

جزیه دنورودینونوښتنانوباندې دټکس څخه عبارت ده چې داسلامي هیوادتابعیت ولري دعسکري خدمت اوامنیت په بدل کې ترې اخیستل کېږي که اسلامي حکومت ددوی امنیت تامین نه کړي جزیه پرې نشته .دجزیې حکم په قران عظیم الشان ثابت دی . ماشومان ،ښځې ،ډاګان،ګوډاوشل ورڅخه مستثنی دي .

### ٦-٧- فئ (تسلیمي )مال

داهغه مال ته ویل کېږي چې له جګړې پرته دمسلمانانوته په لاس ورشي که هغوی تېښته وکړي اویاتسلیم شي .دفئ په مال کې منقول اوغیرمنقول جایدادراځي دغه دولتي مال ګرځي اوپه غازیانو،نه وېشل کېږي دحشرپه سورت کې ددې ذکراغلی دی

### ٦-٨-غنیمت

داله مال څخه عبارت دی چې له کافرانوسره په جګړه کې دزورله لارې ترلاسه شي ددې مال پنځمه برخه بیت المال ته ځي اوڅلوربرخی په مجاهدینووېشل کېږي داسلام په لومړي دورکې هرڅاجهادکاوه ،مګراوس خودولتونه خپلوسپاهیانوته وسایل برابروي پردې اساس دجګړې په ډګرغنیمت شوې وسلې دولتی مال ګڼل کیږی؛ البته یوصورت داکېدای شي چې دوسلوقېمت ورکړي .

### ٦-٩-دځمکی کرایه

هغه زراعتي فارمونه چې دولت یې په اجوره اوکرایه ورکوي په همدې توګه سرایونه دوکانونه دموټرواډې اوداسې نور....

### ٦-١٠- کاروباري ګټې

اسلامي ریاست دخپلوټولنیزوګټولپاره بیلابیلې دګټې لارې چارې په کاراچوي دمثال په توګه په مضاربت چاته پیسې ورکوي اویابېلابېل شرکتونه جوړوی لکه هوایي شرکت ،ددوا شرکت ،نساجی شرکت اوصنعتي شرکتونه اوداسې نور..........

### ٦-١١- عطایااوقاف

دبیت المال دسرچینوڅخه عطایا(مالي مرستې )اواوقاف دي مسلمان له زکاته پرته خپل مال،ځمکه اوجایدادالله تعالی په لارکې دهدیې،هبې اووصیت له لارې وقف کوي او په مرستې لاس پورې کوي درسول صلی الله علیه وسلم نه وروسته دمدینې خلکوخپلې ځمکې،باغونه اوکورونه مهاجرینوته وړاندې کړل ؛مګررسول الله دغه کارغوره ونه باله هغه دمدینې په ښاروځمکوکې مهاجرینوته دکورونوجوړولواهتمام وکړ.

په دې زمره کې دمسلمانوهېوادونواودنړۍ والې ټولنې اودنوروددولتونومرستې هم راځي داسلام په لومړي دورکې بين لمللي اداره نه وه البته ددې ثبوت شتون لري چې رسول الله دېروحکمرانانوډالۍ قبولې کړي دي دمصرپاچامقوقس اودحبشې پاچانجاشي ورته دليک په ځواب کې ډالۍ استولې وې .

**٦-١٢- عشورياوارداتي ټکس**

اسلام دازادتجارت غوښتونکی دی غواړي چې ديوممملکت اضافه توليددې بل هېوادته پرته له قيده ولاړشي داسلام په لومړيووختونوکې به چې مسلمانانوبهرونيوهيوادونوکې کاروبارکاوه هغوی له مسلمانانومحصول اخيسته مګرکافران به چې اسلامي هېوادته دسوداګرۍ لپاره راتلل پردوی به هيڅ نه ؤپرهمدغه اساس عمرفاروق رضی الله عنه خپلوواليانوته وليکل دکافروسوداګروڅخه دومره محصول واخلئ چې څومره يې زموږله سوداګروڅخه اخلي .

دغه ټکس به په کال کې يوځل اخيستل کېده کله به يې چې واردات اضافه کول نومحصول به يې کم کړاوچې کمول به يې محصول به يې زيات کړهغه شيان به چې خرابيدل په هغې به يې محصول نه اخيسته عبدالله بن عمرفرمايي چې عمرفاروق رضی الله عنه دتيلواوغنموپه محصول کې ترنيمايي پورې کموالی راؤست ترڅوپه مدينه کې يې مقدارزيات شي .

**٦-١٣-اموال فاضله**

له دې څخه له بېلابېلولارويت المال ته دمال راتلل دي لکه دمرتدمال اوجايداد،دباغيانو، اهل ذمه ؤمال دځنګلاتوحاصلات ،دکانودپنځمې برخې حاصل.

**٦-١٤- لقطه اوبې څښتنه مال**

په دې کې ټول شيان شامل دي چې څښتن يې ورک شوی وي لومړی بايددڅښتن درک معلوم شي که چېرې تريوکال پورې معلوم نه شي نوبيادې خيرات اويادې بيت المال ته تحويل کړی شي .

**٦-١٥-اضطراري ټکس** :دکوم مصيبت ،سيلاب ،زلزلې اويادخزانې دتشوالي له امله حکومت په شتمنوټکس لګولی شي

**٦-١٦- ګنې عايداتي سرچينې**

لکه دبرېښنا،هوايي ،ځمکني اوبحري جهازونه، دډبروسکاره ،تېل ،ګيس، مالګې داوسپنې داستخراج څخه ترلاسه شوي ګټه ،عمربن عبدالعزيزرحمة الله عليه دعراق يوجهيل په کرايه ورکړی ؤ همدارنګه لاوارثه شتمني هم په دې جمله کې دي.

# اووم څپرکی

## دملکیت دلاسته راوړلوشرعي لاې چارې

داچې انسان اشرف المخلوقات اوملکیت دبشرفطري غریزه ده کوم نظام چې دبشرله فطرت سره جگړه کوي پایښت نه لري دملکیت دترلاسه کولو لپاره اسلامي شریعت یوچوکاټ لري دملکیت دلاسته رواړلولپاره موږته دغه وېش ډېرمناسب ښکاري لکه په مباح شیانوقبضه ،دمعاهدې په وسیله دملکیت انتقال ، دمیراث په ذریعه دملکیت انتقال ،دملکیت دثمراتوله لارې ملکیت ته وده ورکول ددغه څپرکي زده کړه ئیزې موخې دملکیت دلاسته راوړلوشرعي لارې چارې اودفردي ملکیت په تصرفاتوکې ددولت مداخله اوتولنیزاقتصاد ي پلانونه دي

### شرعي لاې چارې

### ۷-۱-۱په مباح شیانوقبضه

. ټول هغه شیان چې دچاپه ملکیت کې نه وي اواسلامي قانون یې په شخصي-ملکیت کې دراتلوقابل وگڼي په انفرادی ملکیت کې راتلای شي ددې اطلاق دشاړوځمکوپه ابادولو،په ښکاراودښکارپه ابتدایي قبضې ترسره کېږي په استثنایي حالاتوکې هغه غازي چې کافرووژني سامان یې دده ملکیت گڼل کېږي.پیغمبرعلیه السلام فرمایي (من قتل قتیلافله سلبه ) ژباړه : چاچې یوکافرروواژه سامان یې دهم ده دی.دشاړوځمکوڅخه علاوه دځنگله ښکاري حیوانات ،اوبه ،واښه اوپه همدې توگه دغیرمملوکه ځمکوونې بوټي اومیوې هم په کې شاملې دي .دښکارپه وسیله په حیواناتودقبضې لپاره شرط دادی چې اسلامي ریاست ددولتي مقاصدولپاره خاص گرزولې نه وي .سمندرونه ،دریابونه ،داوبولویي ذخیرې په انفرادي ملکیت کې نه شي راتلی؛البته دضرورت په اندازه هرڅوک ترینه گټه اخیستلی شي، کومې اوبه چې له دغوذخیروڅخه ووېستلی شي اومحفوظې کړی شي په شخصي-ملکیت کې راتلی شي. دڅاگانواوبه په بنستیزه توگه مباح دي مگردڅاه ښتن کولی شي دشاوخواځمکودخړوبولوڅخه یې منعه کاندي دسیندونوپه اوبوکې چې کوم کبان موندلی شي هغه عام مباح دي دقبضې په صورت کې شخصي-ملکیت وگرځېد؛البته دبل چاپه ځمکه کې مباح شي ته درسېدواویاتېرېدلولپاره دهغې دڅښتن اجازه ضروري ده .

کانونه اوښخ کړی شوې قیمتي سکې اوڅرگندمعادن چې په لاسته راوړلوکې یې زیات کوښښ ته اړتیانه وي لکه قیر،پاره سیماب اونورکیمیاوي موادلکه سلفر،فاسفورس ،نایتروجن ،اکسیجن ، هایدروجن پراکساید اوپه داسې نورو...دقبضې په صورت کې پرې ملکیت حاصلیږي ؛البته دغه ذخیرې په بشپړډول ټولې په فردي ملکیت کې نه شی راتلی داړتیاپه اندازه

ورځخه استفاده کولی شی.باطني معادن چې په لاسته راوړلوکې يې ډېرزياراولګښت ته اړتياوي لکه دسرواوسپينوزرو
اواوسپنې کانونه، دحنفي، شافعي اوحنبلي فقهاؤپه نيزدکه چېرته دغه شيان په مملوکه ځمکه کې وموندل شي دځمکې د څښتن ملکيت ګڼلی شي مګرپه غيرمملوکه اومباحوځمکوکې که وموندل شوه دموندونکي ملکيت ګڼل کېږی ؛مګردمالکي فقهاؤپه نيزددغه ټول داسلامي رياست مال دی ؛ البته ښخ شوي قيمتي اوتاريخي اثاردسرواوسپينوزروکوزې، لوښي اوسکې که څرګنده شي چې داسلامي دورنه دمخه، نه دکوم مسلمان اويادمي مال دی دغه شيان دموندونکي مال ګڼلی شي په دې شرط چې په مملوکه اوياغيرمملوکه ځمکه کې وموندل شي که په دولتي ځمکه کې وموندل شي ددولت مال ګڼلی کېږي کچېرته داسلامي دورنښې پرې وموندل شي اوپه شخصي ځمکه کې وموندل شي دلقطې حکم لري دموندونکي ملکيت نه شي ګڼلی ،دځنوفقهاؤپه نيزددفيني (ښخ شوي) دمشتبه کېدوپه صورت کې غيراسلامي دورپورې دې وتړل شي .

**۷-۱-۲-دمعاهدې په وسيله دملکيت انتقال**

دملکيت دلاسته راوړلودويمه لاردترون په وسيله دملکيت انتقال دی چې دغه په دوولاروترسره کېږي يودعوض په مقابل کې لکه سوداګريزه راکړه ورکړه اوبل بلاعوضه لکه دډالۍ اوانعام ، په همدې توګه له دې جملې څخه وصيت هم دی چې دمالک له مړينې وروسته اړونده ملکيت انتقالېږي دوصيت نه پرته په نوروتړونونوکې ددواړوارخونوخوښې شرط ده.

دهبې (بخشش) اووصيت په لړکې داسلام اصول دادي چې دغه معامله به دجبر،زوراودوکې پربنسټ نه وي چې يولوری دبل شخص دبوډاتوب ،کمزوری اوداحتياج څخه ګټه پورته کړې وي ،ځنووختونوکې دملکيت انتقال دجبراوزورپه وسيله ترسره کېږي ددې کارڅرګندمثال دشفعې حق دی په دې توګه چې يوڅوک خپل کور،ځمکه اوباغ خرڅوي ددې ځمکې داخيستلولومړی حقداردده ګاونډی دی .

**۷-۳-۱- دميراث په وسيله دملکيت انتقال**

دملکيت دانتقال بله وسيله دوينې اشتراک دی چې دمړي تروفاته وروسته دده مال دقران عظيم الشان اونبويسنتود لارښوونې مطابق وېشل کېږي، د لويديزپه قانون کې يوشخص کولی شي خپل مال پيشواوياسپي ته دوصيت په توګه ثبت کړي؛ مګراسلامي قانون دغه صلاحيت مرګ ته له نيژدې شخصيت څخه اخيستی ؛البته دده وصيت دمال په درېيمه برخه کې جاري کېدای شي دوه برخې مال دوارثانودی دهريووارث برخې شريعت ټاکلي دي ؛داځکه چې په اسلام کې دملکيت حقيقي مالک الله تعالی دی دبشرحيثيت نيابتي دی په همدې توګه دکورني نظام

داداري دبقااواستحكام په خاطردميراث طريقه ډېره ضروري ده يوځل دفرانسې ددولت پارلمان پريکړه کړې وه چې دهرشخص ترمړينې.وروسته بايددده مال دولتي شي ددې قانون په پلې کېدوسره دفرانسې ټول اقتصادي څرخ په ټپه ودرېدهرچاويل ترمرګه مې همدغه مال بس ده چې زماوارثانوته په ميراث نه ورکول کېږي زه کاروباراوماموريت څه کوم،په پای کې دفرانسې دولت دغه قانون بېرته لغوه کړ .

**۷-۴-۱-دملکيت ثمرات**

دملکيت دلاسته راوړلووروستنی وسيله دملکيت ثمرات دي لکه دباغونوميوې،څاروي ګډې،اوزې چې بچې زيږوی اوزياتوالی مومي دغه ټول شيان دمالک مال ګڼل کيږي .
همدارنګه مزارعت هم دملکيت دثمراتو دجملې څخه ده په کوموهېوادونوکې چې هلته صنعت پرمختګ نه وي کړي هلته تمرکز په کرنه وي چې دېته مزارعت وايي.

**۷-۱-۵-دشاړو ځمکو ابادول**

رسول الله صلی الله عليه وسلم دشاړوځمکو دابادولواودهغې دملکيت په باره کې هغه اصول غوره کړي کوم چې په ځمکه کې دبشري توکم له پيل څخه دود ؤاوهغه داچې هر څوک.شاړه ځمکه اباده کړي هغه دهمده ده په يونبوي فرمان کې داسې راغلي دي(عن جابران النبي صلی الله عليه وسلم قال من احياارضاميتة فهی له ) ژباړه: له حضرت جابربن عبدالله څخه روايت دی چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي،هرهغه چاچې شاړه ځمکه اباده کړه هغه دهغه ملکيت دی.

په دې خبره خوټول اسلامي مجتهدين اوفقهاء سره متفق دي چې شاړې ځمکې دابادولوپه وسيله دهغه چاحق ګرځي چې اباده يې کړی ،امام ابوحنيفه دلامام اجازه شرط بولي ؛مګر نورامامان دشاړوځمکوپه ابادولوکې دوخت دامام اجازه شرط نه بولي خوامام مالک شاړې ځمکې په دوه ډولو وېشلي اوويلي يې دي هغه شاړې ځمکې چې ابادې سيمې ته نيژدې وي دهغو په ابادولو کې دحکومت منظوري اواجازه شرط ده اوهغه چې له ودانې څخه لرې پرتې وي په هغې کې دامام اجازه شرط نه ده

**۱-۷-٦-کانونه**

له ځمکې څخه وروسته په اقتصادي لحاظ ترټولوستره اقتصادي سرچينه تشکيلوي څکه چې دزياتروصنايعولومړنی موراددکانوڅخه په لاس راځي اسلامي قانون پوهانو په دووبرخووېشلي دي
**۷-۷-۱-ظاهري معادن** : دظاهري معدنونوڅخه مقصدهغه معدنونه دي چې جوهريې دکارڅخه پرته ښکاره وي کاراوکوښښ يې بواځې دحصول لپاره اجراء کېږي که کارسخت وي اوکه اسانه خودظاهرولومحتاج نه وي لکه مالګه اونفت ،ياقوت اوداسې نور......

**۱-۷-۸-باطني معادن**

دباطني معدن څخه هدف هغه دی چې له کاره پرته یې حقیقي جوهرنه څرګندیږي لکه سره زر،اوسپنه اوداسې نور... ظاهری معدنونه دچاپه ملکیت کې نه راځي اونه یې دوخت مشر،کوم شخص ته په شخصی ملکیت ورکولی شي افرادیواځې په هغه مقداردمالکیت حق لري چې دمعدن څخه یې راوېستلي وي اوپه خپل تصرف کې یې راوړي وي خوپه دې شرط چې دمعقول حد څخه تجاوزونکړي اوداجتماعي ضررسبب ونه ګرځي،باطني معادن چې دځمکې سطحې ته نژدې وي حکم یې دظاهري معادنوپه څېردی دځمکې په تل کې دپرتومعادنوحکم دباطني معادنوپه شان دي

**۲-۷- د فردي ملکیت په تصرفاتوکې ددولت مداخله**

داسلامي ریاست سترمسؤلیت مسلمان ښاریان ددین پابندګرځول په هېوادکې داسلامي شریعت نفاذ،دټولنیزوګټوساتنه ،دعدل قایمول اوهرشخص دنوروخلکوله ضررڅخه خوندي ساتل دي،اسلامي ریاست ذدې مسؤلیت لري چې خلک دالله تعالی په دین روان اوداسې تدابیرپه کارواچوي چې ټولنه دپرمختګ ،خوښی،امن اوسکون زانګوجوړه شي ، بشري تاریخ څرګنده کړې ده چې په ټولنیزژوندکې سمون قانون رامنځته کولی شي. یواځې په ښوونه اوروزنه ،هڅونه اولارښونه کارنه شي کېدای حضرت عثمان رضی الله عنه څومره ښه ویلي دي ( الله تعالی چې دزورپه څواک څومره اصلاح اوسمون رامنځته کوي یواځې دقران په تبلیغ نه شي رامنځته کیدای. پردې اساس دولت مکلفیت لري چې دفردي ملکیت په تصرفاتو کې مداخله وکړي اودزورڅخه کارواخلي.

**۱-۲-۷-حجر(بندیز)**

دحجرشرعي مفهومدیوشخصدمالي تصرفاتوله مخنیوي څخه عبارت ده چې دغه بندیزدده اودنوروخلکودګټې په خاطروي. سفیه(ناپوه) هغه شخص دی چې خپله شتمني داسراف په توګه په غیرشرعي لاروچاروډخپلې غوښتنې سره سم په لګښت رسوي ددې کاریواساسي عامل ناپوهي اودخپلوګټواومصالحوڅخه تېرېدل دي. په ناپوه دبندیزدلګولودمشروعیت دلیل دالله عزوجل دغه وینا ده﴿ وَلَا تُؤْتُوا۟ ٱلسُّفَهَآءَ أَمْوَٰلَكُمُ ٱلَّتِى جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمْ قِيَٰمًا وَٱرْزُقُوهُمْ فِيهَا وَٱكْسُوهُمْ وَقُولُوا۟ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٥﴾ ﴾النساء ژباړه:اوخپل مالونه چې الله هغه ستاسې لپاره دژوندد سمبالښت وسیله ګرځولې ده ناپوهانوته مه سپارئ البته دهغو دخوراك اواغوستن لپاره ورکړئ اوهغوته سمه لارښوونه وکړي.

نوپه ناپوه سړي به دده دخپلوانوله غوښتنې سره سم بنديزولګول شي ترځوونه شي کولای چاته خپل مال دهبې (ډالی)د اخيستلواوخرڅولودتړون په صورت کې ورکړي دغه بنديزبه تر هغه پورې پاتې وي ترڅوسمې لارې ته راوګرځي اوپه ده کې دپوهې نښې نښانې څرګندې شي دپوهې نښې نښانې يې دادي.۱:داچې دځوانی نښې پرې څرګندې شي نارينه وي اوکه ښځينه ۲:د ليوني څخه دليونتوب دنښوله منځه تلل هم په کې شامل دي ۳:هغه فاسق انسان چې په بدوچاروېې لاس پورې کاؤدحق په لاره برابرول اودناپوهی له چاروڅخه يې ايسارول دي

الله تعالی په خپل سپيڅلي کلام کې دغه مطلب داسې بيانوي ﴿ وَٱبۡتَلُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنۡ ءَانَسۡتُم مِّنۡهُمۡ رُشۡدٗا فَٱدۡفَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ النساءژباړه:اويتيمان ترازموينې لاندې ونيسئ تردې پورې چې هغوی دنکاح کولومنګ ته ورسيږي بياکه تاسې په هغوکې اهليت وليده نودهغوشتمني هغوی ته وسپارئ

✓ دحجر(بنديز)سببونه

**۱-دناپوهی له کبله :**

دغه ناپوهي که دعمردلږوالي اوياداچې په خپلوګټودېرلږپوهېږيږه دغه بنديزکې له کوچنيوالي څخه دده روزنه کيږي اوورته ويل کيږي چې ستاپه پيسودژوندانه دارومداردی بی ځايه پيسې لګول ښه کارنه دی ځنې وخت بيادحجر(بنديز)په اسبابوکې دعمرزياتوالی هم شامل وي.

**۲-دفسق اوګناه له کبله:**

داچې خپله شتمنی دګناه په چارواوناروؤکې په کارواچوي نو په بنديزسره يې دمال له ضايع کېدوڅخه مخنيوی کيږي .

**۳-دپوروړتوب له امله:**

دبل چادحقوقودساتنې اودده دمال دساتنې په منظورکه چېرته يې ټوله شتمني په پورکې له منځه تلله اويايې پورپه موجوده شتمنی وراؤښت نوپه دغه صوت کې به دپورورکوونکوپه غوښتنې سره سم پرې بنديزولګول شي.

**۷-۲-۲- احتساب**

احتساب داسلامي رياست مهمه فريضه ده په نېکيوامراوبدومخنيوی يې مهمه دنده ده دغه يوه هراړخيزه وجيبه ده چې دژوندله هراړخ سره سمون خوري دتاريخ په بېلابېلوپړاؤنوکې به اسلامي حکومتونوورته ځانګړی اهتمام کاوه اوپه دې نوم يې ځانګړې ځانګه درلوده دغې ځانګې په مادي ،معنوي ،اخلاقي ټولوبرخوکې فعاليت کاوه ديته به يې ليدل چې کوم نېک

خوپه عملي توگه نه دی پرېښودل شوی اویاخوپه ښکاره توگه په بدعمل لاس نه دی پورې شوی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم داسلامي ریاست دمشرپه حیث منډايي ته ورتلویوځل یې دغنموپه ډېری کې خپل مبارک لاس ننوېست غنمولوندوالی درلودوېې فرمایل داولې؟ سوداگرپه ځواب کې ورته وویل دېته دباران څاڅکي رسېدلي دي ،رسول الله ورته وویل دابه دې لپاسه گرځولي وای فرمان یې صادرکړچې څوک له موږسره په خیانت لاپورې کوي له موږڅخه نه دی) په همدې توگه یې ددې کارلپاره یوڅانگړی مامورمقررکړی ؤچې دغه کاربه یې سرته رساوه دعمرفاروق رضی الله عنه دخلافت په وخت کې به هغه پخپله هم ځنې وخت دغه کارکاوه یوځل یې مخلوطی شیدی په ځمکه واړولې ترڅودغه کار،بل څوک تکرارنه کړي هغه عبدالله بن عتبه په رسمي ډول په دې کارگومارلی ؤ موږبه داوسني وخت له ظرفواوشرایطوسره سم ځنې چارې په گوته کړو.

- **په اقتصادي برخه کې**

ناکاره اوایکسپایرشویوخوراکي توکواودواگانوځارنه اوسوزونه ،دقصابی دغوښوکتنه اومعاینه په همدې توگه په چای اومساله کې دملاوټ، په تېلواوشیدوکې داوبوگډون، مارکیټ ته دلوکسوشیانوپه راوړلواوهمدارنگه په توکرداصیل اوکم اصل اودنرخونوځارنه هم شامله ده.

- **په اخلاقي برخه کې**

دبداخلاقیو،گدا،نڅا،سرود،قمار،لاټري اومبتذلوفلمونوځارنه په اطرافي سیمو کی دځارویوځارنه چې په خرواوقچروڅوک زیات باروانه اچوي اوهمدارنگه په غوايي زیاته یوی ونه کړی شي په همدې توگه دحمامونواخلاقي لوری اودنظافت ځارنه ،همدارنگه دسلمانیانوځارنه چې مستعملې چړې ونه کاروي اودغاښونوډاکتران مستعمل وسایل په کاررانه ولي ،دبې پردگی بې سری، بې حیایي ځارنه دناوایي ځارنه؛ ترڅوحفظ الصحه مراعات کړي په بازارونوکې دچتلیواوگندگیواوهمدارنگه ددوداوچاپېریال دککړتیااودموټرودحمل اونقل ځارنه ترڅودزیات بارڅخه خلک ډډه وکړي.

**په روحاني برخه کې:**

دبېلمازانو،دجماعت دتارکینو،روژه خورومرتدینواوبېرونیوجاسوسانو،قاتلانو،غلواوداړه مارانواورشوت خوروځارنه .

### ۳-۲-۷-دنرخونو،مزدوريواوكرايوټاكنه

په عاموحالاتوكې دسوداگرواوتوليدكونكيولپاره ددې خبرې بشپړه ازادي په برخه وي چې شيان څنگه خرڅوي په هغه شان يې خرڅ كړي، په دغه برخه كې نرخونه دعرضې اوتقاضاپربنسټ ټاكل كيږي اسلامي رياست په دې هكله مداخله نه كوي لېكن ځنې وخت اسلامي رياست دعامه گټودساتنې اودزيان دمخنيوي په خاطرنرخونه ټاكي اودغه ازادي سلبوي دمثال په توگه دغذايي توكودكمبودپروخت عرضه كمېږي اوتقاضا زياتېږي اونرخونه لوړېږي سوداگرله دغه فرصت څخه استفاده كوي اوپه احتكاراوداجناسوپه ذخيره كولولاس پورې كوي ددغه صورت حال دپای ته رسولويوه لاره دادی چې نرخونه تعين اوداحتكارمخه ونيول شي همدارنگه ځنې وخت ټول ښارته محدودسوداگرسامان راوړي دوی دخپلې اجاره دارۍ څخه گټه اخلي په عاموخلكوخپل نرخونه تحميلوي ددغه كار مخنيوی داسې كېدای شي چې دولت ددوی بېلونه راوغواړي اوددوی مصارف محاسبه اوترهغه وروسته دوی ته دگټې يونرخ وټاكي؛ البته دغه يوخاص حالت دی چې رياست دعامه مصلحت په خاطرپه اقداماتولاس پورې كوي ؛مگرپه عادي حالاتوپه طبيعي بڼه چارې پرمخ ځي اومداخلې ته اړتيانه پېښيږی .

زموږله نظره دټولوستونزاصلي لامل په ايمان كې ضعف اوكمزورتيااوهمدارنگه اقتصادي پسماندگي ده ،كه دهېوادپه دننه كې هرڅه توليداوهرشی دخپل كوردننه وي دومره ستونزې نه راولاړېږي، غربت اوافلاس جهل رامنځته كوي اوجهل دبې ايمانی سبب گرځي دبې ايمانی څخه لوټ،غدر،خيانت اوفساداودفسادنتيجه تباهي ده .

### ۴-۲-۷-په شتمنوټكس لگول

دعشراوزكات شرعي حقوق ډېرلږمال دی دزيات محصول اړتياددرې لاملونوله امله پېښيږي .

۱-داچې دشرعی محصولاتود(زكات اوعشر-)عايدلږ وي ددفاع ،جهادفی سبيل الله ښوونې اوروزنې،اسلامي دعوت اودعامه كفالت لپاره كفايت ونه كړي .

۲-داچې اسلامی رياست دهېواددااقتصادي تعميراوپرمختگ لپاره مال ته اړتياولري.

۳-په ټولنه كې داقتصادي توازن دمزواوچړچودڅښتنانودعياشی دمخنيوي په خاطر،ابن حزم ظاهري رحمة الله عليه ويلي دي چې كه چيرې دكفالت عامه لپاره دزكات اود(فئ )دمال عوايدبس والی ونه كړي كه امام عادل وي نوپه شتمنوزيدټكس لگولی

### ۵-۲-۷-له شتمنوڅخه ددوی له اړتيادزيات مال غوښتنه

په عاموحالاتوكې دټولنيزومالي اړتياوودپوره كولوپه موخه اسلامي رياست دشتمنوپه مالونوټكس لگولی شي ؛مگرپه اضطراري حالاتوكې چې دټولنيزوگټوخوندي كول ممكن نه وي لكه دسخت قحط، سيلابونو،زلزلو،افتونواويادناڅاپي تحميل شوې جگړې له امله دډېرمال

دلګښت اړتیاړامنځته کېږي په دغسې سختوحالاتوکې داسلامي ریاست لپارهددې خبرې جوازشته چې له خپلوشتمنوښاریانوڅخه ددوی له ضرورته دزیات مال غوښتنه وکړي. ترڅوهېوادپرې دهلاکت اوبربادۍ څخه خوندي کړی شي. داپه واقعیت کې دهغوی دګټوغوښتنه هم ده چې دهغوی دمال په وسیله ددغه سترخطرمخه نیوله کېږي دپیغمبرصلی الله علیه وسلم په سپېڅلي وخت کې به چې دغسې ناڅاپي حوادث رامنځته شوه په یواعلان سره به خلکوخپل مالونه وړاندې کول هلته ایماني اواخلاقي ځواک پیاوړی ؤ،دتبوک دغزاپرمهال پیغمبرصلی الله علیه وسلم دعامې تیارسی اودفي سبیل الله جهادلپاره دمرستې اعلان وکړابوبکرصدیق رضی الله عنه دخپل کورټول مال اوشتمني راوړه، عمرفاروق رضی الله عنه نیم مال اوحضرت عثمان رضی الله عنه په سوونواوښان له سامان سره باررسول الله ته وړاندې کړل ،په اوسني وخت کې چې نه هغه شان پیاوړي ایمانونه دي اونه اخلاقي لوړتیادلته به ریاست دخپلودولتي صلاحیتونوڅخه کاراخلي اوله دغې ستونزې سره به مقابله کوي .

### ٦-٢-٧-په پېرودلو،عاریت اوپوراخیستلوکې دزوراستعمال

اسلامي ریاست چې له چاڅخه دپورغوښتنه کوي اویادمؤقت وخت لپاره دعاریت په توګه یوشی اخلي اویاله کومې ادارې،تنظیم اویاله کوم فردڅخه څه شی ترلاسه کوي په عاموحالاتوکې به دهغوشرایطوپابندي کوي چې دافرادولپاره ټاکلی شوي دي په دغه صورت ددواړولوریوخوښی ضروري ده د زوراوجبرله لارې له یوچاڅخه دیوشي په پو،عاریت اودپېرودلوپه توګه اخیستل جوازنه لري؛ مګرپه ځینوختونوکې داسې حالات رامنځته کېږي چې دیوسترټولنیزمصلحت اوګټودتحقق په خاطربه زوراستعمالوي دمثال په توګه دیوشخصي شرکت څخه دعاریت په په توګه په مؤقت ډول دیوبلدوزرضرورت درواخله اویاریاست ته دپوردضروت د پېښېدو،دجګړې په وخت اویادغذایي توکودکمبودپه مهال اویاپه عاموحالاتوکې دسرکونو،ویالوداورګاډې دپټلۍ ،جوماتونو،دصنعتي مراکزودتعمیراوپراختیاددفاع ،ښوونې اوروزنې اویادعامه کفالت اوداقتصادي پروژودپرمختیااودټولنیزوپلانونودبشپړتیالپاره اړتیاوي په دغسې ټولوحالاتوکې زورهم استعمالولی شي دپیغمبرصلی الله علیه وسلم اوابوبکرصدیق رضی الله عنه په زمانه کې مسجدحرام شاوخوادیوال نه درلودهرکله چې عمرفاروق رضی الله عنه خلیفه شونوشاوخوادېرکورونه یې ړنګ کړل اودجومات په احاطه کې یې شامل اودکورونوڅښتنانوته یې مالي عوض ورکړ،په تاریخ کې ددې ګڼ مثالونه شته دي.

### ٧-٢-٧- دولتي انحصارات

اسلامي ریاست دخپلواقتصادي پرمختګونولپاره دټولنیزوګټوپه نظرکې نیولوسره ځینې چارې په خپل انحصارکې راولي لکه دوسلې جوړولوفابریکې دپوځي اړتیاوړسامان الات ،اتومي ځواک

همدارنگه دټيليفون محکمه اومرکزي بانک ،په لوړه کچه دبرښنابندونه ،سرکونه ،پلونه ،هوايي اډې ،داورګاډي پټلۍ اودسوداګريزوبندرونوانتظام ،دفولادوکارخانې، کانونه اوبيروني تجارت په خپل واک کې اخلي. اسلامي رياست ته دغه صلاحيت په برخه ده چې دضررداليرې کولواودعامه ملي ګټودساتنې په موخه ځنې کاروباري اداري اوصنعت دخلکوله لاسه وباسي ددولت په انحصارکې يې راولي

**۲-۷-۸- دملکيت دتحديدواک**

داسلام سپيڅلي دين دملکيت په هکله دشمېراواندازې په اعتباردکوم تحديداړتيانه ويني ، دملکيت دلاسته راوړلوروااوناروالارې چارې يې خلکوته ښودلې دي په همدې توګه داړتياپرمهال دټکس لګول اودزيات مال اخيستل شامل وولېکن ځنې وخت داسې پېښيږي چې دټولنيزوګټودساتنې لپاره مناسبه وي چې يوشخص ديوخاص ملکيت له محدودې اندازې څخه زيات ونه لري .دملکيت دسانسورپه لړکې يوهم په اسراف اومزوچړچوبنديزلګول اوپه ټولنه کې دپيسودوېش دانډول ساتل، داجاره دارۍ اوداقتصادي څواک دتمرکز مخنيوی اودهېواددطبيعي وسايلوڅخه په ښه طريقه ګټه اخيستل دي .داسراف دمخنيوي په خاطرپه مثال کې دعمرفاروق رضی الله عنه پاليسي وړاندې کولی شوهلته چې يې ويلي وو يوشخص له درې تعميرونوزيات نه شي جوړولی.

په اوسني وخت په اسلامي هېوادنوکې زياتره ځمکې ځنې کورنيوته استعماري څواکونوقباله کړي دي دبېلګې په ډول په ځنو اسلامي هېوادونوکې د فرانسې انګلستان اوامريکاپه مداخلې سره ډېرلوی لوی جايدادونه ،شرکتونه اولويې پانګې ددوی برېڅو ته ورکړې شوي دي ترڅوددوی تروتلووروسته ددوی ګټې خوندي وساتي په هندوستان ،پاکستان اوبنګال کې په زرګونه جريبه ځمکې انګريزانوورته قباله کړي دي اسلامي رياست حق لري چې دځمکواصلاحات ترسره کړي

**۲-۹-۹- ټولنيزاقتصادي پلانونه**

په اوسني وخت کې اسلامي رياست دټولنيزاقتصادي پلان نه پرته پرمختګ نه شي کولی موږورته په لانډول کتنه کوو

- ملي توليدته دملي اړتياوسره سمون په برخه کول
- دتوليدي وسايلوڅخه بشپړه ګټه اخيستنه
- له تزلزل اوکاواکه کيدوڅخه داقتصادځغورنه
- وزګارتياته دپای ټکی ايښودل اوهرچاته کارپيداکول

- پرمختللی اقتصاد
- په بیرونی سوداگری کې توازن ساتل

پلا ن ته اړتیادڅه په خاطر؟

۱ ـ که چېرې ملي اړتیاوې مخې تـه کېښودل شي اومـلي تولیـددیوپلان پربنسټ تنظیم نـه شي نوتولیدبـه دملـت حقیقـي اړتیـاوې بشـپړی نـه کـړي ددې اصـلي لامـل دادی چـې دازادو تولیدکونکیوزیاته پاملرنه گټې وته ې ته وي هغوی هغه شي پسې زیاته هڅه کوي چې دطلب په اعتبارېې گټه زیاته وي .

۲ـ یوداسی ژوندچې له پلان څخه پرته گډوډپه مخه درومي دهېوادله تولیدي وسایلوڅخه گټه نه پورته کېږي دکښت وړځمکې شاړې پرتې وي کانې ذخیرې معطلې پاتې وي پـه همـدې توگـه دتولیدوسایل بې کاره پراته وي .

۳ ـ داوسني ازادبازاریوه ځانگړې ستونزه دعدم استقرارکیفیت دی دکار،ملي تولیداودشیانوپه نرخ کې ستره ناانډولتیاتولنې ته سخت زیان اړوي ازادمعیشت دعدم استقرارلورته بیـایي داسـتقرارلپاره پلان ډېرضروري دی .

۴ـ وزگارتیااوبې کاري داوسني وخت ستره ستونزه ده دادپلان په وسیله له منځه وړل کېږي.

۵ ـنن ورځ وروسته پاتې هېوادونه دپرمختـگ لپـاره دپرمختللیوهېوادونوڅخـه پـانگې اودماشین الاتوانتقال ته اړتیاویني په دې هکله دبیروني پالیسی یوپلان ته اړتیاپه سترگوښکاري.

**لنډیز**

۱- دملکیت شرعی لارې چارې: په مباح شیانوقبضه ، دمعاهدې په وسیله دملکیت انتقال دمیراث په وسیله دملکیت انتقال، دملکیت ثمرات ، دشاړوځمکوابادول اوکانونه دي.

۲ ـدفردي ملکیت په تصرفاتوکې دولت مداخله کولی شي دهغې دجملې څخه حجردی چې اسباب یې ناپوهي ، فسق اوپوردي په همدې توگه دولت په اخلاقی اوروحاني احتساب هم لاس پورې کولی شي دنرخونو اومزدوریواوکرایوټاکنه، په شتمنو ټکس لگول اوله شتمنو څخه ددوی داړتیا څخه دزیات مال غوښتنه هم شامله ده په همدې ډول په پېرودلو، عاریت اوپور اخیستلو کی هم زوراستعمالولی شي

پوښتنې

۱ ـ دملکیت دلاسته راوړلو شرعی لارې ولیکئ.

۲ ـ دحجر اسباب شرحه کړئ داحتساب په هکله خپل معلو مات ولیکئ

# اتم څپرکی

## په عقدونواو معاملاتوکې داسلام

## اقتصادي سیاست

### پیلیزه

داسلام سپېڅلي نظام عقدونواومعاملاتوته دېرارزښت ورکړی داسې قواعداواصول یې وضع کړي دي چې بېلابېلې اړیکې تنظیموي برابره خبره ده چې دبشراړیکه له له خپل رب له خپل ځان او که له نوروافرادو،ټولنواودولتونوسره وي داسلامي شریعت په قانوني اصطلاح کې دغې برخې ته معاملات وایي.

داچې انسان ټولنیز مخلوق دی خپلې اړتیاوې په خپله نه شي پوره کولی؛ بلکې دنوروخلکوپه وسیله به یې اړتیاوې بشپړې شي ،ددغو اړتیاؤ بشپړېدل دیوتړون پربنسټ صورت مومي چې همدغه تړون عقد بللی شي.ددغه څپرکې زده کړه ئیزې موخې عقدونه ،دبیې ارکان اوشرطونه دبیې ډولونه دسلم عقداوداجارې عقدتشکیلوي .

### ۸-۱- عقدونه

#### ۸-۱-۱-دعقد لغوي پېژندنه

دیوشي دواړه اړخونه یوځای کول اوسره تړل عقدبلل کېږي په همدې توګه دیوشي په استحکام اوتقویې یې هم اطلاق کېږي.

#### ۸-۱-۲- دعقد اصطلاحي معنا

عقد ددووتنودتصمیم ترمنځ اړیکې تنظیمولوته وایي دواړه لوري مکلف دي چې دتړون التزام وکړي لکه بیه ،په ځنوختونوکې التزام دیوه تن په عزم اوقصدسره سرته رسېږي دمثال په توګه طلاق اوداسې نور.

### ۲-۸-بیه

#### ۸-۲-۱- تعریف ، مشروعیت اوارکان یې

انسان ټولنیزمخلوق دی نه شي کولی خپلې اړتیا وي په خپله پوره کړي دانساني استعدادونوپه بېلتون کې دالله تعالی همدغه حکمت پروت دی چې انسانان یوبل ته په کارراشي که داسې نه وای بیادبشري تمدن بېړۍ ترساحله نه شوه رسېدلی نو له همدغه امله خلک خپلې اړتیاوې په مارکېټ کې پوره کوي اوهلته بیه او داجناسوتبادله صورت نیسي

**۸-۲-۳-دبیې پېژندنه**

په عربي ژبه کې بیه دیوشي شي په مقابل کې دبل شي مقابلې ته وایي چې یوته مبیعه اوبل ته ثمن ( قیمت ) وایي

**۸-۲-۴- بیه په فقهي اصطلاح کې**

بیه دمال تملیک دی په مال سره ددواړولوریو په خوښې سره البته دشراء ( اخیستلو ) تعریف داسې شوی دی : په ملکیت کې په عوض سره دیو شي راوستل دي.

**۸-۲-۵- مشروعیت یې**

جوازیې په قران عظیم الشان ، نبو ي سنتو اودامت په اتفاق سره ثابت دی . الله تعالی فرمایلي دی

﴿ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلْبَيْعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْ ۚ ﴿٢٧٥﴾ ﴾البقرة

په نبو ی مبارک فرمان کې هم داسې داې راغلي دي . (افضل الکسب بیع مبروروعمل الرجل بیده ) رواه احمد ژباړه :غوره کسب اوکار سپېڅلې بیه اوپه خپل لاس کارکول دي .

په دغه نبوي مبارک حدیث کې د سپېڅلې بیې ذکرراغلی دی سپېڅلې بیه هغه ده چې خیانت، دوکه اوغولو ل اومعصیت په کې نه وي همدارنگه دټول امت په ا تفاق سره بیه رواکاراودملکیت داسبابودجملې څخه ده .

**۸-۲-۶- دبیې ارکان**

بیه شپږ ارکان لري ۱- صیغه ( ایجاب اوقبول) ۲- عاقدان ( بایع اومشتري ) ۳ –معقودعلیه ( جنس اوقیمت )

دغه هر یورکن احکام اوشرطونه لري چې تفصیل یې په لاندې توگه دی

**۱- صیغه :**

**الف** هرهغه وینا چې ددواړورضااوخوښي پرې څرگندېږي برابره خبره ده چې په وینا،استازي اولیک سره وي

ب : راکړه اورکړه په دې توگه چې دیوشي نرخ معلوم وي له ویناڅخه پرته تبادله صورت ونیسي

ج : دایجاباوقبول دمجلس وحدت

د: دایجاب اوقبول ترمنځ عدم جلا توب

هه :دمتعا قدینودیوبل داوازاوریدل

**۸-۲-۷- عاقدین ( بایع اومشتري )**

په بایع اومشتري کې دغه شرطونه باید په نظر کې ونیول شي

۱-چې دواړه دتمیز ( عقل اوبلوغ ) څښتنا ن وي

۲-داچې عاقد به داختيارخښتن وي

په معقو دعليه ( جنس اوقيمت ) دواړوکې داشرط دی چې

۱-دواړه جنس اوقيمت به پاک وي

۲-چې دنفعې شرعي وړتيا به ولري نوپردې اساس دحشراتو بيه صحت نه لري

۳-مبيعه به دبايع په ملکيت کې وي

۴-چې دتسلمېدووړتيا ولري

۵-مبيعه به هم معلومه اونرخ به يې هم معلوم وي .

٦-چې بيه به مؤقته نه وی لکه تريو کال اودووپورې

**۸-۲-۸- دبيې ډولو نه**

بيه دتبادلې په حيث څلو ډولونه لري ۱-مطلقه بيه:لکه په نغدوديوجنس خرڅول ۲- دسلم بيه:دغه مبادله ددين دی په عين سره اويا ديوشي خرڅون وي په نېټې په معجل نرخ سره ۳-دصرف بيه : دنغد و پيسو خرڅون اوتبا دله ده چې لاندې شرطونه لري

ا:دبېلتون دمخه دپيسوقبض ۲:دجنس داتحادپه صورت کې تماثل، معنا داچې زيادت اونقصان په کی جايز نه دی

۳:په عقد کې فوريت چې نېټه په کې نه وي که چېرته ددغوشرطونوڅخه يوهم پاتې شي دصرف بيه فاسد ه وگرزېد ه

۴ – دمقايضې بيه: مقايضه جنس په جنس اخيستلو ته وايي لکه په جوارو اويا غنم په گڼه اوغوايي اوداسې نور ...

**۸-۲-۹-دقيمت دتحديد په اعتبار دبيې ډولونه**

۱-مساومه بيه –په دې کې دمبيعې دلومړي قيمت يادونه نه کېږي

۲ - مزايده بيه –په دې توگه خپل سامان بازارته عرضه کوي چې څوک يې په لوړنرخ اخلي . پلوري يې

۳-دامانت بيه –دېته دامانت بيه ځکه وايي چې په دې کې بايع دخپل رأس المال دامانت خبروركوي اودا درې ډولونه لري

الف : مرابحې بيه : لومړی نرخ + گټه

ب: دتوليې بيه –له زيادت اونقصان نه پرته په خپل اصلي نرخ دمبيعې خرڅول

ج : وضيعه بيه : له خپل اصلي نرخ څخه په تيټه بيه خرڅون

**۸-۲-۱۰- دبيې وېش دقيمت دسپارلو په اعتبار**

۱ - لاس په لاس :چې قيمت تاديه اوجنس ترلاسه شي

۲-نسيا بيه : چې جنس تر لاسه اوپيسې په نېټه وي

۳- دمبيعې تأ جيل : چې قيمت وسپا ري اومبيعه وروسته ترلاسه کړي لکه دسلم اواستصناع بيه مؤجل العوضين بيه : لکه دپورپه پوربيه اوداجوازنه لري

**۸-۲-۱۱-دشرعي حکم په اعتبار دبيې ډولونه**

دشرعي حکم په اعتبار بيه گڼ ډولو نه لري تفصيل په لاندې توگه دی .

۱- منعقد ه بيه – چې ددې په مقابل کې باطله بيه رازي

۲- صحيح بيه – چې په مقابل کې يې فاسد ه بيه رازي

۳ – نافذ ه بيه – چې په مقابل کې يې موقوفه رازي

۴ – لازمه بيه چې په مقابل کې يې غيرلازمه رازي

**تفصيل يې**

منعقده صحيح لازمه بيه هغه ده چې په اصل اووصف دواړو کې روااودبل چاحق ورپورې مربوط نه اوهم په کې خيارنه وي . ددې حکم داده چې دغه بيه ثابته ده .

۲ – غير لازمه بيه هغه ده چې خيار په کې وي .

۳- مو قوفه بيه – هغه ده چې دبل چاحق ورپورې نښتی وي لکه دبل چاسامان دهغه له اجازې پرته خرڅول

۴- باطله بيه – هغه ده چې اصلا جايز ه نه وي لکه دنجس شي اوغيرموجوداوياچې ديوشي تسليمول اوسپارل مشتري ته سخت وي .

۵- فاسد ه بيه – هغه ده چې وصف کې يې جهالت وي لکه دنامعلوم کوراوموټراويايوسامان خرڅول .

**-۳-دځينوشرعي عقدونونمونې**

په يقيني توگه اسلام ځينې تړونونه تنظيم کړي اواحکام يې ورته څرگندکړي دي ددغوتړونونوله جملې څخه:

**-۳-۱-دسلم عقد**

**شرعي معنا يې**

دنېټه لرونکي شي خرڅون اوپه سملاسي توگه يی دقيمت له سپارلوڅخه عبارت ده ،يعنې داچې اخيستونکی دسامان قيمت په سملاسي توگه سپاري اوسامان به ترټاکلې نېټې وروسته مشتري ته ورکوي خودسامان موجوده قيمت به په نسبي توگه لږوي.

### ۸-۳-۲-دسلم مشروعیت اوجواز

سلم دامت په اتفاق سره په هرهغه مال کې جایزدی چې پیمانه اویاتول کېدی شي په دې هکله دابن عباس رضی الله عنه حدیث دی هغه وایي(پیغمبرصلی الله علیه وسلم دمهاجرپه توګه مدینې منورې ته تشریف راوړپه داسې حال کې چې خلکوپه میوو (خرماو)کې یوکال،دوواودرې کلونوپورې سلم کاو‌رسول الله صلی الله علیه وسلم داسلامي ریاست دبنیادګذارپه حیث فرمان صادرکړ ویې ویل(څوك چې په خرماوکې سلم کوي نوپه معلومه پیمانه تاکلي وزن ترمعلومې نېټې پورې دې وکړي

همدارنګه له حضرت ابن ابي اوفی رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې موږبه دپیغمبرصلی الله علیه وسلم په زمانه اودابوبکراوعمر رضی الله عنه دخلافت په دوره کې په غنمو،اوربشواودممیزو په معلومه پیمانه ترټاکلې نېټې پورې سلم کاو)

له دغوحدیثونو څخه دغه نتیجه ترلاسه کووچې په اوسني وخت کې سلم زراعتي امانت بللی شي اسلامي شریعت دسلم په جوازسره دقرض دلاس تهراوړلوپه خاطردمسلمانانولپاره له سودڅخه لېرې لاره پرانستې ده،په دې کارسره دبزګرانولپاره هم په ځانګړې توګه اسانتیارامنځته کېږي په دې معناچې له دوی څخه هریوتن کولای شي په اسانه توګه پور ترلاسه کړي،چارې به یې اسانه اوله سودي بلااوګناه اودسودخوړونکوله تېرې څخه به وژغورل شي.

### ۸-۳-۳-دسلم شرطونه

- داچې صفات یې ترکنټرول لاندې راتلی شي لکه مکیلات اوموزونات .
- جنس،نوعه،اندازه،ښار، نوی توب، زوړوالی، ښه والی،ټیټوالی یادونه.
- داچې اندازه به یې په پیمانې سره په مکیلاتواووزن سره په موزوناتوکې څرګنده وي
- داچې نېټه به یې معلومه وي لکه میاشت اوداسې نور.. که چېرته یې سملاسي اویانېږدې مودې پورې یې په سلم لاس پورې کړ،سلم یې روانه ګرځي.
- داچې په کوم شي کې سلم کېږي پخپل ځای کې به یې موجودیت عام وي ؛البته که چېرې په نادره توګه موندل کېده سلم جواز نلري.
- پانګه باید دتړون په مجلس کې قبض کړی شي .
- داچې په ذمه واري سره په سلم لاس پورې کړی شي یعنې( چې له یوه لوري پیسې
- اوله بل لوري دجنس ذمه واري وي که چېرته په سلم کې له دواړولوریوجنس وي نه صحیح کېږي

- که چېرته دسلم دواړه لوري نغدي پیسي وي نودغه دسود حیثیت غوره کوي .
- هرکله که یوڅوک چې دسلم معامله ورسره شوې دسلم دتړون له تطبیقولوڅخه ناتوانه

شي دغه تړون دحسنه پور شکل غوره کوي په هغه اندازه پیسې ورته بېرته سپارل ضروري دي چې څومره یې ورڅخه اخیستې دي.

**۸-۴- داجارې تړون**

دغه ددوو لوریوترمنځ یوتړون دی چې یولوری منافع اوبل لوری کرایه وروسپاري چې درې شرطونه لري

۱:دمنفعت معرفت:معناداچې دغه منفعت به جایز وي نوپردې اساس د زنا،موسیقی اویایوکوردکلیسا،شرابخانې اوقمارځای لپاره په کرایه نیول جوازنه لري .

۲ـ داجرة معرفت : دمیاشتې کرایه اویادمیاشتې خدمت چې هغه کاروړته مشخص کړي

- **داجارې ډولونه**

۱-دعین اجاره: معناداچې یوشخص دیوشي منافع په کرایه ورکوي اواصل شی دخښتن وي لکه کور،ځمکه،باغ، سرای په اجاره ورکول.

۲-اجیرمشترک:دغه په یومعین شي دګټې اخیستلوتړون دی چې صفات به یې ټاکلي وي لکه دجاموګنډل اویادیوسامان ترمیم اوداسې نور.........

# نهم څپرکی

## دملکیت دلاس ته راوړلوناروالارې چارې

### پیلیزه

داسلام اقتصادي نظام جلانظام دی دمال په لاسته راوړلواومصرف دواړوکې قیودات لري دلته دحلالو اوحراموچوکاټ دی دملکیت دلاسته راوړلوروا لارې چارې اوناروالارې چارې په قران عظیم الشان ،نبوي سنتواواسلامي فقه کې په بشپړتفصیل سره بیان شوي دي . موږ په په دغه څپرکي کې دملکیت دلاسته راوړلوپه هغولاروچاروبحث وکړو چې ناروابڼه لري، لکه دغدراودوکې بیې ،غش اوخیانت،دقدرت اونفوذاستعمال ،غلا،غصب، دزنااجوره،رشوت،احتکار،قمار اوسود.

### ۹-۱- ناروا لارې چارې

اسلامي شریعت دنورو نظامونو په شان نه دی چې دحلالو اوحرامو چوکات ونه لري دلته دملکیت په لاسته راوړلوکې دروا او ناروا قیودات دي اوهغه دادي.

### ۹-۱-۱-دغدراوخیانت بیې

دغدرمعنااوحکم: غدرپه لغت کې دوکې ته وایي ددوکې بیه هغه ده چې په ښکاره اخیستونکی ته دوکه ورکړي او باطن یې نامعلوم وي ددوکې په بیه کې هغه نامعلومې بیې شاملې دي چې اخیستونکی یې په حقیقت نه پوهیږي لکه په اوبوکې دکبانوخرخول چې لاتر اوسه لا ستا لاس ته نه دي راغلي یوځل جال اچول خرڅول او داسې نور..ځنواسلامي فقهاؤددوکې په بیه کې دهغه شي بیه هم شامله کړې چې هغه شی له تاسره نه وي اونه یې لاس ته راوړل ممکن او نه یې دترلاسه کولوباوروي همدارنګه مخاضره(مخکې له پخېدلودمیووخرڅول)محاقله(په وریوکې دغنموخرڅول په غنموباندې) مزابنه(دلمدوخرماؤخرڅول په وچوخرماؤباندې)دخاروي په خیټه کې دبچي خرڅول دخاروي پرشادوړیوخرڅول اوداسې نور هم شامل کړي دي.

### ۹-۱-۲-غش(خیانت)

غش دصفایي ضداودخیانت په معناهم راځي خیانت اودوکه په دې سره هم رامنځته کېږي چې اخیستونکي ته مبیعه معلومه نه وي اونه یې لیدلې وي اویاخوخرڅونکی دروغ ووایي

✓ **شرعي حکم یې**

حکم یې حرام دی په دې هکله ګڼ حدیثونه راغلي دي چې موږته په خیانت کې دشریعت حکم څرګندوي پیغمبرصلوة الله وسلامه علیه فرمایلي دي(من حمل علیناالسلاح فلیس مناومن

غشنافليس منا)ژباړه :چاچې پرموږوسله راپورته کړه له موږڅخه نه دی هريوڅوك چې له موږسره خيانت اودوکه وکړي له موږڅخه نه دی

په هم دې ډول په يوبل روايت کې راغلي دي(ومن باع عيباولم يبينه لم يزل فى مقت الله ولم تزل الملائكة تلعنه )يعنې : هرچاچې يوشی له عيب سره خرڅ کړاوهغه عيب يې څرگندنه کړدتل لپاره به دالله په لعنت اخته اوتل به ملايکې پرې لعنت وايي .

✓ **دخيانت شکلونه**

خيانت گڼ شکلونه نيسي۔دتگۍ داشکالوڅخه په تول کې کموالی،دسامان په اخيستلو دمشتريتېزول ،دخرڅون په خاطردخاروي دغولانځ ډکه پرېښودل اونه يې لوشل،له باندواواطراف څخه ښارته دسامان راوړونکو پسې لارې ته ورتلل اوخپله سورلی دهغه دسورلی ترڅنگ تېرول،ورته ويل چې پرمايې خرڅه کړه .

**۹-۱-۳-د قدرت اونفوذاستعمال**

اسلامي شريعت کومه شتمني چې دسلطې اونفوذله لارې لاس ته راغلې وي دملکيت دلاس ته راوړلوناروالاره چاره بولي له دغې لارې چې کومه شتمني لاس ته راغلې په مصادره کولو يې لاس پورې کوي اوبيت المال ته يې سپاري ،په دې هکله گڼ روايات ددې خبرې څرگندونه کوي چې پيغمبرصلي الله عليه وسلم اوله ده څخه وروسته مبارکواصحابودواکمنی او قدرت څخه دگټې اخيستنې له لارې دملکيت لاس ته راوړل ناروابللي دي له دوی څخه هريوه به په انصاف سره له بيت المال څخه استفاده کوله که چېرته به ديوچاشتمني زياته شوه ؛نو عمررضی الله عنه به يې مالونه مصادره کړل اوبيت المال ته به يې سپارل. ددوی له جملې څخه حضرت سعداوابوهريره رضی الله عنهم هم ؤنورددوی مالونه يې ضبط کړل.

دحاکمه قدرت اونفوذڅخه دگټې اخيستنې په لړکې ډالی، بخششونه اوهغه شتمني چې حاکمان،واليان،ماامورين اودچاارواکوخپلوان،دولتي مؤظفين يې له دولتي مالونو، ځمکواويادخلکودشتمنيوڅخه دزور،حاکمه قدرت اومنصب په وسيله لاس ته راوړي ،په هم دې ډول هغه شتمني چې واليان ،مامورين اودولتي مؤظفين يې دبهرونيواووطني شرکتونوڅخه دتړونونوپه نتيجه کې ترلاسه کوي هم شاملې دي.

**۹-۱-۴-غلا**

دغلاپېژندنه:بېله شك اوشبهې په پټه توگه له محفوظ ځای اويا له ساتونکي څخه دبل چادمال اخيستل دي پدې شرط چې نصاب ته ورسېږي چې له لس شرعي روپيوڅخه عبارت دي .

✓ **حکم یې**

په کتاب الله،نبوي سنتواودامت په اتفاق سره حرامه ده الله تعالی فرمایلي دي﴿ وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓاْ أَيْدِيَهُمَا جَزَآءَۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلًا مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٣٨﴾

﴾المائدة:ژباړه اوغل که ښځه وي اوکه نارینه ددوی لاسونه پرېکړئ دادهغودخپلې ګټې بدله ده اودالله له لوري دعبرت وړ سزادالله قدرت پرټولوغالب دی اوهغه دپوهې اوحکمت ښتن دی..

همدارنګه اسلامي امت دغلادجریمې په حراموالي اتفاق کړی دی له غله څخه به دغلاشوي مال غوښتنه کېږي که چېرته ورسره ؤښه اوترښه اوکنه په مقابل کي به یې تاوان ورڅخه اخیستل کېږي ؛داځکه چې غلاشوې شتمني دمال دڅښتن ده او دحدتطبیق دالله تعالي حق دی نوپردې اساس دغلاشوي مال په ورکولودحداقامه نه ساقطېږي ،مؤمن مسلمان ته روانه ده چې دغلا مال په داسې حال کي په بیه واخلي چې ده ته ښه معلوم وي چې دغلادی .

**۹-۱-۵-غصب**

په ښکاره توګه دزورله لارې دبل چادحق اخیستل دي حکم یې ناروااوکوونکی یې ګناه ګاردی الله جل جلاله دغه مطلب داسې بیانوي ﴿ وَلَا تَأْكُلُوٓاْ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ

﴾البقرةیعني:اوخپل مالونه په خپلومنځونوکې په نارواتوګه مه خورئ .په همدې ډول دوداع په خطبه کې داسې راغلي دي پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایي(ان دماءکم واموالکم واعراضکم حرام علیکم کحرمة یومکم هذافي شهرکم هذافي بلدکم هذا)یعني:بېشکه ستاسې وینې،مالونه او ستاسې پت اوعزت یوپربل داسې حرام دی لکه ددې ورځې حرمت په دې میاشت اوستاسې په دې ښارکې .

✓ **دګټې اخیستنې حکم یې**

له غصب شوي مال څخه په هیڅ صورت ګټه اخستل روانه دي که چېرته یې په سوداګری اچولي ؤ،بېرته یې خپل څښتن ته سپارل ضروري دي برابره خبره ده چې له خپلې شتمنی سره یې یوځای کړي اوکه په جلاتوګه یې ساتلی وي که چېرې مال له منځه ولاړغاصب به یې مثل اویاقیمت ورکوي برابره خبره ده چې دده په کړنې سره بربادشوی وي اویادبل چاپه وسیله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي(ان النبي صلی الله علیه وسلم قال من وجدعین ماله عندرجل فهواحق به ویتبع البیع من باعه )ژباړه:پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې هرڅوك خپل

مال له یوسړي سره ومومي دی یې ډېرحقداردی اومشتري به له بایع څخه خپل تاوان واخلي)

**۹-۱-٦-دزنااجوره اودکاهن شېریني**

له شکه الله تعالی ناپاکه روزي پرموږحرامه گرځولې ده له دې جملې څخه دزنااجوره اودکاهن شېریني هم ده.دزنااجوره له هغه مال څخه عبارت دی چې دزناکارې ښځې لپارهٔ له دې څخه داستفادې په مقصدورکول کېږي دغه داخپستونکي اوورکوونکي دواړولپاره ناروا ده داځکه چې په دې کارکې هغه تولنیزمفاسددي چې دټولنودړنگېدولامل اودنسبونوداختلاط اودهغه پټ اوناموس دتوئېدلوسبب گرځي چې الله جلت عظمته یې ساتنه واجب اودشریعت له اهدافوڅخه یې یوهدف گرځولی دی.

په هم دې ډول ددغه کارپه رامنځته کېدلودحلالې نکاح په لوري دخلکومینه له منځه ځي اودبېلابېلوامراضوباعث گرځي،له زناڅخه ډډه کول الله عزوجل دمؤمنانویوصفت گرځولی؛ نوپردې اساس هریوکاراوکسب چې دزنالامل گرځي حرام او ناروا ده،دکاهن شېریني له هغې اجورې څخه عبارت ده چې هغه دروغژن ته ورکول کېږي چې دغیبودپېژندنې ویناکوي دغه ویناخویادعلاج لپاره وي اویاغلادپېژندنې په مقصدترسره کېږي.

په یقیني توگه پیغمبرصلی الله علیه وسلم دغه کارحرام بللی داځکه چې په دغه کارکې دروغ،خیانت اوحیله هم وي ډېرځله دشرك اوکفردرجې ته رسېږي پیغمبرصلی الله علیه وسلم کاهنانوته له ورتللوڅخه خلك وېرولي دخپلې ویناپه ترڅ کې یې ویلي دي(من اتی کاهنا (عرافا)فصدقه بمایقول فقدکفربماانزل علی محمدصلی الله علیه وسلم) یعنې:هرڅوك چې کاهن ته ورغی هغه یې په خپله ویناکې ریښتینی وباله،بېشکه یې په هغه څه کفرغوره کړچې په محمدصلی الله علیه وسلم نازل کړی شوی دی ..

**۹-۱-۷- رشوت**

✓ **درشوت پېژندنه**

دغه له هغه مال څخه عبارت دی چې دوخت حکمران،ماموراوقاضي ته دخلکودیوکادکولوله امله ورکړی شي چې دغه کارله رشوته پرته هم کېدلی شو بېشکه الله عزوجل رشوت حرام گرځولی دی﴿ وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ وَتُدۡلُواْ بِهَآ إِلَى ٱلۡحُكَّامِ لِتَأۡكُلُواْ فَرِيقٗا مِّنۡ أَمۡوَٰلِ ٱلنَّاسِ بِٱلۡإِثۡمِ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ البقرة اوتاسې په خپلومنځوکې یودبل مال په نارواتوگه مه خورئ اومه یې هغوحاکمانوته په دې غرض وړاندې کوئ چې تاسې ته په قصدي توگه اوظلم سره دنورو دشتمنی دخوړلوفرصت په لاس درشي)

درشوت په توگه دمالونو ورکړه حاکمانو،قاضیانواومامورینوپورې منحصره نده بلکې ددې گن

شکلونه دي لکه منتخبووکیلانوته پیسې ورکول ترڅو رایه ورکړي اوجمهور رئیس شي داځکه چې منتخب هیئت دلویدیزپه اساسي قانون کې ددولت دربیم ځواک جوړوي.درشوت ورکړه دټولنې دسقوط اوړنګېدلوله اسبابوڅخه ده هغه چې دتل لپاره غیراسلامي ټولنې ورسره لاس په ګرېوان دي درشوت دحرمت په هکله نبوي څرګندفرمانونه موجوددي امام ابوداؤددحضرت ابي هریره رضی الله عنه په روایت دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دغه وینانقل کړې ده(لعنة الله علي الراشي والمرتشي في الحکم)یعنې دالله تعالي لعنت دې وي په رشوت ورکوونکي اوپه پرېکړه کولوکي په رشوت اخیستونکي.

دپورتني دلیل پراساس هرهغه شتمني چې درشوت له لارې ترلاسه شوې وي حرام مال بلل کېږي لا زمه ده چې دغه مال مصادره شي اوپه بیت المال کې کېښودل شي داځکه چې دغه مال په ناروالاره ترلاسه شوی هغه چاته سزاورکول په کاردي چې چااخیستې،چاورکړې اوچا ددوی ترمنځ دمنځګړي رول اداکړی دی .

**۹-۱-۸- احتکار**

داسلامي فقهاؤ(قانون پوهانو)په رایه احتکار عبارت دی دخوراکي شیانواویاله خوراکه پرته نورتوکي چې خَلك ورته اړتیاولري بندول اولوړنرخ ته یې ساتل دي.

اوسني اقتصادپوهان یې داسې تعریفوي:دزیاتې ګټې، دلاس ته راوړلوپه خاطردعرضې اوتقاضاپه نظام واکمنی ته احتکارویل کېږي .داسلام سپېڅلي دین داحتکار له ټولوډولونوڅخه دخلکومخه نیولې ده.امام قاضي ابویوسف رحمة الله علیه وایي دهرهغه شي بندول اوپخپله قبضه کې ساتل چې خلکوته زیان رسوي احتکارګڼل کېږي اګرکه سره زراویاجامې وي .له دې امله چې په احتکارکې دسوداګرۍ اوصنعت ازادي له منځه ځي دخلکوپه وړاندې درزق اوروزۍ دروازې بندېږي لا زمه ده چې خلك کاروکړي اوروزي ترلاسه کړي په همدې توګه داحتکارپه وسیله درواسیالۍ اورقابت روح چې دښه سامان جوړولواودتولیددپرمختګ لامل ګرځي وژل کېږي .دنبي علیه السلام ارشاددی(الجالب مرزوقوالمحتکرملعون)یعنې څوك چې بازارته دخوراك شیان راغواړي هغه ته رزق ورکول کېږي اومحتکر سړی ملعون دی

- ✓ **داحتکار حالت**

۱:چې ذخیره شوی مال یې دخپل ځان اوخپلې کورنۍ له ضرورته دیوکال په اندازه زیات وي داځکه چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم به دخپلې کورنۍ دلګښت لپاره دیوکال خرڅ ذخیره کاؤ.

۲:دغې خبرې ته انتظاروېستل چې کله به دسامان نرخ ښه لوړشي په داسې حال کې چې خلك ورته ډېر سخت ضرورت محسوس کړي

۳:چې دمال ذخیره کول په داسې وخت کې رامنځته شي چې خلك خوراکي موادو اوجاموته ډېراړوي

✓ **هغه شی چې احتکارنه ګڼل کېږي**

۱:هغه شی چې یوسړی یې دخپل ځان اودخپل اهل او عیال دخوراك لپاره داقتصادیستونزوله وختونوڅخه پرته ذخیره کوي

۲:هغه خوراکي موادچې دراتلونکي وخت داستهلاك لپاره ذخیره کېږي داځکه چې د خوراکي موادوتولیددموسم په اعتبار وي اواستهلاك یې ټول کال دربرنیسي دساري په توګه غلې دانې .

۳:هغه چې دولت یې په احتیاطي ډول دحوادثودرامینځته کېدلودمقابلې لپاره ذخیره کوي په دې کارکې یې هدف دتولید کونکواومستهلکینوحمایه وي

**۹-۲-۹-قمار**

✓ **پېژندنه یې**

هرهغه لوبه چې ددوواویازیاتووګړوترمینځ دمال په وسیله ترسره شي دلوبې غالب لوری به له مغلوب لوري څخه مال ترلاسه کوي .

✓ **دقمارشرعي حکم**

دقماردټولوډولونوپه حراموالي کي داسلامي پوهانوترمینځ هېڅ اختلاف نشته البته داس اواوبن په ځغللواودغشوپه وېشتلو کې اسلامي شریعت دمسابقې جوازورکړی اوانعام یې هم روا بللی دی دقماراوجوارۍ په حرمت دالله عزوجل دغه وینا دلیل دی

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلْخَمْرُ وَٱلْمَيْسِرُ وَٱلْأَنصَابُ وَٱلْأَزْلَـٰمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَـٰنِ فَٱجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٩٠﴾ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيْطَـٰنُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ فِى ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ ﴿٩١﴾﴾ المائـــدة:یعنـــــي:ای مؤمنانو !دا شراب،جواري دادرشلې اوغشي- داټول ناولي اوشیطاني کارونه دي له هغونه ډډه وکړئ هیله ده چې تاسې ته به بری در په برخه شي شیطان خوداغواړي چې دشرابواوقمارپه

وسیله ستاسي په منځ کې عداوت اودښمني واچوي اوتاسې دالله لـه یادولواولمانځـه څخـه منع کړي؛ نوایاتاسې له دې چارې څخه لاس اخلئ)

پدې کې هیڅ شك نشته چې قمارکول لویه گناه اوعظیم جرم دی دعقل غوښتنه همدغـه ده چـې قمارحرام دی داځکه چې دغه کارپه فرداوټولنه ډیرې بـدې اغیـزې پـرې بـاسي قماردالله تعـالی جلت عظمته له طاعت اوله لمانځه څخه منع کېـدل اودمـال اوشـتمنی دړنگولواودتولیـددتعطیل لامل گرځي.

قماریوناځاپه کورونه ړنگوي پداسې شان چې له شتمن څخـه سمدسـتي نیسـتمن جـوړوي اولـه نېستمن څخه شتمن،قمارپه نارواتوگه دخلکودمالونودخوراك وسیله ده چـې ډیروجرمونوتـه بلنـه ورکوي چې له دې جملې څخه دغلااوډیروپستو اوټیټوکړووړوسرته رسول دي په حقیقـت کـې قماردانسان په زړه کې تل اضطراب اوپریشاني رامنځته کوي اودرنځونوسبب اواعصاب لـه منځـه وړي

✓ **دقمارداشکالوڅخه**

هغه شـیان چـې پـه هغـوکې قماررامنځتـه کیـږي پـه دانو،سـطرنج دقمارپـه نـوروالا تو،دروليـت اوبینجوپه لوبه، لا ټري،سوداگریزې تشویقي مسابقې اوانعامونه،ناروامسابقې اوداسې نور......

**۱۰-۲-۱۰- سود**

داسلام په اقتصادي نظام کې دسوداگرۍداصولوڅخه یواصل دسودحرمت دی .

✓ **دسود (ربا) پیژندنه**

سودله زیاتي مال څخه عبارت ده چی په مقابل کي يي مالي عوض نه وي.دغه ډول سـود،له اسلامه دمخه پـه جـاهلې جزيـرة العرب کـې رواج ؤداسـلام دځلانـده لمرپـه راختلـو سره حـرام وگرځول شو.

✓ **دسوددترویج تاریخ**

دمیلادنه دوه زره کاله دمخه دبینالنهرین بزگرانوبه دخپلوکرنیزواړتیاؤدپوره کولولـه پـاره دبتخانولـه منجاورانوڅخـه قرضـونه اخیسـتل،اوکله بـه یـې چې کښـتونه وریبـل اودرمندونـه بـه یـې دننـه کړل؛نودبتخانومنجورانوبه له خپل ورکړي پورسره سره دقرض سـودهم ورڅخـه اخیسـته. داسـلام ترراتگ پورې په گردعربي ملت کـې هـم دسـود نـاوړه دود جـاري ؤ،د جاهلیـت پـه زمانـه کـې عربودسودراکړه ورکړه ددولت گټلوغوره کاروبارگاڼه .

✓ **په نورواديانواوملتونوكې سودته لنډه كتنه**

**۱-ديونانيانوله نظره**

پخوانيويونانيانوسوداقتصادي رنځ باله ،يونان سترفيلسوف ارسطو په نغدوپيسوكې دزيات والي په كلكه غندنه كړې ده دغه يې غيرطبيعي كسب بللى دى، په هم دې ډول افلاطون يې هم غندي اووايي ( هيڅا ته روانه ده چې بل څاته د سودپه توګه پوروركړي -

**۲-ديهودي مذهب له نظره**

په تورات كې سودپه غوڅ ډول حرام ؤخو يهوديانوالهي حكم تحريف كړ هركله چې يهوديانودالله تعالى له نيغې اوسمې لارې څخه انحراف اوله الهي سپيڅلي شريعت څخه يې په مخالفت لاس پورې كړدخپل رب احكام يې مات اودخپلو پيغمبرانواونېكانوخلكوپه وينوتويولوېې لاس پورېكړپه نتيجه كې په الهي غضب اولعنت اخته شوه،يهودودتورات ښوونې تغيركړې سود يې له غير يهودي سره جايز وباله .

**۳-په نصراني مذهب كې**

په سودخوړونكو باندې انجيل ډېره سخته نيوكه كړې ده په انجيل مقدس كې داسې راغلې دي ( هركله چې سود خورمړ شي دتكفين حق نلري ) كليسا له سود سره په كلكه مبارزه وكړه دسود خوړونكو پرخلاف يې دجګړې اعلان وكړپه منځنيو پيړيوكې چې په پانګه به هرڅومره ګټه لېاسه وه سود ګڼل كېده ،دكليساغونډه چې په ۱۱۷۹م كال كې جوړه شوه داسې پرېكړه يې صادره كړه كوم خلك چې په ښكاره توګه سودي راكړه وركړه كوي كه مړه شي ګناه ګاردي دوى به په عيسوي دوداودستور نه شي ښخولى او پاپ به ددوي خيراتونه هم نه قبلوي .

**۴-په اسلامي شريعت كې دسودحكم**

دسودي تعامل په هكله په قران عظيم الشان كې شرعي حكم بيان شوى دى الله تعالى فرمايلي دي﴿ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلۡبَيۡعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْۚ ﴿٢٧٥﴾ ﴾البقرة:ژباړه: اوالله عزوجل بيه روااوسودېې حرام ګرځولى دى .په هم دې توګه دالله درېښتيني استازي په مباركه ژبه په حجة الوداع كې دسودي تعامل بطلان اعلان شو هلته يې چې وفرمايل (قضى الله ان لاربا)يعني:دالله تعالى پرېكړه اوغوڅ فرمان دى چې سودي تعامل به نه وي.حقيقت دادى چې اسلامي شريعت دوخت اسلامي چارواكوته صلاحيت وركړى چې سودخوړونكوته مناسبه سزاوركړي لكه دسودبېرته وركول، په بندي كولومحكوميت تردې پورې چې ورسره جګړه اوونه هم په كې شامله ده.څوك په سودي تعامل لاس پورې كوي اوروايې بولي نوپه دغه صورت كې مرتدګرځي .

**۵-دسود دحراموالي تاريخ**

داسلام په سپيڅلي دين کې دسودبشر دښمنه کاروبارپه نهم هجري کال کې دتل له پاره حرام او دجاهليت دنوروناوړه کړو،وړوپه شان ممنوع وگرځولی شو .

**۱۱-۲-۱۰-دسود ډولونه**

✓ **نسياسود**

نسياسوددې ته ويل کيږي چې يو شخص بل ته پوروركړي اوداداءکولوتاريخ اوموده وټاکي اوبيا پردغه پوربانـدې پـه سـلو پسـې ۲٪،۳٪،۷٪ سـودمقرركړي چـې كلـه نيټـه پـوره شي ؛نوسودخورله مديون څخه پورله ټاکلې سودسره ترلاسه کوي ؛مگركه چېرې پـوروړي پـه ټـاکلې نېټه پورله سودسره ورنه کړ ؛ نوسودخورورته وايې چې پورمې راکړه هغه بيچاره بيامهلت ورڅخه وغواړي نوسودخوردپورمخکښې سودله اصل پورسرهيوځـای کـړي ،بيـايې پـه سـودتربلې نيټـې پورې ورکړيدنسيا سودزياتوالی داسې هم کېږي دمثال په ډول يوشخص له بل څخه په ژمي کې يوه بوری غنم نسيا ترلاسه کوي په دې شرط چې په دوبي کې به يـوه نيمـه بـوری وركـوي ،اوس دغه نيمه اضافه بوری دورکړې پور قيمت نه دی بلکې يواځې ددغې مودې پـه عـوض کـې يـې ورکوي چې پرې تېرېږي.

✓ **رباالفضل(دزيات اخيستلوسود)**

دسوددويم ډول (رباالفضل) يعنې زيات اخيستل دي دمثـال پـه ډول يوشـخص بـل تـه سـل زره افغانیغټ نوټونه ورکوي اوله هغه بـل څخـه سـل زره افغـانی واړه نوټونـه لاس پـه لاس غـواړي پدې شرط چې زرياپنځه سوه ياسل يايوه دپاسه سل زره وركړي ،داسوداو حرام دی.

په غَلودانو کې سوددداسې دی چې يوشخص له بل سره غنم ،ياجواريااوربشـې ياوريجباوداسـې نوربدلوي يوپلويوه بوری يايومن ورکوي اوبل لاس په لاس يوه نيمه بوری يانيم من ورکوي داپه جنس کې سوددی ځکه چې که څه هم لاس په لاس دي ؛مگر زياتوالی له يوپلوه په كې كړای شوی دی .اسلامي شريعت په دې باره کې دوه اصول ايښي دي

الف:که چيرې له دواړوپلورونکو څخـه دپلورلواوپيرودلوشـي جـنس وي ،يعنـې سره زره پـه سرو،سپين زرپه سپينو، غنم په غنمو او وربشې په وربشو ،خرماپه خرمـا جـوار پـه جواروداسـې نوروبدلوي؛ نو په دوی کې دکره اوعمده اومتوسـط پـه نظرکـې شرعانـه شي نيـولی،بلکې برابرپـه برابربه يې پلوري اوپه تولکې يې برابر والی واجب دی ، اوکه نه نوسودپه کې راځي .

ب : کـه کچېـرې اجنـاس بـدل شي يعنـې سره زره پـه سـپينو ، غـنم پـه اوربشـو،وريجې پـه جواروداسې نوروبدلولی شي نو بيايوطرفه زياتوالی په کې روادی مثلاًيـوه تولـه سره زر پـه دوه تولوسپينوزرويومن غنم په دوه منه اوربشوبدلون روادی؛مگرنسياپه کې روانه ده،بايدلاس په لاس

وي. نبي صلی الله عليه وسلم په دې باره کې په ډاګه فرمايلي اوداسې حکم يې کړی دی (عن عبادة بن الصامت قالقال رسول الله صلی الله عليه وسلم الذهب بالذهب والفضةً باالفضة والبربالبروالشعير بالشعيرو التمرُ بالتمروالملحُ بالملح مثلاً بمثلٍ سواءً يدًا بيدٍفاذااختلفت هذه الاصناف فبيعواكيف شئتم اذاكان يدًا بيدٍ )ژباړه:له عباده بن صامت څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : سره زر په سرو زروبدلول،سپين زرپه سپينوزروبدلول غنم په غنمو بدلول اوربشې په اوربشو بدلول خرما په خرمااومالګه په مالګه بدلول لاس په لاس برابرپه برابراوکله چې دغه اصناف يعنې قسمونه سره بدل شي ،يعنې تبادله په يوجنس سره نه وي نوپه کموالي اوزياتوالي سره موچې څرنګه خوښه وي معامله سره وکړئ خوپه دې شرط چې دواړه لاس په لاس وي .
مطلب داچې که غنم په غنمو،سر په سر بدلولی شي نوپه دوه شرطونو سره روادي يوداچې په تول اووزن کې سره برابروي دويم داچې لاس په لاس وي نه زياتوالی په کې روادی اونه پور،اوکه جنس بدل شي غنم په اوربشويايه مالګه يابل شي ،او سره په سپينو بدلول وي نو زياتوالی کموالی په کې روادی.
په سودکې صرف دوه اساسي اومحوری اشياءدي يو قدراوبل جنس هغه قدراوجنس چې تول او پيمانه په کې وي ،اوهغه شيان چې په تول اوپيمانه يې پلورل اوپيردل رواج نه وي لکه څمکه بدلول فرش،ظرف ،فرنيچراو معدوداشياء( هغه چې خرڅول يې په شميروي) په هغوی کې په خپل جنس سره په بدلولوکې زياتوالی کموالی فقهاؤجايزګڼلی دی،رخت، هګی ،خاورې، يوپسه په دوويوه هګی په دوه پنځه ګزه رخت په شپږګزه ورکول روادي په دې شرط چې لاس په لاس قبض کړای شي څکه چې په مذروع(ګز کېدونکو) او معدود( چې شمارل کېږي) دسودشرعي معيارچې پيمانه اوتول دی موجود نه دی نو سود هم په کې نه راځي .

**۱۲-۲-۱۰-دسودزيانونه**

✓ **دسود اخلاقي زيان**

په انسان کې بنستيزجوهر روح اوحميده اخلاق دي په همدې اساس که چيرې دسود اخلاقي څېړنه وکړای شي نودا به ثابته شي چې د سود خوری په وجه په سود خور کې د زړه سوی اوعاطفه، له منځه وړي اوپرځا ی يې شومتيا کنجوسي،زړه سختي ، ظلم او ځان پالنه رامنځته کوي .

✓ **سود د غربت د زياتوالي وسيله**

په سودي سيستم کې مال اودولت د څوکسانو سودخوړونکوپه لاس کې شي چې له دې امله دغه دولتمند زيات بډای اوغريب زيات غريب شي څکه څه چې ګټې هغه سود خوړونکوته

په سودکې ورکوي د بې کاري خپسه په اکثریت باندې مسلطه وي اودغه حقیقت اوس دلویدځ دپانګه وال نظام اقتصادي ماهرینوهم منلی دانګلستان نامتو اقتصادي ماهرلارډکینز (Lard Kenz) ویلي دي ترڅوپورې چې سود خوري دیومعقولې طریقې په وسیله له منځه بونه تلی شي تر هغه پورې له نړۍ څخه بېکاري نه شي ختمېدلی اوبشري نړۍ تراوږده وخته پورې دغه بې روزګاري زغملی نه شي

✓ دسود ټولنیززیان

دسوداجتماعي زیانونه دادي چې په ټولنه کې کرکه اوخپل منځي نفرت منځته راوړي دوګړواوملتونوترمنځ د ښمني ایجادوي اوافلاس منځته راوړي په ټولنه کې د دولت اوشتودآزادانه ګردش مخنیوی کوي له بې وزلانو څخه دشتو مخ بډایانو ته ګرځوي د بې وزلانو په زړونو کې دبډایانواوسود خوروپه مقابل کې کینه پیدا کوي چې تصادم ته منجرکیږي.

✓ دسود تمدني بدې اغیزې

دلومړي نړي وال جنګ پرمهالانګلستان دامریکا له متحده ایالاتو څخه دیوستړپور معامله وکړه چې د Bretton Wood پرمعاهدې سره شهرت لري ،انګلستان غوښتل چې ددوی خوشاله اوشتمن دوست چې په جګړه کې یې ترڅنګ ولاړؤله سوده پرتهپوربه ورکړي خوامریکا له سوده پرته قرض ورکولو ته تیاره نه وه .انګلستان دخپلو اقتصادي ستونزوله امله اړؤچې دغه ورکول ومني دغه سودي تعامل چې کومې ناوړه اغیزې په انګریزي قوم پریښودې هغه دادي .

دانګلستان نوماندااقتصادپوه لارډکینز چې دانګلیس ددولت په نمایندګۍیې دغه معامله کړې وه دبېرته ستنېدوپرمهال یې د برطانوي دولت په شاهي مانۍکې دخپلو خبروپه ترځ کې داسې وویل! زه به ټول ژونددغه غم اوخپګان هېرنکړم چې امریکا موږ ته له سوده پرته پوررانه کړ.مستر چرچل چې ډېرسخت امریکه نوازشخصیت ؤداسې وویل دغه ډېرناوړه چلندچې له موږ سره شوی دی ریښتني خبره داده چې دغه چلند زموږ په اړیکو ډېره بده اوناوړه اغیزه پرې ښېي ده.دهغه وخت دمالیې وزیر ډاکټر ډالټن چې کله ددغې معاملې منظورې پارلمان ته وړاندې کړه دخپلې وینا په ترځ کې وویل دغه دومره ستراولوی اقتصادي بارچې پرموږایښودل شوی موږ له جګړې اوس راوتلي یودغه زموږ دسرښندنواوهلوځلوډېره اریانونکې ډالۍ ده چې موږ دګډو اهدافو په خاطروزغملې زموږ غوښتنه داوه چې حسنه پوربه راکړې خوپه ځواب کې موږ ته وویل شوه چې دغه دعملې سیاست تګلاره نه ده.

**لنډیز**

۱ – دملکیت دلاسته راوړلو ناروا لارې چارې: دغدربیي ، غش ، د مال په لاسته راوړوکې دنفوذ استعمال ،غلا ،غصب ،د زنااجوره اودکا هن شیریني ،رشوت ،احتکار ، قماراوسوددی

## لسم څپرکی

## شرکتونه اودکاریگرو حقوق

**پیلیزه .**

ډېرخلک داسې وي چې دومره پانګه يې نه وي ترڅويوه پروژه پرې سمبال کړي ځنی مهال يوشخص پانګه نه مګر مهارت لري دپانګې دګټوراستعمال يوه لاره داهم دی چې يوڅوتنه خپله پانګه سره يوځای کړي په کاروبارګټه اوتاوان کې سره شريک شي ګټمه اوتاوان دسهمونواوبرخوپربنسټ ووېشل شي.همدغه ته شرکت وايي داسلام کامل اوبشپړ نظام له نن نه يونيم زرکاله دمخه په دې هکله قوانين لري .

ددغه څپرکي زده کړه ئيز ې موخې دشرکتونوپېژندنه، تاريخي شاليد په اسلامي قانون کې دشرکت ډولونه دمضا ربت تړون اودکاريګروحقوق دي

**۱۰-۱-شرکتونه**

✓ **پېژندنه يې**

په اصل کې دمالونوګډون ته وايي چې يو تر بله يې نوپيرونه شي، په واقعيت کې يودخوښې تړون دی چې په ايجاب (وړانديز)او قبول سره صورت نيسي.

✓ **تاريخي شاليد**

روماني قانون ورته تردېره بريده وده ورکړې وه خوکوم ځانګړی تاريخ نه لري په منځنيو پېړيوداروپايه طبقاتي نظام کې به بېوزلودځواکمنوبندګي کوله؛مګردوخت په تېرېدو سره په اروپايي ټولنه کې بدلون رامنځته شوبلهايان کمزوري اوکمزوري قدرتمند شول. البته ددويم نړی وال جنګ پرمهال انجيوګانوشتون پيداکړ؛خواصلي سرچينه اودنظريې بنسټيز اصول يې دنولسمې پېړۍ په لومړيوکې راڅرګند شول .په (۱۹۶۳)مکال دفرانسې حکومت دخاصوشرکتونودعامولوقانون جوړکړچې وسلې عسکري توکي اوالوتکې جوړولی شي،داسلامي نړۍ يو شمېر هېوادونو هغه تګلارې وکارولې چې په فرانسې اوانګلستان کې روانې وې پرته له دې چې سوچ او فکر وکړي په داسې تقليديې لاس پورې کړ چې ښه اوبد ټول يې په يوه تله وتلل دبېلګې په توګه دمبدايا،علمي څېړنو،پوهنتونونو،رسمي اداروا‌وپه اقتصادي برخوکې،اقتصادي جوړښت چې اوس کومه بڼه غوره کړې ده بدلون يې بيااسان کارنه دی ،تراوسه له ستونزو ډکې هلې ځلې روانې دي.

### ۱۰-۲- په اسلامي قانون کې دشرکت ډولونه

اسلامي فقه دشرکتونوپه لړکې دلويديز څخه څوارلس پيړۍ سابقه لري ډېرد تأسف ځای دی چې موږ هرڅه لويديزوالو ته منسوبوومو.ږ به په اسلامي فقه کې دشرکتونوپه ډولونوبحث وکړو په پيل کې شرکت په دوه ډوله ده .

- ✓ **دملکيت شرکت**

- ✓ **دتړون شرکت**

دتړون شرکت درې ډوله لري ۱- دمالونو شرکت ۲-د وجوه شرکت (درول شرکت) ۳-شرکة الابدان (دکار شرکت)

### ۱۰-۲-۱- دمال شرکت

دغه شرکت ځانګړي شرايط لري او په دوو ډولونو وېشل کېږي .

- **دمفاوضې شرکت**

په دې توګه چې دوه تنه سره شريک شي او يو بل ته صلاحيت ورکړي چې خرڅون،اخيستل،مضاربت،وکالت،سفراوګروي هريوکولی شي اويودبل ضامن به وي.

- **دعنان شرکت**

چې دوه تنه په يوکاروبارکې سره شريک وي لازمه ده چې په ګټه او تاوان کې هم سره شريک وي که چېرې پانګه ددواړو برابره ؛مګرکاروباري صلاحيتونه او عملي جهددبل زيات وي ، نوپردغه اساس ددواړوترمنځ فرق امکان لري همدغه ته دعنان شرکت وايي

### ۱۰-۲-۲- دمال دشرکت شرطونه

۱ـ داچې دشرکت مال به حاضروي په غيرحاضرمال اوپورسره شرکت نه صحيحکېږي.
۲ـ دشرکت سرمايه به نغدې پيسې وي په دې صورت کې دټولو علماءوپه.اتفاق شرکت صحت پيداکوي په موزوناتواوعددياتوسره شرکت صحيح نه دی ؛مګرشرکت په قيمت سره صحت مومي.

- ✓ **دوجوه (رول) شرکت**

په دې توګه چې دوه تنه په يوکاروبارکې سره شريک شي ؛مګريو هم پانګه ونه لري بلکې دخپل اعتباراوشخصيت څخه کارواخلي اوګټه په خپلو منځونوکې په نيمه اويادرېيمي سره ووېشي.

✓ **شركة الابدان (دكار شركت)**

دغه شركت ته صنعتي اوبدني شركت هم وايي په دې توګه چې يوکاردوه تنه په ټيکه نيسي- اودکارمحصول په نيمه اويادرېيمه وېشي دشافعي فقهاءونه پرته دټولوپه اتفاق جايز دی. دغه شرکت داسلام دپيل څخه پرې عمل روان دی .

**۱۰-۳-دمضاربت تړون**

**پېژندنه يې** :مضاربت هغه استثماري (دګټې وټې) عمل دی چې پانګه به له يوه لوري اوکاربه له بل لوري وي لومړي ته دمال څښتن اودويم ته مضارب وايي .

داچې ټول خلك يوشان نه دي ځنې شتمن اوځنې نيستمن دي ،شتمن سړی مال لري خودمال په ګټه وټه کې دپوهې څښتن نه وي؛ خوبل لورته يوسړی نيستمن دی؛ خوله دې سره سره دشتمنی په چلندکې دپوهې خاوندوي ؛نودمضاربت په صورت کې پانګه دهغه چا لاس ته ورځي چې دکارکولواهليت لري ،چې په نتيجه کې ټولوته ګټه رسېږي

مضاربت په قران کريم ،نبوي سنتو اودامت په اتفاق سره رواده .داصحابوکراموله يوه ټولګي څخه نقل شوی چې دوی به ديتيم مال په خپلومنځونوکې په مضاربت سره ورکاؤددوی له جملې څخه حضرت عمر ،حضرت عثمان ،ابن مسعوداوابن عمررضوان الله عليهم اجمعين دي

✓ **دمضاربت ډولونه**

۱_ مطلقه مضاربت:داله هغه مضاربت څخه عبارت دی چې تروخت ځای اوهېڅ رنګ اقتصادي تصرفاتوپورې مقيدنه وي

۲_ مقيدمضاربت:هغه دی چې دوخت ،ځای ټاکلي سامان او ټاکلې سوداګرۍ پورې مقيدوي.

✓ **دمضاربت ارکان**

دمضاربت ارکان ايجاب اوقبول دی که چېرې ايجاب اوقبول مطلق اوازادوي دې ته مطلق مضاربت وايي اوکه ايجاب مقيد وي مضاربت به هم مقيدوي.

✓ **دمضاربت شرطونه**

۱- دواړه لوري به داهليت څښتنان وی.

۲-پانګه به نغدې معلومې پيسې وي اومضارب (کاريګر)ته به سپارل کېږي .

۳-داچې پانګه به په سملاسي توګه کاريګرته سپارل کېږي ددې په خاطرچې کاريګرته دکارکولواوتصرف فرصت په لاس ورکړی شي که چېرته دپانګې څښتن دمضاربت کوونکي سړي سره يوځای په کارلاس پورې کړمضاربت فاسدوګرځېد .

۴-داچې ګټه به په معلومونسبتونوخوره وره وي نوپردې اساس دځينوپيسوټاکنه دګټې په حيثيت

جوازنلري .

۵-په هیڅ صورت کې کاریگردزیان تحمل نشي کولی دده برخه به په گټه کې وي

## ۱۰-۴-په اسلام کې دکاریگرو حقوق

### ✓ په اسلام کې دکارارزښت

داسلام سپیڅلی دین کاردرزق دلاسته راوړلوستره وسیله بولي قران عظیم الشان انسان ته وایي چې دغه ستره ارته ځمکه ستادخوځښت اوعمل لپاره ده؛نوپردې اساس کاریواځې حرفه،مزدوري ،صنعت اوسوداگري نه دی؛بلکې کارپراخه ډگرونه لري هرهغه شی چې انسان یې داجورې په مقابل کې ترلاسه کوي له کارڅخه عبارت ده.برابره خبره ده چې که هغه جسماني کاروي اوکه دماغي اومعنوي،اداري اویافني.

### ✓ په اسلام کې دکارډگرونه

مسلمان ته لازمه ده چې دخپل ځان لپاره داسې کار انتخاب کړي چې دده سره وړاوسي او په سمه توگه یې سرته ورسوي اسلام خلک کارته هڅوي اوعبادت یې بولي امام ماوردي ویلي دي په اسلام کې دکار ډگرونه دادي ۱-کرنه اوزراعت ۲-صنعت ۳-تجارت

### ✓ دکاریگرو ډولونه

۱-دطب، فزیک کیمیا اوساینس پوهان ،دپوهنتون استادان ،وزیران ،والیان،عسکري منصب داران ،دکارله حیثه ددوی معاشونه زیات وي.

۲-غیرمتخصص وگړي لکه مزدوران دوی ډېرشمېرلري تنخوایې لږه وي مادي جهدوړاندې کوي معاشونه یې دعرضې اوتقاضا پربنسټ ولاړوي.

۳-سوداگراوکروندگر،دوی هم جسماني جهد ترسره کوي دخپل محصول دتولیدڅخه برخه ترلاسه کوي لکه بزگردخپلې کروندې اوسوداگردخپلې سوداگرۍ څخه گټه اخلي.

۴-ددولت ټیټ رتبه ما مورین دوی فکري جدوجهدسرته رسوي دخپلوعلمي اسنادوپه برابرمعاش اخلي؛البتهدټولوهېوادوالودحقوقواوشخصیت په هکله اسلام لاندې ټکي په نظرکې ساتي.

الف- په انساني کرامت کې دټولنې ټول طبقات سره مساوي دي ټول دادم اولاداودالله تعالی بنده گان دي شتمنواوچارواکوته دهغوی دشتمنۍاومشرتابه پربنسټ احترام اوکمزورواونیستمنوته دهغوی دفقراوضعف له امله سپک کتل روانه دی داسې تصورله اسلامي عقیدې څخه انحراف اوبېلتون گڼل کیږي .

ب- داچې اسلام هیڅاته امتیازي حقوق نه ورکوي اونه یوه طبقه پربلې مسلطه اوواکمنه ګڼي داسلام دلومړي دورمشرانو والیانو،پوځي منصبدارانواوعاموماموارینودومره توپیرسره نه درلودسره له دې چې بیت المال له ماله ډک ؤ مګرملي امانت یې باله .

**۱-۴-۱۰- دکار شرطونه**

- ✓ دکار وړتیا:لازمه ده چې دکار ټولې لارې چارې وپېژني اوپه هغه وفا وکړي اوپه سمه توګه یې ترسره کړیاووړکارځان ته انتخاب کړي داسې کاردې ځان ته نه انتخابوي چې اهلیت یې ونه لري.
- ✓ اخلاص: دکارپه سرته رسولوکې به له اخلاص څخه کاراخلي اوپه سمه توګه او ورین تندي سره به یې سرته رسوي.
- ✓ په ژمنو وفا: دکارښبتن ته لازمه ده چې دکارټول شرایط مراعات کړي چې دکار د تړون په مهال یې کړی وي.
- ✓ محاسبه او څارنه: په اسلام کې دوه ډوله څارنه شتون لري یوه یې ایماني اوبله یې قانوني،اسلام چارواکوته امرکړی دی چې دژوندپه ټولوبرخوکې قانون پلې کړي اوڅارنه یې وکړي ترڅوعدالت رامنځته شي.

**۱۰-۴-۲- دکاریګروحقونه**

اسلام دکاریګرودکارتړون اودکاریګروحقوق په لاندې توګه مراعاتوي.

- ✓ دټاکلې تنخواژرتر ژره ورکول.
- ✓ دمامورینواوکاریګروله خوا په سمه اوصحیح توګه دکارسرته رسول .
- ✓ دکارله پیله ورته دتنخوامعلومول ترڅوجهالت پای ته ورسېږي.
- ✓ دکاردطبیعت اوکیفیت څرګندول.
- ✓ دکاردمودې ټاکنه .
- ✓ له دلیله پرته دمامورینواودکاریګرودتنخوانه کمول .
- ✓ له مامورینواوکاریګروسره له ترحم اوعاطفې څخه کاراخیستل .

**۱۰-۴-۳-دکفالت اورعایت حقوق یې**

دمامورینواوکاریګرومعاشونه به دهغوی داړتیااوپوره کونکي وي لکه طبي ، ښوونیز،اوټولنیزخدمات ټول په کې شامل دي.دغه درعیت دحقوقوڅخه په مشرانوځنې حقوق دي.له مستوردبن شدادرضی الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي (من ولی لناشیاً فلم تکن له امراة فلیتزوج امراة ومن لم یکن له سکن فلیتخذ

مسکناًومن لم یکن له مرکب فلیتخذ مرکباً ومن لم یکن له خادم فلیتخذ خادماً فمن اتخذ سوی ذلک کنزاً اوابلاً جاءالله به یوم القیامه غالاًاوسارقاً) ژباړه:چاته چې زموږ له خوایوکاروسپارل شوکه مېرمن يې نه وه نوحکومت دې ورته واده وکړي که کوریې نه ؤکوردې ځان ته جوړکړي اوکه سورلۍ یې نه وه سورلۍ دې ونیسي اوکه خادم یې نه ؤخادم دې ځان ته ونیسي- چاچې له دې نه پرته څه پیسې اواوښان پیداکړل دقیامت په ورځ به دخاین اوغله په حیث رادرومي .

په یوبل روایت کې راغلي دي دهغه روایت یوه برخه داسې ده (ان اخوانکم جعلهم الله تحت ایدیکم فمن کان اخوه تحت یده فلیطعمه ممایأکل ولیلبسه ممایلبس ولاتکلفوهم مایغلبهم فان کلفتموهم مایغلبهم فاعینوهم ) ژباړه: بېشکه ستاسې مسلمان وروڼه الله تعالی ستاسې خادمان جوړکړي دي اوالله تعالی ستاسې ترلاس لاندې گرځولي دي نودچاچې کوم مسلمان ورورده ترلاس لاندې وي نوچې څه خوري هغه به پرې خوري هغه لباس به ورته اغوندي کوم چې خپله یې اغوندې دومره کارپرې مه باروئ چې دوی یې تحمل نه شي کړای که تاسوددوی له تحمل نه زیات کارپرې کېښود نوبیادې ددې کارپه تحمل کې ورسره مرسته وکړي

**۵-۴-۴-دکاریگرداجورې بنسټ صحیح عرف**

داسلام سپېڅلي دین دمزدورداجورې لپاره یوه ټاکلي اندازه نه ده ټاکلې ځکه ظروف،شرایط،کار،وخت،دتولید شوي سامان نرخ،دژوندمستوی داټول یوتربله سره فرق لري په یوروایت کې راغلي دي چې هرکله ابوبکرصدیق رضي الله عنه دپیغمبر صلی الله علیه وسلم تروفاته وروسته دمسلمانانوولسمشرانتخاب شوساته سهاربازارته روان ؤاوپه خپل سرېې دسوداگرۍ رخت اچولی ؤ،عمرفاروق اوابوعبیده بن الجراح رضی الله عنهم په مخه ورغلل دواړومشرانوورته وویل داڅه کوې؟ ته خواوس دمسلمانانومشرشوې، هغه ورته په ځواب کې وویل زمااولاداوعیال به څه خوري دواړومشرانوورته وویل موږبه تاته تنخواوټاکونودوی دواړوورته هره ورځ دنیم گډ په اندازه تنخواوټاکله .

نن ورځ دمعاشونواوتنخواگانوموضوع ټولنیزمصلحت دی اوداسلامي ټولنې دنفوسو لویه برخه رانیسي پرهمدې اساس عادلانه قانون به دغه ستونزه حل کوي اوهرچاته به دهغه دکارمطابق تنخواګاني په دې برخه کې سستي ظلم اوبې انصافي گڼل کېږي .

**لنډیز**

۱ -اسلامي فقه دشرکتونو په اړه دلویدیزڅخه څوارلس پېړۍ سابقه لري په پیل کې شرکت په دوه ډوله ده ۱ -دملکیت شرکت ۲ -دتړون شرکت

# يوولسم څپرکی

## داسلام بانکي نظام

**پیلیزه**

انسان ټولنيز مخلوق دی غذا،لباس اوکورته اړتيا لري خپلې اړتياوې دنورو دمرستې څخه پرته سرته نه شي رسولی،په معاصروخت کې بانکي سيستم دضروریاتو دجملې څخه ده.داسلام بانکي سيستم دوحی څخه خړوبيږي

ددغې څپرکي زده کړه ئيزې موخې دبانک معنااومفهوم،تايخچه يې،بانکي چارې داسلامي تمدن په سيوري کې،بانکي چارې دوخت ارزښتناکه اړتيا،دبانک ډولونه،بانکي نظام دپا نګوالی اوسوسياليزم په سيوري کې،دکاپيټالستي نظام بانکي اصول،داسلامي بانک پېژندنه ،اهميت اوتاريخچه يې، داسلامي بانکداری اصول، داسلامی بانکونودبری لارې چارې داسلامي بانکونوپرووړاندې خنډونه،داسلامی بانک کاري څر نګوالی ،داسلامی بانک خدمات په ټولنيزه وده کې داسلامي بانکونورول،داسلامی بانکونودبري شرطونه ،داسلامي بانکو نودټولنيز مسؤليت ډګرونه بيان کړو.

**۱۱-۱-دبانک معنااو مفهوم**

دبانک کلمه دځنو علماءوپه نظردايټالوي کلمې( BANK)څخه اخيستل شوی معنا يې دسرمايي اوزروکارول دي .

ځنې نور يې جرمن لفظ(بيک )څخه اخيستل شوې بولي چې دمشترکې اوګډې سرمايې په معنا ده .

**۱۱-۲-جامع تعريف يې**

بانک له هغې ادارې څخه عبارت ده چې د زرواوپيسو معامله پرمخ بيايي دخلکو پس اندازشوې پانګه دامانت په توګه راټولوي اوبيايې اړوخلکوته دتوليدي اوغيرتوليدي چارولپاره په پورورکوي،په لږ سود يې امانت اخلي او په لوړپوريې په سود ورکوي.

**۱۱-۳-دبانک تاريخچه**

تاريخ پوهانوليکلي دي چې بانکي چارې دميلاد څخه اتلس پيړۍ دمخه دحموراني تر دورپورې اړيکه نيسي هلته چې دپورونودراکړې ورکړې قوانين يې تنظيم کړل څلور پيړۍدمخه دميلادڅخه يونانيانوهم بانکي چارې کارولې له يونانيانويې رومیانوته هم انتقال وکړ.

## ۱۱-۴-بانکي چارې داسلامي تمدن په سیوري کې

دشریعت په رڼا کې مسلمانانو داسلامي دورپرمهال داخلي اوباندنی حوالې پېژندلې ،زبیربن عوام رضی الله عنه دخلکو مالونه په مکه کې اخیستل اوپه عراق کې وروریې دخلکوحوالې اجراء کولې همدارنگه دبصرې په ښارکې په(۴۰۰هـ)کال خلکوچکونه دسوداگریزواهدافو لپاره په کارول ددې کار لپاره یې مهراوگواهان هم درلودل.

پخواوختونوکې چې پیاوړي اومنظم دولتونه نه ؤهرې خواته دغلواوداړه مارانوزوراوتسلط ؤروپې ساتل دځان بلاگرځېدله اوخپل ښښتن ته دهلاکت اوبربادی سبب کېده خلک مجبورؤیاټولې روپۍ مصرف کړي اویایې په ځمکه کې ومنډي،په پای کې خلکوخپل مال اودولت ځینو مخوړواودقدرت ښښتنانوسره امانت ایښوده په پای کې دامانت ساتل زرگرانوونیوه ؛ځکه هغوی سره دجواهراتواوگاڼوذخیرې موجودې وې دساتنې لپاره یې داوسپنې لوی اودرانه صندوقونه اوسیفونه جوړکړي ؤاووسلوال یې هم درلودل.زرگرانوبه سندورکړ،لومړی پلابه یې پیسې هم ورڅخه اخیستلې کله چې زرگرانواو صرافانو ډېره گټه ولیده؛نودحفاظت کمېشن یې لغوه کړوروسته بیا نورډېرخلک میدان ته ر اووتل دامانتونو دلاسته راوړلو لپاره یې خلکوته تمه اوحرص ورکړاویوڅه اندازه سودیې هم ومانه.لومړی ماډرن بانکدلومړي ځل لپاره دایټالیادوینس په ښارکې په (۱۵۸٦)میلادي کال جوړشو.

## ۱۱-۵-بانکي چارې د وخت ارزښتناکه اړتیا

بانکي چارې دوخت مهمه اړتیاده له دې نه پرته دخلکوژوندسخت گرځي،داوسني تمدن لپاره بانکونه لاندې خدمات ترسره کوي.

- ✓ دپیسوساتل اوبدلول.
- ✓ له یوه ځایه بل ته دپیسو حواله کول.
- ✓ په صادراتواووارداتو کې اسانتیاوې ؛داځکه چې بانکونه داعتمادځای وي.
- ✓ بانکونه دشراکتونو سهمونه هم خرڅوي.
- ✓ دمالي سندونوساتنه اودسیاحتي چکونوصادرول.
- ✓ له خلکودمالونوراجمعه کول په صنعت،سوداگرۍ او زراعت کې یې په کارول.

پرهمدې اساس بانکي خدمتونه ددې وخت مهمه اړتیا ده چې ورڅخه غفلت له امکان نه وتلې خبره ده

### ۱۱-٦-دبانک ډولونه

- **مرکزي بانک**

دغه دحکومت بانک وي دیومملکت په نظام کې مهم حیثیت اومقام لري د نوټونو چاپول دمملکت مالي نظام ته قوت بخښل ،په مالي چاروکې دحکومت مشاور ،دبهرونیوپیسو تبادله،دنوروبانکونوڅارنه،دنوروسوداګریزو بانکونو لپاره وروستني پناه ځای،په زرواوروپیوکنترول،دقیمتونو دپورته کېدواوښکته کېدومخنیوی.

- **تجارتي بانک**

دادګډې پانګې څخه جوړېږي په داخل کې سرمایه برابروي له خلکوامانتونه اخلي بیایې نوروارو خلکوته ورکوي دپانګې دانتقال اوساتنې دنده هم اجراء کوي.

- **صنعتي بانک**

دصنعتي ادارومالي اړتیاوې پوره کوي دصنعت لپاره اوږده اومتوسط قرضونه ورکوي دیومملکت لپاره صنعتي بانک ضروري دی.

- **زراعتي بانک**

دځمکې څښتنانو ته اوږده اولنډ مهاله پورونه ورکوي ترڅوپرې تراکتورونه،کیمیاوې سره اوتخمونه واخلي.په هغوهیوادونو کې چې اقتصادیې په زراعت ولاړوي دغه بانک ډېراړین دی.

- **دتبادلې (صرافي)بانک Exchange Bank**

دابانک دتبادلې اوصرافی کارکوي دنوروهېوادونوکرنسي-اخلي اوخرڅوي یې او دبهروني تجارت لپاره پانګه برابروي خوپه دغوبانکونوپه عمومي ډول دحکومت دبانک له خوابندیزونه لګېدلي وي دمملکت داقتصاد اومالي پالیسی خلاف کارنه شي کولی.

- **دپس انداز(بچت)بانک**

دا بانک دخلکو څخه لږ لږ بچت اخلي او هغه په سود ورکوي اوخلک سودته هڅوي.(۲:۵۰)

### ۱۱-۷-بانکي نظام دپانګوالې اوسوسیالېزم په سیوري کې

هریونظام ځانته اساسات اوفکري بنسټونه لري چې اقتصادي سیستم په هماغو بنیادونوټینګښت مومي .موږ به ددوو معاصرونظامونوکاپیټالستي اوسوسیالستي نظامونو بانکي سیستم ته اشاره وکړواوبیا به وروسته داسلام بانکي نظام ترڅېړنې لاندې ونیسو.

### ۱۱-۸-دکاپیټالستي نظام بانکي اصول

- ✓ سودي اصل په دغه نظام کې دسودپربنسټ تعامل صورت نیسي په لږ سود یې اخلي اوپه زیات یې ورکوي.

✓ زیاته ګټه لاسته راوړل :دبانکونوهدف دزیاتې ګټې لاسته راوړل دي ؛اګرکه له اخلاقي ارزښتونو اویاد ټولنې له ګټوسره په ټکروي.

✓ دزیاتو ګټو ستونزه: بانک پورورړوته پورورکوي اوزیاته ګټه ورڅخه اخلي دپوردتأخیرپه صورت کې اصل پانګه دګټې سره یوځای په سود محاسبه کېږي دافلاس په صورت کې پرې قانوني اجراءات صورت نیسي په همدې بنسټ اقتصادي ستونزې رامنځته کېږي.

**۱۱-۹-دسوسیالستي نظام بانکي سیستم**

په سوسیالستي نظام کې ټول بانکونه ددولت په واک کې وي دلته ځانګړي اواجنبي بانکونه شتون نه لري په سوسیالستي نظام کې بانکي سیستم په لاندې توګه دی.

✓ **دولتي بانک**

دنوټونوچاپول،ددولتي حسابونوساتنه اوددولتي پروژوڅارنه.

✓ **سوداګریزبانک**

دبېروني سوداګرۍ ذمه واري پرغاړه اخلي .

✓ **ذخیروي بانکونه**

دغه بانکونه دخلکوله تنخواګانوڅخه یوڅه برخه په اجباري ډول ستنوي په سوسیالستي نظام کې سودوي ؛مګر په پانګواله نظام کې سوددعرضې اوتقاضاپر بنسټ صورت مومي ؛البته په سوسیالستي ټولنه کې دسود مقداردکمونست ګوند مرکزي کمېټه ټاکي،سره له دې چې مارکسستي نظام په فکري لحاظ سود نه مني او دغه کاردسرمایه دارانه نظام لویه اشتباه بولي مګردواقعیت په ډګرېې له سود ه پرته بل بدیل پیدا نه کړ،په نړۍ وال تجارت کې دوی له سودي تعامل څخه ګټه اخلي

**۱۱-۱۰-داسلامي بانک پېژندنه**

اسلامي بانک هغه بانک ته ویل کېږي چې ټول فعالیتونه داسلامي شریعت دقوانینو اواصولوپه رڼاکې ترسره کوي.

- **اهمیت یې**

بیله شکه چې بانکونه داقتصاددملادشاتیرحیثیت اواساسي محورګڼل کېږي دخلکو شتمني خوندي ساتي اوهغوته حرکت ورکوي اوله هررازسودي تعامل څخه لېرې وي داسلامي اقتصاددوډې اساس ګڼل کېږي.اسلامي بانکونه په اوسني وخت کې داسلامي نړۍ وال خوځښت دهڅوپایله ده په اسلامي نړۍ کې دلویدیځ دپانګواله سودي سیستم لارې چارې په کارواچول شوې له تباهۍاوبدبختۍ نه پرته یې بله لاسته راوړنه نه درلوده.

- **تاریخچه یې**

دلومړي ځل لپاره دپاکستان په کلیوالوسیموکې دشلمې پېړۍ دپنځمې لسیزې په وروستیوکې رامنځته شو،دویمه تجربه په مصر،سوډان اوجده اوبیا یې په اسلامي نړۍ کې رواج وموندچې په (۲۰۰۴)کال شمېر یې ۲۸۴ اودکارونو حجم یې ۲۶۱ میلیارده ډالروته ورسېد.

## ۱۱-۱۱-داسلامي بانکدارۍ اصول

✓ په معاملاتوکې دسودنه موجودیت اودمشتریانوسره په ګټه او تاوان کې شرکت.

✓ په ټولومعاملاتوکې دظلم نه موجودیت.

✓ دټولو هغواجناسو ،نه تولیداو نه تعامل چې اسلامي شریعت حرام ګرځولي دي

✓ داحتکار څخه ځان ساتل.

## ۱۱-۱۲-داسلامي بانکونو دبري لارې چارې

اسلام دښمنه ډلې اوافراددااسلام داقتصادي نظام اواسلامي بانکدارۍ پرضد ناوړه تبلیغات کوي اووايي چې خلک دزراعت ،تجارت،صنعت دکسب اوکارلپاره پانګې ته اړتیا لري، هېڅوک بې سوده سرمایه نه ورکوي .دپورته شبهاتودحل لپاره به موږ داسلام بې سوده بانکي سیستم تشریح اوداسلامي بانکدارۍ ښې لاسته راوړنې او دبریالارې چارې به په ګوته کړو.

✓ په بشپړه توګه دشرعي ظوابطواومقاصدورعایت.

✓ دمعاصروپرمختللیووسایلواوابتکاراتو څخه کاراخیستل.

✓ دمامورینو ایماني عنصر پیاوړتیا.

✓ عام ولس داسلامي بانکونوپه خدماتواواهدافوپوهول اود سودي بانکونوپه زیانونو یې خبرول.

✓ ټولو سیمو ته داسلامي بانکونو پراختیا

✓ دداسې مالي بازارجوړول چې اسلامي بانکونه ځانته راجلب کړي.

✓ داسلامي بانکونو دکړنو قانون جوړول

## ۱۱-۱۳-داسلامي بانکونو دپرمختګ پروړاندې خنډونه

داسلام اقتصادي نظام داسلامي نظام برخه ده چې اسلامي نظام بشپړ حاکم نه وي اسلامي بانکي نظام لاندې ستونزې لري.

✓ بدلېدونکې سیاسي اواقتصادي حالات اوشرایط.

✓ اداري فساد او ناوړه اخلاق او دخلکو عدم باور.

✓ دمحلي پیسو دنرخ ګډوډي او نه ثبات.

✓ دیومنظم قانوني اوتنظیمي کمیسون نه شتون .

- ✓ دمرکزي ديني کمېټې څارنې او تفتيش نشتوالی .
- ✓ دمتخصصينودخاصو شرعي مجالسو ،نه شتون.
- ✓ ځانګړی محاسبوي سيستم څکه دلويديزدسودي نظام معيارونه کافي نه دي.

### ۱۱-۱۴-داسلامي بانک کاري څرنګوالی

اسلامي بانکونه دسودپرځای دپانګې اچونې اسلامي طريقه کاروي دپانګې اچونې اسلامي شکلونه دادي:

- ✓ مضاربت:په دې توګه چې پيسې دبانک وي کاردبل چا ګټه اوتاوان شريک .
- ✓ مرابحه: يوسامان په پيسواخيستل اوپه ګټه يې خرڅول.
- ✓ دسلم بيه: غلې دانې په وړو کې درېيلو څخه مياشت اويادوه مخکې اخيستل
- ✓ مؤجله (نسيا)بيه: يو جنس په نېټه خرڅول
- ✓ اجاره: يوکوراو ځمکه په کرايه ورکول
- ✓ دصنعتي پروژواحياء: دبانک له خواپه مباشر ډول دکارخانوجوړول اواداره کول.
- ✓ حسنه پور: خلکو ته دلنډې مودې لپاره حسنه قرض ورکول.

### ۱۱-۱۵-داسلامي بانک خدمات

- **جاري حساب**(Current account)

دغه دمضاربت اومشارکت په کاته کې نه وي بانک يې يواځې دساتنې وظيفه پرغاړې لري دپيسو څښتن يې هروخت وېستلی شي.

- **دپس انداز حساب**

په دغه حساب کې ګټه نه وي مګردبېرته ورکولو په صورت بانک د تشويق په خاطر يوڅه ورکوي دغه کارروا اوسود نه ګڼل کيږي.

- **دپانګونې حساب**(Investment deposit)

دغه په مضاربت بانک ته پيسې ورکول په ګټه اوتاوان کې شرکت دی چې ددوه اړخيزې موافقې پراساس يې سلنه ټاکل کيږي.

- **دحسنه پور حساب**

بانک دخلکوامانتونه دقرض په توګه اخلي څکه چې دقرض په ډول يې ترلاسه نه کړي ددې پيسواستعمال ورته جوازنه لري دپيسو څښتن يې هروخت وېستلی شي په دغه صورت کې بانک دچا څخه فيس اوکمېشن نه شي غوښتلی.

- **دپیسو دلېږدونې خدمت**

اسلامي بانک دنوروبانکونو په څېرله یوه ځای نه بل ځای ته دپیسودحواله کولوکارهم سرته رسوي اوپه دې کاریوخه کمېشن اخلي چې شرعاً جوازلري .

- **داخلاقي ارزښتونو رعایت**

په معاملاتوکې داسلامي اخلاقي ارزښتونو رعایت اودملت په اقتصادي اوټولنیزه وده کې ونډه اخیستل اداري اومالي خدمات خلکوته وړاندې کول.

- **داجرت په مقابل کې کار**

بانک ځنې مفیداوضروري کارونه سرته رسوي او په مقابل کې مزدوري اخلي دخلکو دملکیتونوخرڅول دتجارت مال راغوښتل په ریل اوموټرو کې یې بارول اودنورودفترونوڅخه یې راخلاصول دخپلومراجعینومنقوله اوغیرمنقوله دارایي اخیستل او خرڅول صنعت کارانواوبزګرانوته مشورې ورکول.

- **خلکو ته قرض ورکول**

په دې کارسره بانک هېڅ عوض نه اخلي بانک په خپله بودیجه کې دې کارته پیسې مختص ګرځوي.دلنډې مودې قرض ورکول ډېراهمیت لري،ځنې وخت سوداګریز،صنعتي،کرنیزو اوګټوروپروژو ته فوري اړتیاوي په دې توګه چې یو سوداګر دبهرون څخه مال راغواړي اوهېواد ته رارسېږي ؛نودټکس اومحصول لپاره سرمایه ضروري وي اوداکارله قرضه پرته امکان نه لري دقرض لپاره وخت باید بانک خلکو ته ځرګند کړي.په کومو بانکونو کې چې دمضاربت کارکېږي هغوی باید چا ته دومره قرض ورنه کړي څکه کېدای شي ددې څخه خلک بده استفاده وکړي اوبانک تش کړي له بل لوري دقرض په بېرته سپارلوکې غلطي اوبې ځایه تعطیل رانه ولي،دقرض په مقابل کې دضمانت اخیستل هم ضروري دی.

### ۱۱-۱۶-په ټولنیزه وده کې داسلامي بانکونو رول

- **زکات**

زکات داجتماعي تکافل دفقراوبېکاری دله منځه وړلوبنسټیزه وسیله ده اسلامي بانکونه دزکات صندوقونه جوړوي اوددې لپاره خاصه پانګه ټاکي دغه پانګه دبانک دنوروحسابونواواداري څخه ګوښه وي دزکات صندوق دټولنیزژوندپه بهبود کې پوره ونډه اخلي اودفقراوغربت دله منځه وړلوهڅه کوي دمصیبتونوکچه راټیټوي خلکو ته دکارزمینه برابروي.

- **دزکات دصندوق سرچینې**
  - ✓ دبانک دګډونوالو شرعي زکات
  - ✓ ډالی او خیراتونه
  - ✓ جاریه صدقه
- **دلګښت ځایونه یې**
  - ✓ بې وزله فقیران اومسکینان
  - ✓ بې وزله یتیمان
  - ✓ قران کریم دحفظ حلقات اودیني مدرسې
  - ✓ په بې وزله هېوادونوکې داسلامي مراکزوتأسیس
  - ✓ مصیبت ځپلوسره مرسته
  - ✓ پوروړوسره تعاون
  - ✓ حسنه پور
  - ✓ بې وزلو ته دنکاح بندبست کول اودپېغلو ودول

**۱۱-۱٦-۱-داسلامي بانکونو دبري شرطونه**

- ✓ داسلامي شریعت احکامو ته ژمنتیا.
- ✓ دقیادت اومشرتابه باتجربه،مسلکي امانت لرونکي مشران درلودل.
- ✓ ددندواومسؤلیتونوروښانه شرعي،فکري تګلارې لرل.
- ✓ څرګنداوواضح پلان .
- ✓ دکړنو لپاره دوام داره ارزونه اوڅارنه
- ✓ خپله پاملرنه میداني څېړنواو بحثونو ته اړول
- ✓ دحکومتونوله خوامرسته اوخنډونه لېرې کول

**۱۱-۱۷-۲-داسلامي بانکونودټولنیزمسؤلیت ډګرونه**

داسلامي بانکونوپرمخ بیوونکې ټولنیزې چارې دادي

- ✓ داسلامي بانک له خوادزکات دصندوقونوپرانستل اوپه ښه توګه یې مصرفول.
- ✓ دحسنه پورورکول اوپه سالمه توګه داسلامي پروژو په تمویل کې برخه اخیستنه
- ✓ .لېرې پرتو سیمو ته داسلامي داعیانو استول.
- ✓ جوماتونو سره مرسته.
- ✓ تعلیمي مراکزوته مرسته ورکول.

✓ داسلامي کتابونواو نشراتوخپرول.

✓ داسلامي کنفرانسونوسره همکاري.

✓ دبې سوادۍ په له منځه وړلوکې مرسته.

✓ خلکوته دکورونو تهیه.

✓ دناروغانوسره مرسته.

✓ دحوادثو دپیښېدلوپه مهال مرسته.

✓ دغیراسلامي عاداتواوتقالیدوپه له منځه وړلوکې مرسته کول.

**۱۱-۱۷-۳-دستونزو څخه دوتلولپاره سودي سیستمونه اسلام ته نږدې پالیسي غوره کوي**

✓ **دمارشال پروژه**

په دوهم نړۍ وال جنګ کې چې اروپاپه کنډواله بدله شوه ددوباره ودانۍ لپاره یې دامریکامتحده ایالاتودباندنیوچاروو‌زیرجارج مارشال په (۱۹۴۷م)کال یوه پروژه وړاندې کړه چې ورروسته بیا دده په نوم ونومول شوه دامریکا متحده ایالاتوددغو مرستو ٪۹۰ له سوده پرته او ٪۱۰ یې سودي پورؤ چې ٪۲،۵ سود یې درلود چې په پنځه ویشت کلونو کې به یې ادا ء کوي دقران عظیم الشان حکم دی چې پوروړي ته دشتمن کېدوتروخته بې سوده پوروړکړی شي

**لنډیز**

۱-په معاصر وخت کې بانکي نظام بشري ضرورت دی بانک ایټالوي کلمه ده معنا یې دسرمایې او زرو کارول دي ځینې یې جرمن لفظ بولي چې معنآ یې دمشترکې او ګډې سرمایې په معنا ده.

۲-تاریخ پوهانو لیکلي دي چې بانکي چارې دمیلاد څخه اتلس پېړۍ مخکې دحمورابي تر دور پورې ارتباط نیسي داسلامي شریعت په رڼا کې مسلمانانو هم داخلي او باندنۍ حوالې پېژندلې زبیر بن عوام رضی الله عنه دغه کار کاوه.

۳-مګر لومړی ماډرن بانک دایټالیا د وینس په ښار کې په(۱۵۸۶م)کال جوړ شو دوهم بانک په(۱۶۹۴م)کال په انګلیند کې جوړ شو.

۴-بانکي چارې دوخت مهمه اړتیا ده دپیسو ساتل او بدلول دپیسو حواله کول دمالي سندونو ساتنه او سیاحتي چکونه صادرول.

۵-بانک ګڼ ډولونه لري مرکزي بانک تجارتي بانک،صنعتي بانک، زراعتي بانک، دتبادلې بانک اودپس انداز بانک

۶-په کاپیټالستي نظام کې بانکي نظام په سود ولاړ وي او زیاته ګټه تر لاسه کوي

## دولسم څپرکی

## دبیمې تړون Incurance

### پیلیزه

حقیقت دادی چې بیمه دغیراسلامي ټولني زېږنده ده قانوني سرچینه یې وضعي قوانین اودلویدیز دودونه دي چې له اسلام سره هېڅ اړخ نه لګوي.ټولوته څرګنده ده چې صیهونېزم دوه تېزې وسلې داسلامي امت پرخلاف کاروي یو یې نشرات اومېډیا،مطبوعات دفلمونودتولیداوخپرونوشرکتونه،دخبر رسولوایجنسۍاودویمه یې ددولتونواوملتونوپه شتمنیوحاکمیت دی چې ترټولومهم فعالیت یې دتجارت بیمه ده چې دژوند،صحت اوحوادثوضدبیمه دومره مال راغونډولی شي چې دیوهېوادله مصارفوڅخه به زیاته وي.په دغه برخه کې به موږدبیمې پېژندنه،دبیمې پیدایښت اوخپرېدا،په لوید یزکې یې درامنځته کېدوظروف اودبیمې ډولونه وڅېړو.

### ۱۲-۱-۱پېژندنه یې

بیمې ته په عربي ژبه کې تامین وایي تامین دوېرې ضد دزړه سکون او اطمینان ته ویل کېږي.بیمه په حقیقت کې دیو شرکت اویو شخص ترمنځ دتړون نوم دی چې نوموړی شرکت به دتړون سره سم دحادثې پروخت مال ورکوي په دې شرط چې دویم لوری به دپیسو قسطونه شرکت ته سپاري چې دې ته دبیمې قسطونه وایي

### ۱۲-۱-۲- دبیمې پیدایښت او خپرېدا

سوداګریزه بیمه دایټالیا په جنوب کې په پنځلسمه میلادي پېړۍ اودبیمې لومړی قانون په (۱۶۰۱)م کال دملکې الیزابت په دوراوپه (۱۶۶۶)م کال دلندن ښاردسوزېدو څخه وروسته رامنځته شو .داتلسمې پېړۍ په نیمايي برخه کې دامریکا متحده ایالاتو او په نولسمه پېړۍ کې عربي نړۍ ته انتقال شوه هر څومره چې انساني فعالیتونو وسعت پیداکاوه په هماغه اندول بیمې دغوبرخوته پراختیا موندله،عادي وګړي،سوداګر،سیاستوال،پوهان او ټول خلک یې په عملي کولولاس پورې کوي.

### ۱۲-۱-۳-په لویدیزکې یې درامنځته کېدوضعیت

- **ټولنیز ظروف**

۱-دکاریګرواوپانګوالوترمنځ دطبقاتي اخ اوډب نه وروسته دکاریګرودوضعیت دسمون لپاره بیمه رامنځته شوه.

۲-دکورني نظام شړېدل اودخلکو ترمنځ دواټن درامنځته کېدو پرمهال .

۳-ددیني تصوردړنګېدواودمادي مسلکونو رامنځته کېدوله امله

- **اقتصادي ظروف**

۱-دصنعت پرمختګ او دسامان الاتو خپرېدا.

۲-دبانکونورامنځته کېدل او خلکوپه لاسونوکې دمال زیات والی.

۳-په سوداګریزوصنعتي برخوکې پانګونه.

۴-دبیمه شرکتونو له خوااعلانونه اوناري سورې اوډېرسترمالونه په خپل لاس کې لرل

۵-په جوازاوعدم جوازیې دمسلمانانو ناپوهي.

۶-په جبراوزوردبیمې په ترویج فشارلکه دموټروپه حوادثو،کارخانواوداسې نور...

دغه ټول شرایط ددې لامل وګرزېدل چې په لویدیز کې بیمه شرکتونه رامنځته شي دلویدیزاودختیځ په ټولوهېوادونوکې بیمه خپره شوه ،سوداګر،سیاستوال،پوهان اوعام عادي وګړي یې په عملی کولو لاس پورې کوي.

**۴-۱-۱۲-دبیمې ډولونه**

بیمه دموضوع په لحاظ ګڼ ډولونه لري

۱-داشیاؤبیمه لکه د سوداګریزوتوکوبیمه

۲-دبل چاپرضدبیمه دمثال په توګه دیوموټربیمه کول په دې شرط چې په خطاسره ځوک ووهي اویادیوچامال ته زیان ورسوي.

۳-دژوندبیمه کول:په داسې توګه چې دیوشخص له مړینې وروسته به دنوموړي شخص کورنی ته پیسې سپاري .

- **دتګلارې په حیث**

دتګلارې له حیثه بیمه په دوه ډوله ده

**۱-تعاوني بیمه**

دغه له هغې بیمې ځخه عبارت ده چې دیوشاراویادیوه کلي اوسېدونکي یې له خطرونوسره دمقابلې لپاره ترسره کوي هریوتن دخپلې برخې سره سم په دغه مرستندویه صندوق کې برخه اخلي دغه دبیمې لومړنی تګلاره ده

**۲-سوداګریزه بیمه**

دغه له هغې بیمې ځخه عبارت ده چې دبیمه کونکي اودبیمې دشرکت ترمنځ ترسره کیږي په دې شرط چې مستامن(بیمه کونکی)به دهغه زیان په مقابل کې چې دپېښېدلوخطره یې ده په

تاکلیووختونوکې خپل قسطونه سپاري هغه تعویضي قسطونه چې زیات شي دابه دشرکت لپاره گټه شي چې په دپرودقیقوحسابونویې داحتمالي زیان څخه کموي .

**۱۲-۵-۱-دسوداگریزې بیمې شرعي حکم**

دبیمې موضوع په شرعي چاپېریال کې ترسختوگېوبحثونولاندې نیول شوې ده له دې جملې څخه هغه څېړنه ده چې داسلامي اقتصادلومړي کنفرانس ته چې په ۱۳۹۴ هـ کال په مکه مکرمه کې جوړشوی ؤوړاندې کړی شود دبیمې په هکله دکنفرانس څېړنې په لاندې توگه پای ته ورسېدلې کنفرانس په دې هکله خپل نظر داسې څرگند کړ :سوداگریزه بیمه چې تجارتي بیمه شرکتونه یې په چاروبوخت دي دمرستي اوتولنیزتکافل شرعي صبغه(رنگ)نلري داځکه چې په دې کې شرعي شرطونه پوره نه دي کنفرانس وړاندیزوکړچې داسلامي شریعت اوداقتصادله متخصصینوڅخه دې یوه گډه کمیټه جوړه کړی شي چې دسوداگریزې بیمې څخه پرته دبیمې داسې شکل وړاندې کړي چې له سوداودوکې څخه پاك اودمرستې مطلوب اومقصودي شکل څرگندکړي. په دې هکله دنظریاتوله تبادلې وروسته دکمیټې له خوادسعودي عربستان حکومت داسلامي فقهي ټولنې ته یوپرېکړه لیک وړاندې کړی شوچې دسوداگریزې بیمې په ټولواشکالودتحریم پرېکړه اعلان کړي برابره خبره ده که هغه دځان بیمه کول وي اوکه دسوداگریزسامان اوداسې نورو.....

دبیمې دعدم جوازاوحرمت حکم دستروعلماؤاسلامي قانون پوهانوپه غونډه کې چې په ۱۳۹۷/۴/٤ هـ کال دریاض په ښارکې جوړه شوې وه په همدې توگه داسلامي فقهي ټولنې په خپله لومړنۍغونډه کې چې په مکه مکرمه کې دشعبان دمیاشتې په لسمه نیټه په ۱۳۹۸ هـ کال جوړه شوې وه خپلې پرېکړې په دې توگه اعلان کړې.

۱-دبیمې تړون دهغوتړونونوله جملې څخه دی چې عوض یې احتمالي اوپه زیاتې دوکې مشتمل دی داځکه چې حادثه ځینې وخت کېدلای شي رامنځته اوکله رامنځته نه شي نوپه ورکوونکي اواخیستونکي دواړوکې جهالت پروت دی دبیمې تړون دقمار(جواري)داشکالوله جملې څخه ده داځکه چې په مالي عوض کې یې مالي مخاطره موجوده ده په داسې حال کې چې قمارنارواکاردی.

۲-په سوداگریزه بیمه کې نسیااوزیاتی حرام کړی شوی سود موجوددی

۳-په حقیقت کې سوداگریزه بیمه دناروامسابقوله جملې څخه ده .

۴-دبیمې په تړون کې له مقابل عوض څخه پرته دبل چادمال اخیستل دي اودغه کارحرام گڼل کېږي

۵-دسوداگريزي بيمې په تړون کې په يوشخص هغه شی لازمېږي چې شريعت لازم گرځولی نه دي داځکه چې بيمه کونکي ته خو لا تراوسه څه خطراوزيان نه دی متوجه شوی اونه يې دزيان اسباب برابرشوي په حقيقت کې تړون دخطردپېښېدوضمانت پراساس رامنځته شوی چې بيمه کوونکي بيمه شرکت ته ورکړی دی نوبيمه شرکت خودبيمه کونکي لپاره هېڅ کارندی کړی نوپردې اساس دغه کارناروادی

**۶-۱-۱۲-۵ بيمې شرعي بديل**

داسلامي پوهانويولوی هيئت په خپله لسمه غونډه کې چې درياض په ښارکې په ۱۳۹۷/۴/۴ هـ ق کال جوړه شوې وه دمرستندويه بيمې جوازتصويب کړ،اوهمدغه پرېکړه داسلامي فقهې ټولنې په خپله لومړنۍ ذکرشوې غونډه کې دلاندې دلايلو په اقامه کولوسره تائيدکړه

۱_ مرستندويه بيمه:په دغه بيمه کې عوض نه اخيستل کېږي بلکې دناگواره پېښوپه.مهال مرستندويه شرکت ځان وررسوي زيان اوښتونکوته نغدې پيسې اويادجنس په توگه مرسته ورکوي،نودمرستندويه بيمې ټولنه نه دسوداگرۍ موخه لري اونه دگټې وټې چې دنوروخلکوله مالونوڅخه يې ترلاسه کړي بلکې هدف يې دخطرويش اودزيان تحمل وي .

۲_ مرستندويه بيمه له نسيااوزياتي سودڅخه پاکه اوسپېڅلې وي دسهمونودښتنانوپيسې نه سودي وي اونه په قسطونو باندې سودي معاملې ترسره کوي

۳_ په تعاوني بيمه کې سهم اخيستونکو ته څه گټه نه رسېږي ځکه دوی له عوضه پرته خپلې شتمنۍ تقديموي نوپه دې کې نه مخاطره نه دوکه اونه قماروجودلري البته سوداگريزه بيمه سوداگريزه مالي معاوضه ده.

۴_ ځينوسهم اخيستونکوته لا زمه ده چې دتعاوني بيمې قسطونه په گټه وټه اوسوداگرۍ کې په لگښت وررسوي ترڅو هغه هدف ترسره شي چې دغه شرکت ورته جوړ شوی برابره خبره ده چې دتنخواه په مقابل کې دغه کارترسره کوي اوکه په خيراتي توگه

نوپردې اساس داخبره څرگنده شوه چې سوداگريزه بيمه باطل اوناروا تړون دی داځکه چې نه يې اخلاقي موازين په رسميت پېژني اونه ديني داځکه چې دغه رنگ بيمه له فساداو شرڅخه ډکه وي اودلويوگناهونومجموعه جوړوي په ځانگړي ډول سود،اسلامي بديل يې تعاوني تبادلي جايزه بيمه ده چې دټولواسلامي پوهانوپه اتفاق نه يواځې روابلکې دعبادت او دثواب وړگڼل کېږي ځکه چې دمرستې له چاروڅخه ده په داسې حال کې چې اوس داسلامي بيمې شرکتونه په دوبۍ او جده کې قايم شوې په همدې توگه داسلامي مضاربت پراساس دبانک تنظيم چې دخليج اسلامي شرکت رامنځته کړی همدارنگه يې دفيصل اسلامي بانک په سوډان کې هم ترسره کوي

**۱۲-۲-۱-دمزارعت تړون**

په کوموهېوادونوکې چې هلته صنعت پرمختګ نه وي کړي تمرکز په کرکيله وي مزارعت په لغت کې دزرع څخه ده اوزرع کښت ته ويل کېږي په قانوني اصطلاح دکښت په خاطرخپله ځمکه بل چاته سپارل دي په دې توګه چې دحاصل نيم اويادرېيمه برخه ياکم اويازيات به ددواړودتوافق پربنسټ دکرونده ګروي.

**۱۲-۲-۲-مشروعيت يې**

دغه کارجايزدی داځکه چې يو شخص ځمکه لري اوبل مهارت اوپوهه ددې مثال دمضاربت په شان دی ځکه چې ددواړه جهتونو لپاره ګټه ده . پيغمبرصلی الله عليه وسلم دخيبرځمکه په دهقاني ورکړې وه اصحابوکرامو هم دغه کارکړي ؤ .

**۱۲-۲-۳- فضيلت يې**

امام قرطبي يې کفا يي فريضه بولي دوخت حاکم ته لازمه ده چې خلک پـه دغـه کاروګومـاري دحضرت انس څخه روايت دی پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي ( مامن مسـلم يغـرس غـر ساويزرع زرعافيأكل طيراوانسان اوبهيمة الاكان له صدقه ) بخاري ژباړه :هيڅ يو مسـلمان داسـی نشته چې يوه ونه اويايو کښت وکري چې بياکوم مارغه ، انسـان اويايوڅـاروی ورڅخـه خـوراک وکړي دغه ټول دده لپاره صدقه اوخيرات دی .

دحنبلي فقهاؤ،امام محمداوابويوسف اوامام ابوحنيفه رحمة الله عليه دفتـوی پربنسـت دمزارعـت يورواشکل دادی چې زمکه ،تخم ،اودکرکيلې په اسـبابوکې بزګراودځمکـې څښـتن شريـک وي حاصل به په نيمايـي اويـادرېيمې برخې ددواړولوريودخوښـې شـوې پرېکـړې پربنسـټ وېشـل کېږي

**۱۲-۲- ۴- باغواني**

په فقهي اصطلاح کې يې پېژندنه:دونوداوبه کولوعقدته ويل کېږ ي په دې توګه چې دباغ دمېوويوه معلومه برخه به ده ته ورکول کېږ ي .

**۱۲-۲-۵-دباغواني ارکان**

۱-عاقدان ( مالک اوکارګر ) ۲-کار ۳-صيغه ( ايجاب اوقبول )

دحنفي فقهاءوپه نېزددباغوانی دکارساحه ميوه لرونکې ونې دي لکه دخرما، انګورواومڼواوداسې نورووني.... ځنې نورېي په غيرمثمروونوکې هم روا بولي په دې توګه چې دمحروقاتو اواسبابولپاره په اوبه خورلاس پورې شي.

۲-دباغوانی دعقد دواړه اړخونه به عاقل اوبالغ وي . پردې الفاظوبه عقد ليکل کېږ ي چې دغه

باغ مي تاته داوبه خوراودونودخدمت په موخه په ډرېيمه اوياڅلورمه برخه مېووتاته درکړ،هغه به وايي ماقبو ل کړ دواړه به يې لاسليک کوي.

**۶-۲-۱۲- دباغوانی انتهاء**

داچې دباغوانی موده پای ته ورسېږي اويا يوتن دعاقدينوڅخه وفات اويادعذرله کبله تړون فسخه کړی شي

**لنډيز**

دبيمې تړون : دنويو تړونونودجملې څخه ده پانګوالې نظام رامينځته کړې ده هدف يې دمال ساتنه اودقيمت تضمين دی يوفرد اويايوشرکت تړون کوي چې دحادثې پروخت به مال ورکوي په دې شرط چې بل لوری به دبيسوقسطونه شرکت ته سپاري

ډولونه يې : ۱ـ داشياؤبيمه لکه سوداګريزسامان ۲ـ دبل چاپرضد بيمه لکه دموټروهل اويادچامال ته زيان رسول

۳ـ دژوندبيمه

۴:دتګلارې له حيثه په دوه ډوله ده ۱ـ تعاوني بيمه ۲ـ سوداګريزه بيمه .

حکم يې : سوداګريزه بيمه روانه ده مګرتعاوني جواز لري

**پو ښتنې**

۱- بيمه راوپېژ نئ

۲- دبيمې دپيدايښت اوخپر ېدا په هکله خپل معلو مات وليکظ

۳- په لويديز کې دبيمې درامنځته کېدو ظروف اوشرايط وليکئ

۴-دبيمې ډولو نه وليکئ

۴-ناروابيمه کومه ده ؟

۵-دناروابيمی بديل تعاوني بيمه شرحه کړي ؟

۶-دمساقات ارکان وليکئ

## دیارلسم څپرکی

## دتبرع عقدونه

## (وصیت ، هبه،حسنه پور،امانتونه،عارية،گروی )

### پیلیزه

ټولنیزژوند دبشریمرستوڅخه پرته امکان نه لری مسلمانان باید یودبل مرستند وی واوسي په ستونزواومشکلاتوکي باید یوبل ته دوروړگلوی اومرستي لاسونه ورکړي په قران عظیم الشان اونبوي سنتوکي پردې خبره زیات تاکید شوی له همدې مور په دغه څپرکي کي دځنوتبرعي عقدونونمونې ذکرکوؤچې ټولنیزژوند ته اسانتیاپه برخه کوي دهغودجملې څخه وصیت، هبه ، حسنه پور،ودیعه اوامانت، عارية اوگروي څېړل شوې .

### ۱۳-۱-وصیت

#### ۱۳-۱-۱- لغوي پېژندنه

په لغت کې بل چاته دیوکاردکولوحکم ته وایي برابره خبره ده که په ژوند وي اویاله مرگه وروسته،اطلاق یې بل چاته دمال په ورکولوسره هم کېږي.

#### ۱۳- ۱-۲-اصطلاحي تعریف

له مرگه وروسته بل چاته دتبرع په توگه دخپل مال دتملیک څخه عبارت دی . برابره خبره ده که دغه وصیت دعین لپاره وي اویا دمنا فعوپه خاطر.

#### ۱۳-۱-۳- دوصیت تاریخي شالید

دغه ؤډېریوپخوانی رایج نظام دی په رومي ملت کې به اجنبي خلکو ته کېده اوخپل وارثان به یې ورڅخه محرومول. اوس هم په لویدیزوهېوادونوکې خلک خپل مالونه پېشوگانو اوسپیانوته دوصیت په توگه تملیک کوي .

داسلام دځلانده لمرپه راختلو سره دظلم اوجهل تیارې په روښانه سباؤون بدلې شوې په پیل کې دمیراث داحکامودنزول څخه دمخه موراوپلاراوخپلوانوته به وصیت کېده مگرڅه وخت چې دمیراث بشپړ قوانین رانازل شول نودوصیت ددوو قیوداتو په درلو دلو سره روا وبلل شو .

۱ – دوارثانو اجازه

۲ په درېیمه برخه یې تحدید.

دټول مال دوصیت حق ورڅخه سلب وگرزېد .

**۱۳-۱-۴- ډولو نه يې**

۱- مطلق : داچې فلا نکي ته مې دغه وصيت کړی دی .

۲ – مقيد : داچې ووايي که ددغه رنځ څخه وفات شوم اويا په دغه ښاراويادغه سفرکی فلاني ته وصيت ليکم

**۱۳-۱-۵- مشروعيت يې**

په قران عظيم الشان نبوي سنتواودامت په اتفاق اوپه عقل سره ثا بت دی قران عظيم الشان فرمايي ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ إِن تَرَكَ خَيْرًا ٱلْوَصِيَّةُ لِلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ بِٱلْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٨٠﴾ ﴾البقرة

نبوی سنت : سعدابن ابی وقاص ته رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي ۇ که وصيت کوې دريمه برخه کې يې وکړه دريمه برخه زياته ده .

په دې هکله نورډېرگن روايا ت دي .

دامت اجماع هم دوصيت په ثبوت دلالت کوي اودعقل غوښتنه هم همدغه ده چې خلک وصيت ته زياته اړتيا لري ځکه دژوند په ډگربه ورڅخه ډېر زياتی اوکمی شويوی تلافي يې يوازې په صيت سره ترسره کيږ ي .

**۱۳-۱-۶- حکمت يې**

دغه دتولوتبرعاتوسبب اودگټې دحا صلولو لاره ده .

**۱۳-۱-۷- دوصيت ډولونه**

۱ – واجب : دامانتونو اونامعلومو پورونودواپس کولو ،دزکات ،دروژې اودلما نځه دکفاراتو اونورو ...

۲ – مستحب : هغه خپلوانو ته وصيت کول چې په ميراث کې يې برخه نه وي اويادخيردچارو لپاره وصيت درواخله

۳ – تحريمي مکروه : فاسقانواوفاجرانوته دمال وصيت اودمعصيت په کاروصيت لکه دکليسا اودرمسال ترميم اويادگمراهی دکتا بونوچاپول اوداسې نور ..

**۱۳-۱-۸-دوصيت ارکا ن**

۱ – يوازې ايجاب دی په دې توگه چې ووايی فلاني ته مې وصيت کړی دی دجانب مقابل له خوا قبول رکن نه بلکې شرط دی .

### ۱۳-۱-۹- دوصيت دانعقاد كيفيت

دوصيت انعقادپه وينا اوليكلوسره ثابتيږي وينا په دې توګه چې په ډاګه ووايي تاسوګواه اوسئ فلاني ته مې په دومره مال اوياڅمکې اويابل شي وصيت کړی دی ؛البته ليکل هم دوصيت ثبوت دی چې ګواهان موجو دوي .

### ۱۳-۱-۱۰په قبو ل کې دفوريت مسئله

داسلامي فقهاؤدرايې په يووالي په ټاکلې موده کې قبول اوفوريت شرط نه دی بلکې پراخه وخت لري له وفاته وروسته جواز پيداکو ي اګرکه اوږ ده موده ونيسي.

### ۱۳-۱-۱۱- دوصيت دنفاذما نع

وارث ته دمال وصيت روانه دی ؛څکه چې دپيغمبرعليه السلام فرمان دی چې وارث ته وصيت نشته .

## ۱۳-۲-هبه ( ډالی )

### ۱۳-۲-۱- تعريف اومشروعيت

دهبې ،صدقې اوهديې معناګانې سره نږ دې دي که چېرته يې هدف دالله تعالی رضا او اړمن شخص ته خيرات ؤنوداصدقه شوه اوکه چېرته يې ديو چا دعزت ، وياړاومحبت لپاره وړاندې کړه نوداهديه اوډالی شوه اوکه دعزت په خاطر نه وه نوداهبه شوه .

### ۱۳-۲-۲- په شرعي اصطلاح کې

دغه يو عقد دی چې دژوند په مهال بلاعوضه تمليک افا ده کوي.

### ۱۳-۲-۳-مشروعيت يې

هبه جايزاومستحب کاردی قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمايي ﴿ وَءَاتُواْ ٱلنِّسَآءَ صَدُقَٰتِهِنَّ نِحۡلَةٗۚ فَإِن طِبۡنَ لَكُمۡ عَن شَيۡءٖ مِّنۡهُ نَفۡسٗا فَكُلُوهُ هَنِيٓـٔٗا مَّرِيٓـٔٗا ﴿٤﴾ ﴾النساء:

پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلی دي ( تها دواتحا بو ا ) ژباړه : تاسې يوبل ته ډالی ورکوئ دتاسو به يو تربله محبت اومينه زياته شي دټول امت په اتفاق سره هبه رواکاراويوتربله مرسته ده.

### ۱۳-۲-۴- دهبې ارکان

ايجاب اوقبول ،واهب اوموهب له اوصيغه ده .

په واهب کې شرط دادی چې دی به روغ رمټ اودخپل واک څښتن وي داکثروفقهاءوپه نيزدکه

چېرته یورنځوریوچاته یوشی وبخښلو اوبیا وفات شو دده ورکړه دریمه برخه مال کې صحت پیداکوي دوه نورې برخې دوارثانو حق دي، په موهب ( ډالۍ کړی شوې شي ) کې شرط دادی چې هغه شی به مملوک وي صیغه یې هدیه ، هبه ، عطیة ،نحله اوداسې نور... ټولې صحي دي .

۱۳-۲-۵- دموهوب(دډالۍ کړی شوي) شرط

چې کوم شی په ډالۍ ورکول کېږي لاند ې شرطونه لري .

۱ - دهبه کولو پروخت به موجودوي

۲ -متقوم مال به وي نوېردې اساس داصیل شخص، مردارې اووینې خرڅول روانه دي

۳ - دواهب په تصرف اوملکیت کې به وي .

۴ - داچې جلا به وي دمشترک کورهبه صحت نه لري.

۱۳-۲-٦- دهبې دېېرته واپس کېدلو موانع.

که چېرته هبه کونکی وغواړي بېرته یې ترلاسه کړي په لاندې صورتونو کې دواپس کولو حق نه لري .

۱ - چې په هبه کې متصل زیاتوالی رامنځته شي

۲ - چې (موهوب له) وفات شي.

۳ - چې دهبې په مقابل کې عوض ترلاسه کړي .

۴ - چې دموهوب له ملکیته ووزي

۵ - دزوجیت لامله

٦ - دقرابت له امله

۷ - دهبې دهلاک اواستهلاک له امله .

۱۳-۳-قرض حسن (حسنه پور )

دانسان ژوند له ستونزو سره مل وي ځنې وخت له یوچاسره پیسې وي ځنې وخت نه وي دتنگسې په حالت کې یومسلمان بل ته دمرستې لاس اوږ دوي له همدغه امله په اسلام کې دحسنه پورستراجراوثواب دی .

۱۳-۳-۱- دقرض لغوي معني

په لغت کې غوڅولو ته وایي داځکه چې همدغه مال دپو رورکونکي دمال برخه ده چې پوروړي ته یې جلا کړی دی .

**۱۳-۳-۲- دقرض اصطلاحي تعريف**

حسنه پوردمثلي مال دورکړې ترون دی چې له يوځه وخت وروسته به يې خپل څښتن ته سپاري.

**۱۳-۳-۳- مشروعيت يې**

په نبوي سنتو اودامت په اتفاق سره جايزدی له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي (مامن مسلم يقرض مسلما قرضامرتين الاكصدقة مرة) ابن ماجة ژباړه :هيڅ يومسلمان داسې نشته چې بل ته دوه ځله پوروركړي؛مگر داسې ده لكه چې خيرات يې كړي وي .

**۱۳-۳-۴-عاقد اودعقد صيغه يې**

دقرض عقد دلاند ې شرايطو پربنسټ صحت مومي

۱- دعا قدينو عقل اوبلوغ

۲- ايجاب اوقبول

۳- دقرض اوسلف په لفظ سره هغه شی چې قرض په كې پيدا كوی هغه مثلي شيا ن دي لكه مكيلات اوموزونات اوهغه شيان چې شمېرل كيږ ی لكه هگۍ اوچارمغزاوگزكېدونكی شيان لكه رخت دډوډۍ قرض هم صحت لري .

**۱۳-۴-وديعة**

**۱۳-۴-۱- لغوی پېژ ند**

وديعة په عربي ژبه كې پرېښودلو ته وايي

**۱۳-۴-۲-په اصطلاح كې**

دخپل مال په ساتنه بل څوک گومارل . صراحة اودلا لة

**۱۳-۴-۳-حكم يې**

مستحب دی الله تعالی فرمايي ﴿ وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا كَاتِبًا فَرِهَانٌ مَّقْبُوضَةٌ فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُم بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ أَمَانَتَهُ وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ

دټولو اسلامي علماءو پرې اتفاق دی داځكه چې خلک ورته اړتيا لري

## ۱۳-۵- رهن (دګروی تړون)

### ۱۳-۵-۱-تعریف

دغه له هغه مال څخه عبارت دی چې د(پور)وثیقه ګرځي دغه تړون په کتاب الله،سنتو،اجماع اوقیاس سره جایز دېتولواسلامي پوهانودګروی په جوازاتفاق کړی دی

### ۱۳-۵-۲-دمرهونې شرایط

اسلامي قانون پوهانوپه مرهونه کې لاندې شرایط لا زمي بللي دي

- داچې دتړون پروخت دخرڅون قابلیت ولري .
- داچې مالي حیثیت ولري .
- داچې متقوم مال ویاودپوردپوره کیدلوچانس ورڅخه ممکن وي .
- چې دتړون پرمهال دراهن په ملکیت کې وي نوپردې اساس دامانت اوعاریت ګروي دډېرومذهبونوپه نزدجوازنلري .
- داچې مرهونه فارغه اودراهن په ملکیت کې مشغوله نه وي.
- داچې مرهونه راټوله اوخوره وره نه وي .
- داچې مرهونه ممیزه اوجلاوي په راهن کې عقل اوبلوغ هم شرط دی
- له مرهونې څخه ګټه اخیستل

حقیقت دادی چې دمرهونې ذات اومنافع دراهن ملکیت ده په هېڅ صورت کې یې خرڅول هبه،تصرف اوورڅخه ګټه اخیستل دراهن له اجازته پرته جوازنلري ؛البته که چېرته مرهونه دسپرلی اودلوشلوڅاروی وي اومرتهن اجازت کړی وي بیا صحیح ده.

## څوارلسم څپرکی

### دبیت المال مصارف(لګښتونه)

**پیلیزه**

داسلامي حکومت د مسؤلیتونودجملې څخه دحکومت مصارف هم دي چې په عامه کفالت اودهېوادپه اقتصادي پرمختګ سره سرته رسېږي،دغه دواړهچارې له پانګې اولګښت څخه پرته امکان نه لري دمال اودولت دعادلانه وېش لپاره هم بیت المال ضروري دی لکه څرنګه چې داسلام سپېڅلی دین دفردي ملکیت دتصرفاتوپه هکله لارښوونې لري په همدې توګه دبیت المال دلګښت په هکله هم هدایات لري

ددغه څپرکي زده کړه ئیزې موخې دبیت المال دلګښت اصول، دبیت المال دلګښت ځایونه، دبیت المال دلومړی برخې (دزکات )دلګښت ځایونه اودبیت المال ددویمې برخې دلګښت ځایونه داسلامي ریاست دتصر-فاتوحقوقي پولې اوداسلامي ریاست اقتصادي مسؤلیتونه تشکیلوي٬

**۱۴-۱-دبیت المال دلګښت اصول**

- **دشرعي اصولو پابندي**

داسلامي حکومت لګښت به دشرعي اصولو په چوکاټ کې وي دحلالوبه پابنداوله حراموڅخه به ځان ساتي دلګښت تولې لارې به شرعي وي اسلامي احکاموته به په هرمصلحت ترجیح ورکول کېږي .

- **میانه روي اوتعادل**

اسلامي حکومت بایدپه خپلومصارفوکې داعتدال (نه اسراف اونه بخل )لاره غوره کړي اسلام په بشپړه توګه دهغومصارفوغندنه کوي چې په بېځایهلګښت اواسراف یې بنسټ ایښودل شوی وي

- **تولنیزعدالت ته ترجیح ورکول**

داسلامي حکومت مصارف بایددبې وزلو اونېستمنوخلکو دبهبود لپاره وي له شتمنودې ترلاسه کړی شي اوپه بې وزلودې ووېشل شي،داسلامي دولت په دننهکې باید هېڅوک هم دژوندددوسایلوڅخه بې برخې نه کړی شي عمرفاروق رضی الله عنه ویلي ؤکه چېرې زه ژوندی پاتې شوم نودعراق کونډې ښځې به په داسې حال کې پرېږدم چې بیابه هېڅکله محتاجې پاتې نه شي ،په دې خبره دټولو اصحابوکرامو اتفاق دی چې که چېرې کوم شخص وږی،لوڅ اوداوسېدوځای ونه لري نوحکومت دې په شتمنو ټکس ولګوي ترڅوددوی ستونزې ورحل کاندي .

- **ساده ژوندغوره کول**

اسلامي حکومت بایدژوندپه ټولواړخونوکې ساده اومتوسط ژوندغوره کړی ډېرداسف ځای دی چې اوس مهال دمسلمانانوسیاسي اوحکومتي مشران په بې ځایه میلو،چړچو،تعمیرونو،لوکسوموټروباندې په لکونوروپۍ مصرفوي خوهلته بیا په لکونو انسانان وږي تږي خواراوذلیل ګرځي .

- **امانت داري**

اسلامي حکومت دبیت المال محافظ دی نه مالک اوښتن دهېواداولس مشر، وزیران اوواليان بایدملي ملکیتونودامین رول ولوبوي هغوی دالله اوملت پرورانـدې مسؤل دي .حضرت ابوبکراوعمر فاروق رضی الله عنه داصحابو کراموپه مشوره دخپلوځانونولپاره دومره تنخوا وټاکله چې ګوزاره به يې پرې کېدله.

**۱۴-۲-دبیت المال دلګښت ځایونه**

- **لومړی برخه يې**

دبیت المال دلومړۍ برخې سرچینې ،اندازې اودلګښت ځایونه قران عظیم الشان اونبوي سنتومشخص کړي دي لکه عشر،اوزکات اودغنیمتونوو پنځمه ،دبیت المال له نورو برخوسره يې یوځای کول جوازنه لري .

په اوسني پرمختللی تمدني دورکې ددغې برخې تنظیم دجلاوزارت غوښتنه کوي په مرکز،ولایاتو،ولسوالیواوکلیوکې ددې نمایندګۍ اواداري جوړکړی شي ترڅوعوایداومصارف په منظمه توګه مشخص کاندي اوکه داسې ونه شي نوبیادمملکت په مرکزي بیت المال کې ددې لپاره جلاځانګه اوریاست پرانیزي. قران عظیم الشان دزکات مصارف مورډ ته راپه ګوته کړي دي هلته چې فرمایي﴿ إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٦٠﴾ ﴾التوبة :ژباړه :دا صدقې خو په اصل کې د فقیرانواومسکینانو له پاره دي اودهغوخلکو له پاره دي چې دصدقو د چارو ما مورين وي، او د هغو له پاره چې د هغو زړونه په لاس راوړل مقصد وي.دغه رازدادغلامانود ازادولواودپور وړود مرستې له پاره دالله په لار کې او په مسافر پالنه کې د استعمالولو له پاره دي د الله له لوري یوه فریضه ده اوالله په هرڅه پوهیدونکی اوحکمت والادی..

موردپورتني ایات په رڼاکې دزکات دلګښت ځایونه شرحه کوو.

**۱: فقیران**

فقیرهغه چاته وایي چې له هغه سره څه ناڅه مال موجودوي حنفي فقهاء دفقیرپه هکله داسې وایي هغه څوک چې دنصاب څخه کم مال ولري هغه فقیر ګڼل کیږي .

**۲: مسکین**

هغه څوک دی چې دغریبی اوعاجزۍ له امله په تپه ولاړاوهېڅ نه شي کولای اوهېڅ شی ورسره نه وي لکه زاړه مفلوج اوناروغ وګړي .

**۳:دزکات دراټولولوامورین**

دزکات دراټولولواداري سیستم مسؤلین اګرکه شتمن هم وي دوی ته دې دزکات دفنډ څخه معاشونه ورکړل شي دایات کریمه څخه معلومیږي چې دزکات نظام په حکومتي سطحه تنظیمیږي داځکه چې په دې سره عوایداومصارف ښه سنجېدلی شي اوله بلې خوابېوزله خلک هم دحقارت احساس نه کوي اووایي چې دامې خپل معاش دی .

**۴:مؤلفة القلوب**

چې دیوچادزړه لاسته راوړل مطلب وي که مسلمان وي اوکه کافر،دغه برخه دعمرفاروق رضی الله عنه اواصحابوکرامویه اتفاق هغه وخت معطل شوه چې اسلام دقوت په حال کې ؤ؛مګراوس مهال چې دنورواديانوخلک بېوزله مسلمانان په پیسواخلي اوخپل دین ته یې رااړوی نواسلامي حکومت هم باید ـزکات ددغې برخې په وسیله خلک دین ته متمایل کړي ؛په دې توګه چې دکافرانودمشرانوکرکه داسلام په اړه کمه کړي اوپه ایماني لحاظ دکمزورومسلمانانومینه له اسلام سره پیاوړې وګرځوي دزکات دمصارفوبرخه هېڅکله بنده شوې نه ده؛ بلکې معطل ګرځېدلې وه داوسني ضرورت پربنسټ یې بیا فعالول په کاردي .

**۵: فی الرقاب(دغاړوازادول)**

په اوسني وخت کې چې دبین المللي تړون بربنسټ غلامان شتون نه لري دجګړې داسیرانوتبادله صورت نیسي اوس ددغې برخې مستحقین دمسلمانانوبندیان دي چې دکفارو له لاسه دپیسوپه وسیله راخلاص کړی شي .

**٦:الغارمین (پوروړي )**

برابره خبره ده چې دغه پورپرې دخلکوداصلاح کولویادرنځ ،زلزلې اوتوپان له امله رامنځته شوی وي اويادنورووجوهاتوله امله .

**۷: فی سبیل الله (دالله په لارکې )**:دغه برخه به دغازیانو،مجاهدینو،داعیانوداسلام دطالبانولپاره مختص کولی شي کچېرې په یوهېوادکې اسلامي نظام نافذوي ددې دلګښت مصداق وسلوال

پوځ ،ملي پولیس ،اوقاف اوټول معارف اوتحصیلات عالي دی په دې شرط چې نصاب یې اسلامي وي .

**۸: ابن السبیل (مسافر)**

هغه مسافراګرکه شتمن وي چې سفرخرڅ یې ختم شي دبیت المال څخه ددغه مسافرسفرخرڅ تهیه کول ضروري دي په دې شرط چې سفرډېرکم نه وي ؛بلکې متوسط وي اوهم سفردساعت تېرى نه وي البته مسلمان سیاحان هم په کې شامل دي دوى ته په دې شرط ورکولى شي چې سیاحت یې باهدفه اوباارزښته علمي تاریخي اوثقافتي بڼه ولري.

**۱۴-۳- دبیت المال ددویمې برخې لګښتونه**

**۱ـ دوسلوال پوځ لګښت**

دپوځونواواسلامي لښکرومعاش بایددومره وي چې دده اودده دکورنۍ لپاره کفایت وکړي داځکه چې دوى نورې ګټې نه شي کولى خپل ځان یې داسلامي جهاداودهېواد دپولودساتنې لپاره وقف کړى وي .عمرفاروق رضی الله عنه داسلامي لښکرواودهغوى دکورنیو لپاره تنخواګانې ټاکلې وې.

**۲-دعدلیه اواجرائیه څواکونو**

دقاضیانو،څارنوالانو،وزیرانو،والیانو،ولسوالانو مصارف اومعاشونه به دبیت المال څخه وي ددوى لپاره داسې معاش مقررول په کاردي چې ددوى اوددوى دکورنۍ اړتیاوې پرې پوره کړى شي ترڅورشوت اوبډواخیستلو ته اړتیاپیدانه کړي.

**۳- په ښوونې اوروزنې مصارف**

اسلام په ټولومسلمانانوباندې ددین اودنیاګټورعلم لازم ګرځولى دى په همدې توګه یې نورومللتونوته داسلام پیغام رسول دمسلمان مسؤلیت ګرځولى دى حکومت باید دښوونکو داسلام دلارې دداعیانولګښتونه په غاړه واخلي .دعمرفاروق اوعثمان رضی الله عنهم دخلافت په دورکې علماؤ،مؤذنینو،قاریانو،ښوونکواودجوماتونواماماونوته تنخواګانې ټاکلې شوې وې .

**۴-عام لګښتونه**

دغه برخه به په صحت ددولتي مامورینو،کارګرانواوداجیرانوپه معاشونولګولى شي انکشافي لکه دسرکونو پخول،دنهرونوکیندل،دښاروڅمکوابادول، دبرېښنابندونه دښارونوانکشاف، هوایي ډګرونه ،دکانونواستخراج اودکرنې وده اوپرمختګ اوداسې نور .. داسلامي حکومت په منځ کې باید هېڅوک دښستیزو ضروریاتوڅخه بې برخې نه شي اسلامي دولت دبې سرپرستوخلکودپالنې مسؤلیت پرغاړه لري.

## ۱۴-۴-داسلامي رياست دتصرفاتو حقوقي پولې

دافرادوپه شان اسلامي حکومت هم دخپلوتصرفاتوداستعمال لپاره څه حدوداوپولې لري اوهغه داچې دغه ملکيتونه به دشرعي اهدافوپه نظرکې نيولوسره دملي ګټودحصول لپاره استعمالولی شي چې په لاندې توګه وړاندې کيږي.

- **دحق پربنسټ شرعي تصرفات**

داسلامي حکومت دمشرانواومسؤلينوذمه واري ددينې اودنيوي چارومسئول دي په منځنيوپيړيوکې دروم اوفارس دامپراتوريومشران دتولې حکومتي خزانې مالکان ؤچې دپادشاه اودشاهي کورنی د شخصي اغراضولپاره به استعمالېدله. داسلامي رياست دنده دالهي قانون نفاذ،په نېکيوامراوبدوچارومخنيوی، داسلام خپرونه اودملت لارښونه اوروزنه،دهېواددفاع (في سبيل الله جهاد)دعاموخلکوکفالت (دکور،جامو،خوراک ،اوڅښاک ) بندوبست کول دي دهېوادمقننه اوعدليه څواک به دشرعي مصالحوپربنسټ اهداف ګټه ګوري کوي اولومړ يتوبونه به ټاکي،دبيت المال له بربادۍاوعياشۍ څخه به ددولت څارنه کوي.

- **دعشراوزکات په ټاکلوبرخوکې لګښت کول**

دعشراوزکات مالونه ،اندازې اودمصرف ځايونه اسماني وحی (قران عظم الشاناوبنوي سنتو)ټاکلي دي داسلامي رياست دمالکانه حقوقوحدوداوهمدارنګه نورې ټولنيزې چارې دولس مشرراپې ته نه دي پرېښي بلکې په ولسي- جرګه اودکابينې په شوراکې به له دولتي مسؤلينوسره محاسبه کيږي. افرادوته ددولتي املاکوپه انتقال بايددخپلوی پاللوڅخه ډډه وشي.

دپورتنيولارښوونوپه نظرکې نيولوسره زموږداسلام دلومړي دورمشرانودومره داحتياط څخه کاراخيسته چې په تاريخ کې سارى نه لري ابوبکرصديق رضی الله عنه دخپل وفات رنځ کې وصيت وکړچې له بيت لمال څخه يې کومه تنخواه ترلاسه کړې هغه دې محاسبه اوبيت المال ته دې حواله کړی شي عمربن عبدالعزيز رحمة الله عليه به په خپل کورکې دشپې پرمهال ددفترۍ چارودسرته رسولوپروخت دولتي ډيوه لګوله؛ مګرپه شخصي کاراوپرنفلودبوختياپروخت به يې شخصي ډيوه فعاله کړه نورپه سلګونوداسې واقعات دی چې سارى يې په تاريخ کې نه ښکاري.حکومتي مسؤلين دزکات په ټاکليوبرخوکی څه بدلون نه شي رامنځته کولی دوی يواځې ددې مالونودترلاسه کولواوپه منصفانه توګه دوېشلوديومنځګړي رول لوبوي.

- **ددولتي ملکيتونودانتقال دحق حدود**

له عامومشترکو ملکيتونوڅخه لکه سيندونه غرونه ،ځنګلونه اوترځمکې لاندې معدنې ذخيرې نه بلاعوض په چاخرڅولی اونه يې چاته ورکولی شي دشاړوځمکوڅښتن هم اسلامي رياست دی

دابادولولپاره يې دسرکاري اجازې پرته جوازنشته خراجي ځمکې دولتي دي خراج به يې بيت المال ته تحويلېږي.

- **دامتيازي چلنداوزيان رسولوڅخه ځان ژغورنه**

داسلامي رياست په املاکوکې جمهوررئيس اونوردولتي کارکونکي دامين حيثيت لري دتنخواه نه پرته چې دبيت المال څخه ورکول کېږي دامتيازي حيثيت څخه برخمن نه دي په همدې توګه له دولتي املاکوڅخه دعوض نه پرته دګټې اخيستنې حق نه لري.

**۱۴-۵- داسلامي رياست اقتصادي مسؤليتونه**

داسلامي رياست مسؤليتونه په نېکيوامراود بدوچارومخنيوی،درعيت ښوونه اوروزنه ،ملي دفاع ،داخلي امن ،دحق لورته بلنه ،جهاداودعدل اوانصاف ټينګول دي داسلامي رياست په اقتصادي مسؤليتونوکې عامه کفالت (دکور،جامو،خوراک،څښاک) ضمانت ،داقتصادي پرمختګ اهتمام ،دپيسوپه وېشلوکې دامتياز څخه ځان ساتل دي

**۱۴-۵-۱-اقتصادي مسؤليتونه يې**

- **عام کفالت**

له عام کفالت څخه مطلب دادی چې داسلامي رياست په پولوکې دې هېڅ يواستوګن دبنسټيزاړتياؤڅخه بې برخې پاتې نه شي لکه خوراک څښاک ،لباس ،کوراوعلاج دارودرمل،اسلامي حکومت پردې مکلف دی چې هرچاته دکارزمينه برابره کړي په دې توګه هېڅوک بې کاره اوبې کوره پاتې نه شي ؛البته دعارضي بې کارۍ ،رنځ اوبوډاتوب په مرحله کې دبې کسه خلکوضامن اسلامي دولت دی. په ځنوروراياتوکې دواده کولويادونه هم راغلې ده که چېرته يوڅوکدبنسټيزوضرورتونو دتکميل څخه قاصروي رياست به داسې سيستم په پښودروي چې محروم اوبې وسه شخص دخپل محروميت ثبوت په اسانۍ سره اوخپلې اړتياوې دبيت المال څخه پوره کړي.

داسلامي هيوادپه پولوکې دننه دې هېڅوک داسې نه وي چې وږی ،تږی لوڅ لپړ،بې کوره اوله دواپرته په اوږده رنځ پروت وي دپيغمبرصلی الله عليه وسلم په فرمان کې ځرګنده شوې ده چې حکومتي چارواکي دمحروموخلکوداړتياؤدپورهکولومسؤل دې داسلامي رياست دذمه وارۍ اندازه داسلامي حکومت له هغه موقف څخه ځرګندېږی چې لوړمنزلته اصحابي سلمان فارسي رضی الله عنه اعلان کړی ؤاوهغه داچې:خليفه اومسلمان ولسمشر-هغه څوک دی چې دالله تعالی په اسماني پيغام قران عظيم الشان پرېکړې کوي اوپه خپل رعيت دخپل اولادپه شان مهربان اوزړه سواندوي

اسلامي شريعت مسلمان ولسمشردتهول هېواددخلکوولي (سرپرست )تاکلی دی دسرپرستۍ غوښتنه داده چې دملت دټولوافرادودبنسټيزواړتياؤدبشپړولواهتمام به کوي پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي (الله ورسوله ولی من لاولی له ) ژباړه : الله اورسول دهغه چاسرپرست اوپالونکی دی چې دچاسرپرست نه وي .

ددغه مبارک نبوي فرمان مطلب دادی چې پيغمبردالله تعالی نماينده ادنبوت دسترمنصب سره سره دمسلمانانوولسمشرـاوقايدهم دی ؛نوچې قايدشـودټول ملت اوولس سرپرست وگرځيـد. دکفالت عامه په هکلـه داسلامی حاکمانواومشرانودومره مشهورې کيسې دي چې ديومستقل تاليف غوښتنه کوي .

ديوې شعوري مهذبې ټولنې دجوړولولپاره ضروري ده چې هلته شورايي نظام وي عام ښاريان باسواده اوپه حکومت دسالم انتقاداونيوکې صلاحيت ولري دغسې يوښايسـه نسل لـه ښوونې اوروزنې پرته نه شي رامنځته کېدلی دوخـت داوسنيواړتياؤ پـه نظرکـې نيولـوسره ښوونه اوروزنـه ،دپوروړودپوراداکول، دبې وسه پيغلوودول اوبې وسـه زلميانوتـه ودونـه کـول هـم پـه حکومتي مسؤليت کې شامل دي.

البته دعامه کفالت دمعطل کېدوله امله ملت په ستربحران،په عصبي ناروغيو ،دنيشه يې توکوپه روږدېدلو،ځان وژنې ،اخلاقي مفاسدو،روحاني زوال ،حسد،کينې اودښمنيواخته کېږي تـردې پورې چې ملت دکمونيزم اوالحادلپاره تياره مړی گرځي.

- **داقتصادي پرمختگ اهتمام**

دعامه کفالت په شان اقتصادي پرمختگ هـم يـوه ټـولنيزه وجيبـه ده پـه عامـه کفالـت پـورې دافرادودضرورياتوتکميل تړلی دی په اقتصادي پرمختگ پورې دټـول ملـت بقااوپايښـت ،قـوت اواستحکام اوټول دنيـوي مصالح مربـوط دي چـې پـه نتيجـه کـې ديومضـبوط اوقـوي رياسـت دپايښت تضمين رامنځته کېږي. دهېوادمادي پرمختگ مسؤليت دهـېواددهربچي پراوږوپـروت دی؛ البته دچارواکواوحکومتي مسؤلينوذمه واري په دې هکله ډېره زياتـه ده، ديوهېواداقتصـادي پرمختگ دهغه هېوادپوځي اودفاعي ځـواک پـورې اودفـاعي ځـواک دسياسي اسـتحکام لپـاره لازمي شرط گڼل کېږي ددفاع نوي سامان الات هغه هېواد تيارولی شي چې مادي پرمختـگ يـې کړی اوسي داسلام په لـومړي پړاوکـې دنامسـلمانوخلکودزړونودتاليف لپـاره بـه مرسـتې کېـدلې دمکـې دسـوبې نـه دمخـه دقحـط پـه زمانـه کـې رسـول الله صـلی الله عليـه وسـلم دپنځـه سـوه اشرفيونغدااوضروري اجناس هلته لېږلي ؤ .

دسورت هوددغه ایات ﴿ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ وَٱسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا ﴾ (٦١) هود په تفسیرکې امام جصاص لیکلي دی (یعنې تاسې یې له ځمکې څخه پیداکړي یې او تاسوته یې دضرورت سره سم دابادی حکم کړی دی ) دغه ایات کریمه پردې دلیل دی چې ځمکه دکښت ،باغوانی اودکورونودتعمیرپه خاطرابادول واجب ده

په یوقدسي حدیث کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې دالله تعالی څخه رانقلوي داسې راغلي دي (عمروابلادی فعاش فیهاعبادي ) یعنې ( دوی زماښارونه ودان کړل نوبیایې زمابندګان په کې واوسول)

پردې اساس اسلامي مفکرینودهیوادوالودخوشالی اهتمام داسلامی ریاست په لومړیومسؤلیتونوکې شمېرلی دی،امام ماورد ي رحمة الله علیه دولسمشردمسؤلیتونوپه هکله لیکلي دی:دمسلمانانوپه مشراوه ډوله مسؤلیتونه لازم ګرځیدهغودجملې څخه یودخپل رعیت دګټوساتنه ،دلویولاروجوړول اودحمل اونقل دوسایلواهتمام دمملکت ابادي اوخوشالي ده.

علامه ماوردي یوروایت رانقل کړی دی دابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی یوځل درسول الله صلی الله علیه وسلم پروړاندې دعجموخلکوته بدې ردې وویل شوې رسول الله وویل بدې ردې مه وایاست په یقیني توګه دوی دالله تعالی ښارونه ودان کړل اودالله تعالی بندګان یې په کې واوسول

عمرفاروق رضی الله عنه دخپل خلافت په دورکې دمصري ملت دخوشالی اوپرمختګ لپاره دمصروالي عمروبن العاص ته ولیکل چې دهغودابادی لپاره داوبوبندوبست وکړه ،دویالواوکانالونودویستلولپاره یې یولک اوځلرویشت زره کاریګر ،وګومارل دخپل خلافت په دورکي یې په بېلابېلوښارونوکې دویالودکیندلواهتمام وکړترڅو ځمکه تراوبولاندې کړي

په همدې توګه دده دخلافت په دورکې دډېروښارونوداساس ډبره کېښودل شوه دخپل خلافت په دورکې یې دمنصبونووېش اودوالیانودتقررمعیارپه یوه خطبه کې داسې بیان کړه

دحکومتی منصبونوپه سپارلوکې ددی خبرې لحاظ وساتئ چې هغوی درعیت په اقتصادي خوشالی پوه شي اوپه دې هکله ورسره بشپړفکروي.

عمربن عبدالعزیز رحمة الله علیه به دوالیانواوخبررسوونکیوایجنسیونه دسیمې داولسونودحالاتوپوښتنه کوله که ورته وبه ویل شول چې خلکوښادی کولې اویوبل ته یې دعوتونه کول له ډېرې خوشالی به یې مخ ځلېده

حضرت عثمان رضی الله عنه به دخطبې داذان پرمهال دسیمه ئیزومشرانوڅخه دخلکودحالاتواودنرخوپوښتنه کوله.

عمربن عبدالعزیزرحمةالله علیه دعراق والي ته لیکلي ؤچې دبیت المال اضافه پیسې خلکوته ورکړه ترڅودعراق شاړه ځمکه دکښت لپاره ودانه کړي .

درسول الله صلی الله علیه وسلم دلارښوونواوعملي تدابیرواوداسلام دلومړي دوردمشرانوداقتصادي پرمختګ دواقعاتوپه نظرکې نیولوسره په اوسني وخت کې داسلامي حکومت اقتصادي مسؤلیتونه په لاندې ډول دي .

- **دمال په ویش کې دخلکوترمنځ امتیاز له منځه وړل**

دقران عظیم الشان،نبوي،سنتواوراشده خلافت دسپېڅلي دورڅخه داخبره په ډاګه څرګندېږي چې په ټولنه کې دشتمنۍ دوېش په سیستم کې بایدتفاوت رانه‌شي کړی شي ټولنیزملکیت دې دیوې طبقې په لاس کې نه وي .دپیغمبرصلی الله علیه وسلم په سپېڅلي ژوندکې دشتمنۍ دتوزیع دتفاوت دله منځه وړلولپاره اسلامي ریاست درې لارې په کارواچولې .

- ✓ هرکال دزکات اوعشرپه وسیله دشتمنودلاسونوڅخه بېوزلوته دمال انتقال .
- ✓ دفئ مال دبېوزلوترمنځ وېشل .
- ✓ په نفلي توګه دمال په لګښت دشتمنوهڅونه.

کله چې ابوبکرصدیق رضی الله عنه خلیفه شواودفئ مال راغی هغه یې دخلکوترمنځ په مساوي ډول ووېشلوپه هغه کې یې دلوی اوواړه دښځې اونردنوکراوبادارټولولپاره برابره برخه ورکړه .ځنوخلکوداعتراض په توګه وویل چې کوم خلک په اسلام کې سابقه لري اوددین لپاره یې ډېرې سرښندنې کړي دي هغوی ته بایدزیاته برخه ورکړشوې وای مګرهغه په ځواب کې وویل تاسودایماني سابقې اودفضیلت یادونه وکړه زه په دې خبره ښه پوهېږم؛لېکن داهغه شی دی چې ثواب اواجربه یې الله تعالی ورکوي راغلودپیسودویش مسئلې ته په دې کې ماته دمساوات اوبرابرۍ پالیسي ښه ښکاري

د عمرفاروق رضی الله عنه هم همدغه تعامل ؤ؛مګروروسته یې بیاخپله پالیسي بدله کړه اوویې ویل هغه چاچې دالله تعالی له پیغمبرسره جګړه کړې ده له هغه چاسره یې څنګه برابرکړم چې دهغه په ملتیایې دکفرسره مقابله کړې.په دې کارسره دمال په ویش کې په اقتصادي لحاظ په ټولنه کې توازن له منځه ولاړ،اته کاله په همدغې تګلاره عمل وشو؛لېکن دخپل خلافت په وروستي کال کې یې خپله پالیسي بېرته تغیرکړه اوپه ویش کې یې مساوات رامنځته کړ.

حضرت عثمان رضی الله عنه دفئ دمال په ویش کې دمساوات په تګلاره عمل ونه کړدکلنی تنخواه څخه پرته یې ځنوافرادوته دهغوی دښې کارکردګۍاوښوخدماتوپه بدله کې په پراخه زړه څه ناڅه زیاتې مرستې ورکولې
ددغې پالیسی په نتیجه کې په اسلامی ټولنه کې دخلکوترمنځ ډېرزیات تفاوت رامنځته شو،ګڼولویواصحابوکراموپردغې پالیسی اعتراض وکړ،له ځنورروایاتومعلومېږي چې حضرت عثمان رضی الله عنه دخپل ژوندپه وروستیوکې پخپلې تګلارې له نوي سره بیاکتنه وکړه ویې ویل که ستاسوخوښه وي زه به پالیسی تغیرکړم اوچاته چې مې دانعام په توګه ورکړه کړې ده هغه به بېرته ورڅخه واخلم.
دحضرت علي رضی الله عنه کړنلاره هم دابوبکرصدیق (رضی الله عنه دپالیسی په څېروه له دې نه وروسته په اموي اوعباسي دورکې اقتصادي طبقات رامنځته شوه دعمربن عبدالعزیزدخلافت پهدورکېدمسلمانانو دمالونودوه برخې دامیرانوپه لاس کې وې هغه ځنې اصلاحات رامنځته کړه بې ځایه ورکړشوي ملکیتونه یې بېرته دولتي وګرځول، داسلام دلارښوونو مطابق یې دژوندمختلفې شعبې منظمې کړې ،چاچې سرکاري ځمکې شخصي ګرځولې وې هغه یې بېرته ورڅخه واخیستلې اودراتلونکي لپاره یې دداسې ځمکوپه خرڅون اواخیستلوبندیزولګولو؛مګردده ترمړینې وروسته حاکمانوبیاداصلاح اوسمون لاره پرېښودله ،داسلامي اصولوڅخه دانحراف بېلابېل شکلونه څرګندشول
په دې کې هېڅ شک نشته چې دقران عظیم الشان اونبوي سنتواودراشدینوخلیفه ګانودکړنلارې په رڼاکې اسلام دهېچاپه کسب اورواعمل بندیزاوسانسورنه لګوي؛لېکن دایې نه ده خوښه چې مال اودولت دې دځنوخاصوخلکوپه لاسونوکې پاتې شي اونورخلک دې ورڅخه محروم کړی شي ددولتي مالونوپه وېش کې تفاوت کمول داسلامي ریاست دپالیسی دلارښوونکواصولوڅخه دی. دایوڅرګندحقیقت دی چې اسلام په ټولنه کې دعیاشود(مزوچړچو) دطبقې درامنځته کېدوسخت مخالف دی

**۱۴-۲-۳- د اقتصادي مسؤلیتونوعملي پلان**

داسلام داقتصادي پالیسی دلارښوونکواصولوپه رڼاکې داوسني وخت داسلامي ریاست مسؤلیت څرګنددی اوهغه داچې اسلامي ریاست بایدپه دې خبره فکرمنداوسي چې دپېریوپېریودغیراسلامي اقتصادي سیستم له امله چې په امت کې کومې ناخوالې رامنځته شوي

په تدريجي توگه يې له منځه يوسي اوداصلاح اوسمون په لورلاندې گامونه واخلي عملي پلان يې دادی

- دهېوادله طبيعي وسايلوڅخه استفاده،دپرمختگ لپاره بشپړتدابيرغوره کول.
- لويې اوکوچنی لارې جوړول دمواصلاتودنظام سمون.
- دکرني پرمختگ .
- دکانونوراويستل.
- دځنگلونوجوړول.
- دنهرونوويستل .
- دبرېښنابندونه جوړول.
- دهېواددپرمختگ لپاره ترهرڅه دمخه دمسلکي متخصصينوروزل.
- صحت اوتعليم ته وده ورکول.
- دعشراوزکات دنظام احياءاوعملي تدابيراوپه ټاکليواتواصنافويې منظم وېش
- دعام ولس داخلاقي اوديني تربيت په وسيله داسې فضابرابرول چې عام وگړي

دبيوزلوحقوق ومنی فرضي زکات خولاڅه کوې په نفلي صدقاتوکې هم منظمه ونډه واخلي.

- دميراث دشرعي قانون احيااوپه مستحقينويې دويش عملي اقدامات ترسره کول اوپرووړاندې يې ټول خنډونه له منځه وړل .
- دسودپه نظام بنديزلگول سوذخوروته سخته سزاورکول .
- په احتکاربنديزگول محتکرينوته سزاورکول په پانگوالواومافيايي کړيوله انحصاره دمارکيټ ازادول.
- غاصبينوته سزاورکول اودغصب مال ظبطول اوسرکاري گرځول.

- دفیوډالي نظام خاتمه دځمکودتحدیداواصلاحاتولپاره قانون جوړول اوپلې کول .
- دشاړوځمکومنظم وېش اوپه منظمه توګه یې دابادی لپاره اقدامات ترسره کول ترڅودهېوادیوه لوېشت ځمکه شاړه پاتې نه شي .
- دحکومت له خوادتعمیري اوترقیاتي اودعامه رفاه دچارولکه پاخه سرکونه، ښارګوټي اوداسې نورولپاره بشپړه اماده ګي اودعملي تطبیق لارې چارې لټول
- ولس ته دحمل اونقل ددولتي اسانتیاووبرابرول .
- تعلیم ته بشپړه وده دعصري اودیني تعلم واټن له منځه وړل .
- دبرېښنادبندونوجوړول اودسیندونومهارول.
- دکانونوراوېستل .
- دملي عایداتومنظم تنظیم اودولسي رفاه په لاره کې یې لګول .
- داخلي صنعت ته وده اوپه خپلومصنوعاتوتکیه کول.
- دبیت المال په سرچینوامانت داره اودیانت لرونکي مامورین مقررول .
- دهېواددچاروپه څارنه ایمان داره بااحساسه وطن دوست وګړي ګومارل.
- دهېوادمنتخبونمایندګانودمجلس لپاره په دیانت اوعلم ترکیزکول .
- داسلامي نظام په لورګامونه دمنتخبووکیلانوپه ناسته کې مطرح کول اودعملي اقدام لپاره یې بشپړملي اوولسی ملاتړترلاسه کول .
- میډیاته بشپړه پاملرنه اوپه لادینه شبکواوچینلونوبندیزلګول .
- دمعاشونوتنظیمول اواوسنی تفاوت له منځه وړل.

داخولوی لوی ټکي ؤددې نه پرته نورمسایل هم دي چې دپوهانوله خوادعملي پروژوپه بڼه بایدوځېړل شي اودعملي تطبیق لپاره یې په ملي سطحه کمپاین اوولسي ضمیرورته اماده کړی شي.

### ۳-۱۴په اسلامي اقتصادکې دمصرف اولګښت عامه تګلاره

دلګښت لپاره اسلام ضوابط اواصول ټاکلی دی ترڅودفرداوټولنې ګټې تحقق پیدا کړي ترټولومهم یې

- په پاکیزه اوروا لاروچاروکې دمال لګول اوپه ناروالاروچارودمال دلګولو څخه

ډېره کول دي لکه شراب، قماراوداسې نور ...

- په لګښت کې داعتدال لاره غوره کول اوداسراف اوبخل دواړو څخه ځان ساتل دي
- دسوداګریزتعامل تنظیمول: اسلام دبازاراومارکیټ نظام تنظیموي اوپه روا لاروچارویې روانوي اودسود، احتکار، تګۍ اوخیا نت بشپړه مخه نیسي .

**لنډیز**

۱- دبیت المال دلګښت اصول دادی: دشرعی اُصولو پابندي ، میانه روي،ټولنیز عدالت ،ساده ژوند، امانت داري .

دبیت المال دلومړۍ برخې ( دزکات ) دلګښت ځایونه : فقیران ، مسکینان ، دزکات دراټولو لو. مامورین مولفه قلو ب ،پوروړي فی سبیل الله اومسافر

ددویمې برخی مصارف : دوسلوال پوځ ،دعدلیه اواجرائیه ځواکونو ، معارف ، عام لګښتونه

داسلامي ریاست دتصرفاتو پولې : دحق پربنسټ شرعي تصرفات ، دعشر اوزکات مصارف په خپلوبرخو کی لګول ، دامتیازي چلند اوزیان رسولوڅخه ځان ساتل.

۲ – داسلامی ریاست اقتصادي مسؤ لیتونه : عام کفا لت ، داقتصاد ي پرمختګ اهتمام دمال په وېش کې دخلکو ترمنځ امتیاز له منځه وړل

۳ – داسلامي حکومت اقتصادي مسؤلیتونه : له طبیعي سرچینو ګټه اخیستل ،لویې لارې جوړول ، دکرنې پرمختګ ، دکانونوراوېستل، دځنګلونوجوړول، دویالوکیندل، دبرېښنا بندونه جوړول دمسلکې متخصصینوروزل ، صحت اوتعلیم ته وده ورکول.

۴ – داسلامي ریاست داقتصادي مسؤلیت عملي پلان : دعشر اوزکات دنظام احیاء، دمیراث احیاء ، په سودبندیز ، غاصبینودغصب مخه نیول، دځمکو اصلاحات ، دشاړوځمکو منظم وېش اودښا رګوټوجوړول ، خلکوته دحمل اونقل ځمکني اوهوایې وسایل برابرول تعلیم وده ، دبرېښنا بندونه جوړول، دکانونو راویستل ،صنعت ته وده، ملي عایدات منظم کول اوامین خلک پرې ګومارل، دهېواد په منتخبونمایندګانو ددیانت اوعلم ترکیزکول ، میډیاته پاملرنه دمعاشونو تنظیمول

پوښتنې ۱ – دبیت المال دلګښت اصول ولیکئ ۲-داسلامي ریاست دتصرفاتو حدودکوم دي.

## پنځلسم څپرکی

## دقران عظیم الشان اقتصادي لارښوونې

**پیلیزه**

قران کریم ددنیا اواخرت دبریالیتوب راز اودژوند ټولو اړخونو ته شامل الهي پیغام دی. پردې اساس دغه الهي کلام دژوند دمهمې ارزښتناکې برخې (اقتصاد) په هکله خپل رباني اوالهي بشپړه پروسه وړاندې کړې موږ په دغه برخه کې دقران عظیم الشان اقتصادي لارښوونوته ګوته ونیسو.

**۱۵-۱- اقتصادي ښوونې**

۱- دټولو شتمنیو حقیقي مالک الله تعالی دی قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمایي ﴿لِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌۢ ﴿١٢٠﴾﴾ المائدة

۲- دانسان حیثیت دخلیفه اوملکیت یې مجازي دی قران عظیم الشا دغه مطلب ته داسې اشاره کوي ﴿ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَأَنفِقُوا۟ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ۖ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَأَنفَقُوا۟ لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿٧﴾﴾ الحد

۳- دملکیت دحق دڅاوی اړین دی مګرکوم انسان چې سفیه اوپه بذر اواسراف لاس پورې کړي په خپل مال کې دتصرف حق نه لري ﴿وَلَا تُؤْتُوا۟ ٱلسُّفَهَآءَ أَمْوَٰلَكُمُ ٱلَّتِى جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمْ قِيَٰمًا وَٱرْزُقُوهُمْ فِيهَا وَٱكْسُوهُمْ وَقُولُوا۟ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٥﴾﴾ النساء

۴- په ځمکه کې درزق دلاسته راوړلو لپاره هڅه اوکوښښ قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمایي ﴿هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ ذَلُولًا فَٱمْشُوا۟ فِى مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا۟ مِن رِّزْقِهِۦ ۖ وَإِلَيْهِ ٱلنُّشُورُ ﴿١٥﴾﴾ الملك

۶- دحلال مال په حصول اولګښت کې دپاکو اوحلالو التزام قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمایي

۷- درزق دناروا وسایلو دلاسته راوړلو حرمت دهغه له جملې څخه سود هم دی ﴿وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلْبَيْعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰا۟ ۚ ﴿٢٧٥﴾﴾ البقرة

۸- قماراودمخدره توکودسوداگری حرمت قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمايي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ رِجۡسٞ مِّنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٩٠ ﴾ المائدة

۹ – په تول اوپیمانه کې د بکموالی بندیزقران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمايي ﴿ وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ ١ ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكۡتَالُواْ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسۡتَوۡفُونَ ٢ وَإِذَا كَالُوهُمۡ أَو وَّزَنُوهُمۡ يُخۡسِرُونَ ٣ ﴾ المطففين

۱۰- دمال دلاسته راوړلو د ناروا وسايلو دجملې څخه غلا ده قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمايي ﴿ وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقۡطَعُوٓاْ أَيۡدِيَهُمَا جَزَآءَۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلٗا مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٣٨ ﴾ المائدة

۱۱- په ظلم اونارواتو ګه دیيتمانو دمالونوپه خوراک بندیز قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمايي

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلۡيَتَٰمَىٰ ظُلۡمًا إِنَّمَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ نَارٗاۖ وَسَيَصۡلَوۡنَ سَعِيرٗا ١٠ ﴾ النساء

۱۱- دخپلې مېرمن مجبور ول اوخلعې کولو ته يې په اماده کولو بنديزقران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمايي. ﴿ وَإِنۡ أَرَدتُّمُ ٱسۡتِبۡدَالَ زَوۡجٖ مَّكَانَ زَوۡجٖ وَءَاتَيۡتُمۡ إِحۡدَىٰهُنَّ قِنطَارٗا فَلَا تَأۡخُذُواْ مِنۡهُ شَيۡـًٔاۚ أَتَأۡخُذُونَهُۥ بُهۡتَٰنٗا وَإِثۡمٗا مُّبِينٗا ٢٠ ﴾ النساء

۱۲ – دشتمنیو دلګبنت ظوابطو په لړکبدبذرڅخه ځان ساتل دي هلته چې فرمايي ﴿ وَءَاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرۡ تَبۡذِيرًا ٢٦ ﴾ الإسراء

۱۳ : داسرافڅخه ځان ساتل هلته چې فرمايي ﴿ وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ

ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾ الاعراف

۱۴- دبخل څخه ځان ساتل اوداعتدال غوره کول هلته چې فرمايي ﴿ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمْ يُسْرِفُواْ وَلَمْ يَقْتُرُواْ وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾ الفرقان

۱۵ – ديتيمانو ازموينه اوورته دخپلو مالونو سپارنه هلته چې ﴿ وَٱبْتَلُواْ ٱلْيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنْ ءَانَسْتُم مِّنْهُمْ رُشْدًا فَٱدْفَعُوٓاْ إِلَيْهِمْ أَمْوَٰلَهُمْ ۖ وَلَا تَأْكُلُوهَآ إِسْرَافًا وَبِدَارًا أَن يَكْبَرُواْ ۚ وَمَن كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۖ وَمَن كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَٰلَهُمْ فَأَشْهِدُواْ عَلَيْهِمْ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبًا ﴿٦﴾ النساء

۱۶ – دپورراوګروي ليکل – قران عظيم الشان دغه مطلب داسې روښانه ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَٱكْتُبُوهُ ۚ ﴿٢٨٢﴾ البقرة

۱۷- دميراث په وسيله دثروتونو اوشتمنيوتيت اوپرک کيدل ترڅو په ځانګړ و لا سونوکې پاتې نه شي اودطبقاتي نظام اوفساد مخه ونيو له شي . ﴿ وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَٰلِىَ مِمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ ۚ وَٱلَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَٰنُكُمْ فَـَٔاتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدًا ﴿٣٣﴾ النساء

الف : دثروت عادلانه وېش قران عظيم الشا ن دغه مطلب داسې بيا نوي ﴿ كَىْ لَا يَكُونَ دُولَةًۢ بَيْنَ ٱلْأَغْنِيَآءِ مِنكُمْ ۚ ﴿٧﴾ الحشر

ب : دمال دجمعه کولو او ساتلو مخنيوی – هتله چې فرمايي ﴿ وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ التوبة

ج : دبخل مخنیو ی ﴿ وَلَا يَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ هُوَ خَيْرًا
لَّهُم ۖ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۖ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا۟ بِهِۦ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۗ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١٨٠﴾ ﴾ العمران

د : دالله تعالی په لارکې انفاق کول قران عظیم الشان فرمایي ﴿ لَن تَنَالُوا۟ ٱلْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا۟ مِمَّا
تُحِبُّونَ ۚ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِن شَىْءٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٩٢﴾ ﴾ العمران

۱۶- دمیراث عادلانه وېش - هلته چې فرمایي ﴿ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ
وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ ٱلْوَٰلِدَانِ وَٱلْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿٧﴾

۱۷- داخلاقي ظوابطو وضعه کول لکه پور ورکړی ته دپور تاخیر قران عظیم الشان فرمایي ﴿ وَإِن
كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ ۚ وَأَن تَصَدَّقُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ
﴿٢٨٠﴾ ﴾ البقره

**لنډیز**

قران عظیم الشان دتولوشتمنیوحقیقي مالک الله تعالی اودبشرحیثیت دخلیفه بولي .دملکیت دحق درناوی اوپه سفهاءوبندیز، پهځمکه کې درزق دلاسته راوړلو لپاره هڅه،
درزقدناروااوسایلوحرمت لکه سود،قماراومخدره توکې ، په تول اوپیمانهکې دکموالي بندیزدمال دلاسته راوړلودناروا لارې چارې، په غلابندیز، دیتیمانودمالونودخوراک بندیز،په خلعه کولو دخپلې مېر من دمجبورولوبندیز . دشتمنیودلګښت په ظوابطوکې په اسراف بندیزدیتیمانوازموینه اوورته دخپل مال سپارنه دپوراوګروی دتړون لیکل دشتمنیو اوثروتونونیت اوپرک کیدلترڅو دطبقاتي نظام مخه ونیول شي .دمال دساتلواوذخیرې مخنیوی ، دبخل مخنیوي، دالله تعالی په لارکې انفاق، دمیراث دعادلانه وېش ، داخلا قی ظوابطوساتنه.

پوښتنې

۱ - دسود ،قماراوشرابودتحریم ایاتونه ولیکئ.

۲ - په تول اوپیمانه کی کمی اودغلادحرمت ایات ولیکئ .

۳ - په قران کریم یې ثابته کړئ چې دتولوشتمنیو مالک الله تعالی د

## شپاړلسم څپرکی
## زموږ داقتصادي ستونزې اوحل لارې

**پیلیزه**

اسلامي نړی له ډیروستونزوڅخه رنځ وړي لکه جهل ،ناپوهي ،ګډوډي ،ډله بازي ،قوم پرستي ،ژب پرستی ، نژادپرستي لوړه ،فقراوګناهونه ،په داسې حال کې چې ښې ښېرازه ځمکې ،اوڅپانده سیندونه ابشارونه ،کانونه ، ځنګلونه ،تیل ،ګیس ، اوسپنه ، قیمتي کانې ،سره ،سپین زر ،یورانیوم بشري ځواک او ښې ځوانی دلته دي په داسې حال کې چې الله تعالی دغه اُمتدملتونو دسردارږهبراولارښودپه توګه انتخاب کړی دنړی په ټولوولسونوکې یې امتیازي مقام ورپه برخه کړی ،دالله تعالی سپیڅلی وروستنی نړی وال پیغام (قران عظیم الشان) ورسره په محفوظه توګه پروت دی.موږ به په دغه برخه کې داسلامی امت اقتصادي ستو نز ې اوله ستونزوڅخه دوتلولارپه ګوته کړو.

### ۱-۱۶-داسلامي امت اقتصادي ستونزې

داسلامي امت اقتصادي ستونزې چې امت پرې اخته ده ځنې مهمیې دادي (۱:۶۰)

- ✓ دغذایي ناتوانی ستونزه
- ✓ دصنعتي بنسټ کمزورتیا
- ✓ استهلاکي وارداتي تکنالوژۍ ته پاملرنه
- ✓ داجنبي تکنالوژۍ واکمنی ته غاړه ایښودل
- ✓ داجنبي دولتونولخوا زموږ دځنواساسي اقتصادي سرچینوویستل
- ✓ دباکفایته په کارپوهوشخصیتونوخارجي هیوادونوته لیږدېدنه
- ✓ دپلان اوانکشافي پروګرامونودنه موجودیت پلانیزه ګډوډي .
- ✓ داقتصادي اوټولنیزوانکشافي مؤسسوغربت
- ✓ داسلامي هېوادونودپوروړتوب زیاتوالی .

حقیقت دادی پهاقتصادي ستونزوکې داسلامي هېوادونو دپرېوتلواساسي سبب داسلام داقتصادي نظام څخه غفلت اوداسلامضدوفاسدونظامونوپانګوالې اوسوسیالیزم دپیروی له کبله دی.

### ۲-۱۶-له ستونزوڅخه دخلاصون لار

✓ **-اسلامي لارښوونوته ورګرځېدل**

له اقتصادي ستونزوڅخه دبشریت دخلاصونیواځینی لاره داده چې دماده پالنې له زولنوڅخه خلاصون ترلاسه اوخپل مادي عقلي اوروحاني ژوندله ټولوچټلیوڅخه پاک کړي تردې چې دالهي وعدې سره سم دولسونودقیادت ستېژته وروخېژي الله پاک دغه مطلب داسې روښانه

کوي ﴿ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ كَمَا ٱسْتَخْلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴿٥٥﴾ ﴾النور ژباړه: الله له تاسې نه دهغوکسانوسره چې ایمان راوړي اوښه عملونه يې کړي وعده کړې ده چې هغوی په ځمکه کې هماغه شان خلیفه ګان وګرځوي لکه چې له هغونه مخکې تېرشوي خلك يې ګرځولي ؤ

### ✓ دبشري مواردوپرمختګ اوتوظیف

داقتصادي ستونزودحل لارېواځې له اقتصادي اړخه ده ځکه چې دستونزې اسلامي حل دژوندټولواړخونوته شاملېږي په دې لړکې دبشري مواردو له روزنې اوله هغوځخه دګټې اخیستنې اوصحیح توظیف ځخه پرته بله چاره نشته دغه کاردفکري اوعقلي پرمختیاغوښتنه کوي خو فکري اوعقلي پرمختګ په اسلامي نړۍ کې دښوونې اوروزنې دنظام دبنسټیزبدلون ځخه پرته امکان نلري ترڅودمسلمانانوپه زړونوکې داختراع اوابتکارځواك په خوځښت راولي ؛البته دغه کاردښوونې اوروزنې دتعلیمي فلسفې داسلامي مفاهیمو په رڼا کې انسجام غواړي
دغه سمون دبېلابېلو اقتصادي فعالیتونو لکه زراعت ، صنعت اوداسې نورولپاره عملي او تطبیقي ښه په برخه کوي له دې ځخه پرته بله چاره نشته چې دشرعي علومو متخصص بشري علوم هورګرځېدل م تدریس کړي ترڅوژوندستونزې وپېژني اودنویوراپېښوستونزوپه حل کې ورسره نوې پوهه موجوده واوسي دعقلي،اسلامي، تحلیلي اوتطبیقي مانۍ دجوړښت دچټك یون په مقصددبشري علوموپرمختګ اواسلامي روح تهورګرځېدل لا زمي شرط ګڼل شوی؛ داځکه چې داقتصاد،اجتماع،اداري اوداسې نورعلوم هغه څه دي چې دبشري هڅونوپه تشکیل کې مرسته کوي داهغه شیان دي چې دبشري مواردوپه انکشاف کې رغنده رول ادا کوي په همدې توګه له دې ځخه پرته بله چاره نشته چې بشري انکشاف دې په صحي او دتغذیې دمستوی اواداري نظم په ښه والي،څارنې او پلان کې هم اوږه پراوږه په مخ لاړ شي .(۵:۷۹)
دتعلیم خپرونه اوداسلامي بنسټونوپراساس يې لارښوونه ،عام ولس ته اخلاقي وده په پاك زړه دمرستې او تعاون له مخې دبشري اړیکوټینګښت اوپه دغه برخه کې رغنده رول لوبولو ته پراختیا ورکول ضروري دي ،په ټینګه يې ویلای شوچې دټولنې په افرادوکې دسرښندنې ،ایثاراوټولنیزواقتصادي اهدافو دلاس ته راوړنې په لړکې دبشري مواردوله روزنې ځخه پرته چاره نشته (۶:۱۰۷)

### ✓ ګټور تولید ته وده ورکول

داسلام سپېڅلي دین دهرهغه شي تولید چې انسان اویاټولنې ته زیان وراړوي ناروابللی دپاکواوضروري شیانوتولید ته يې خلك هڅولي په همدې سره يې دمؤمن مسلمان لپاره

دروا تولید څرګنده لاره ټاکلې ده موږ ته په کار ده چې همدغې تګلارې پورې خپل ځان وتړو په داسې حال کې چې اوس مهال زموږ په ټولنه کې دګټورتولیداو پانګې پوهه له منځه تللې دلته دغربي سرمایه دارانه نظام استهلاکی (مصرفي ) تعامل جریان لري په دې کارکې دخپرونې ټولې فرهنګي وسیلې په کارلوېږي ترڅو اجنبي صنعتي اقتصادسره مرسته وکړي اوزموږمالي اقتصادي مواردوزیږښي دغه مصرفي لېونتوب زموږملي صنعت ته سخته وژونکې ضربه ورکړه ددغې وضع په رڼاکې لا زمه ده چې دامت دلومړنیو ضروریاتودپوره کولوپه خاطریوه تولیدي کړنلاره طرحه شي له دې امله چې :

- ✓ دغـذایي مواردواوبنسټیزوضرورتونودسـامان الا تودتولیـدزیاتوالی اوداسـې نـورچې دمعقولي سیالۍاورقابت له لارې ترسره شي .
- ✓ دملي دفاع لوازموته پوره پاملرنه
- ✓ دپرمختللیو بنسټیزو سامان الا تودتولیدپه ډګرذاتي خودکفایي .
- ✓ دضروریاتودتولیدپه لوردزیاتواقتصادي مـواردورهبري اودلوکسـو شیانوله تولیـد څخه ډډه کول
- ✓ داسې اعلامي(راډیو تلویزون اخبار) سیاسـت غـوره کـول چـې وارداتي اسـتهلاك مخه ونیسي اوخپل ملي تولید ته وده ورکړي.
- ✓ **دژوند دمعیار لوړتیا**

داسلام سپیڅلی دین ددې کوښښ کوي چې اسلامي ټولنه داسوده ژوندښښتنه و اوسیادامت هرفرداسوده ژونـدولري اوچاتـه اړ،ونـه اوسي دغـه خودکفـایي یـواځې خـوراك اوښښاك پـورې منحصره نه وي؛بلکې چې ټولوخلکوته نېکمرغه ژوندپه برخه شي .(۷:۳۸٦)

جواز نلري چې ځنې خلك په لوږه کي ژوند ترسره او ځنې نوربیاپه مزواوچړچو بوخت وي دغه یوڅرګندحقیقت دی چې دیوې ټولنې اسوده، مرفه ،عیاشانه ژوند پرمختګ اوذخیروي پانګې ته کمزورتیا بخښي لا زمه ده چې دټولوخلکودژوندد اوسنی سطحې دلوړتیاپه برخه کې هلې ځلې وشي ؛ترڅواسوده اقتصادي ژوند ته ورسېږو اوداکارله دې لارې کېدای شي چې :

✓ هرڅوك چې دکارکولو توان ولري دکارزمینه دې ورته برابره شي اوپه دغه لړ کې دې پوره بدلون رامنځته اود عصري تکنالوژۍ د لاس ته راوړولوزمینه دې خلکو ته اماده شي .

✓ دداسې فعال ټولنیز نظام ټینګښت چې دامت ټولوافرادوته شاملوي هغه وګړي چې دکارکولووسنه لري دژوندنیوارتیاؤدپوره کولوضمانت ورکړی شي خودغـه کاردزکـات دفریضې له ټینګښت څخه پرته امکان نلري ترڅوددغه نظام په بریالیتوب کې خپل فعال رول ترسره کړي.

✓ دبې وزلودمحدودو اوتنګو عایداتو دښښتنانو اوډلو دمصلحت په خاطر دعایداو

شتمنی دویش اعاده ترڅودشتمنواوبې وزلووګړوترمنځ طبقاتي واټن لږ کړی شي اوپه ګډه سره دپرمختګ په چاروکې ونډه واخلي .

✓ دمالي نغدي اوبهرونيواړيکو داستقرارساتنه ددې په خاطر چې ټولنه له انفلاسيون او اقتصادي ستونزو څخه وساتل شي .حقيقت دادی چې ددې وخت دسترواقتصادي خطرونوڅخه انفلاسيون دی چې دکارګرانواوټيټې طبقې د مامورينواودکوچنيو ملکيتونو د خاوندانودژوندسطحه له نابودی سره مخامخ کوي دغه کارپه دې سره تر سره کېږي چې کله هم نرخونه اوپيسې خپل ارزښت له لاسه ورکړي دولت ته لا زمه ده چې خپل ټول وسايل په کارواچوي ترڅودهېوادد مالي ثبات ساتنه وکړي ؛په همدې ډول دولت وظيفه لري چې په عامه لګښت کې داقتصادي ظروفواوشرايطو لحاظ وساتي داقتصادي رکود(ټپه ودرېدو)په مهال بايدداقتصادي فعاليت په خاطر لګښت زيات کړی شي ؛البته دتجارتي اقتصادي اړيکو په نسبت له دې پرته بله چاره نشته چې صادرات زيات اودوارداتوپه بديل توليدلاس پورې کړی شي .

✓ داسلامي امت داقتصادي امکاناتو سمه په کاراچونه پرته له دې چې ټول ځواک او شتمنی بربادې شي دپرمختګيزه پلانونو تطبيق اوپه راتلونکي دوريعنې دسباني نسل لپاره دزړه په سترګوکارکول هم شامل دي

**۳-۱۶- دعلمي تخنيکي نويو وسايلو استعمال**

اسلامي نړۍ ته لا زمه ده چې دتکنالوژۍ نوي وسايل په کارواچوي ترڅو توليددسيالۍ لوړې پوړۍ ته ورسوي هغه ارزښتناکه عنصر-چې جاپان يې دصنعتي پرمختلليوهېوادونوپه ليکه ودرولی دعلمي فکرپه شان،نه دعلمي مخترع په حيث دنويو علمي وسايلوانتقالول دی هغه چې موږ ته دمسلمان په حيث ضروري دي،داسې نه ده چې موږ دتکنالوژۍثمرات لکه وسايل اوالات انتقال کړوبلکې لا زمه ده چې اسلامي باکفايته په کارپوه خلک ورزوداځکه چې تکنالوژي کوم سامان اوالات نه دي چې خرڅ اوواخيستل شي داځکه چې دتکنالوژۍ دتوليداتو انتقال به لاندې پايلې ولري

✓ اسلامي امت به په ډېره وروسته پاتې وضع کې پاتې شي چې هرې يوې نوې اختراع اونوي سامان پسې به ورځغلي او نوروته به لاس ترزنې ناست وي .

✓ ملي تکنالوژي به له ناکامۍ سره مخامخ اوپای ته به ورسول شي.

✓ داسلامي هيوادونوشتمنی به دپرديو په لمن کې ولوېږي له همدې کبله دازادې،مستقلې اسلامي تکنالوژۍ له جوړښت څخه پرته بله چاره نشته؛البته دغه کار به هغه مهال پوره شي چې داقتصادي هراړخيز انکشاف کارسرته ورسېږي له دې سره سره له نړۍ وال علمي پرمختګ څخه هم ګټه واخيستل شي په همدې توګه دعلمي څېړنو مناسبه ټولنه جوړه اوداسلامي تګلارې متفقه

استراتیژي بایدرامنځته شي چې اسلامي نړۍ په خپلو پښو ودروي دغه کارنه یواځې دتولید په زیات والي کې خپل رول ترسره کوي ؛بلکې لاندې پایلې به هم ولري چې په ټولواقتصادي ،سیاسیاوټولنیزو ډګرونوداستقلال ترلاسه کول په خپل ځان باوراواعتماد چهاسلامي تشخص ته لا پیاوړتیاپه برخه کوي دنوي تولیدي هیکل جوړښت چې داسلامي تولید له فلسفې سره برابر وي که چېرې نوې علمي څېړنې اقتصادي پرمختګ او ټولنیزو رزښتونوته ټینګښت ونه بخښینوداقتصادي پرمختګ په وړاندې به سترخنډ رامنځته شي،داخه نااشنا خبره نه ده چې دڅاګانودوېستلو په سامان دې په هغو ښارونوکې بندیزولګول شي چې دکارګرانودوزګارتیاله ستونزې څخه رنځ وړي له همدې کبله لا زمه ده نوي وسایل چې دتولید په لړ کې مرسته کوي ترلاسه شي داسې نه چې دامت اقتصادي ستونزې نورې لا زیاتې او ورسترکړاؤنه پرې وتپل شي.

**۴-۱۶-دبیروني تابعیت پای ته رسول اوداسلامي نړۍ ترمنځ تکامل**

څرنګه چې زیاتره اسلامي هېوادونه داستعمارښکارشوي،اوس مهال په اقتصادي او ټولنیزډګراروپایي انسان قدوه اونمونه ګڼلای شي دبېروني تابعیت بېلابېل ګڼ اشکال دي چې څنې یې په لاندې توګه دي

- ✓ سیاسي تابعیت : دا چې په اسلامي هیواداستعمارپوره برلاسی توب اوحاکمیت ولري
- ✓ اقتصادي تابعیت:په دې توګه چې دیوه اسلامي هېوادپه شتمنیوبل څوك واکمن وي

۳:داقتصادي تګلارې تابعیت:په دې ډول چې یوهیوادپه پانګوالې اویاسوسیالیستي تګلارې خپل اقتصادپه پښو ودروي دغه کارموږ ته دیومسلمان قام په حیث مناسب اووړنه برېښي چې موږ دپردیوقامونوتابع واوسو ،حقیقت دادی چې اسلامي هېوادونه له صنعتي انقلابه وروسته په عسکري ډول ونیول شوه له صلیبي جګړوراپدېخوازیاتره اسلامي هیوادونه دکفارولـه خواتسخیر شوي،تراوسه پورې دډېرودولتونو په وړاندې سیاسي اواقتصادي تابعیت دوام لري ؛البته په فکري لحاظ ډېردولتونه غلامان دي، په لویدیز تهذیب ویاړي اوپه هر ـځه یی دخوښۍ څرګندونه کوي داسلام سپېڅلی دین دکفرتابعیت په کلکه ردوي فکري او سیاسي تابعیت ددې لامل وګرځېد چې ډېرې سودي (ربوي ) مؤسسې اسلامي امت ته راننوتلې اواسلامي هیوادونه یی باندنیو بازارونو پورې وتړل ،اسلامي امت ته لازم دي چې دتابعیت څخه دخلاصون په خاطریوه استراتیژي جوړه کړي اوداسلامي هیوادونوخپل منځي تکامل ته پیاوړتیاوبخښي چې څینې چارې یې دادي :

- ✓ دتولید بدلون او تولید ته وده ورکول دغه کارددې لامل ګرځي چې زموږ خام مواد به نړۍ والو بازارونو ته نه صادرېږي
- ✓ دواردداتو په بدل کې داسلامي استثماري شرکتونو هڅونه ددې کار له امله به دهېواد

کاریگره قوه په خوځښت راشي وزګاتیابه پای ته ورسېږي .

- ✓ دبانکونوداسلامي اوشرعي حیثیت ټینګښت دغه کارداسلامي مؤسساتو دپانګې اچونې لامل ګرځي دسارې په توګه بانکونه اوداسلامي بیمې شرکتونه
- ✓ داسلامي سوداګریز سیاست په پښودرول چې داسلام دمالي نظام څخه سرچینه اخلي له دې جملې څخه دټکس نظام اوداسلامي ګډ بازارجوړول .(٦:٢٧٥)
- ✓ دالله جلت عظمته په کتاب ټینګې منګولې ښخول داسلامي امت ترمنځ دسیاسي وحدت اویووالي په لارکې عملي ګامونه پورته کول

دامهال اسلامي هیوادونه دصنعتي هیوادونو ٢٠٠ میلیارده ډالره پور وړي دي په ١٩٨٤م کال یې دسود اجمالي شرحه ٩،١ میلیارده ډالره وه دغه وضعه په حقیقت کې دبهرونیو هېوادونو داقتصادي تابعیت محصول ده دامهال اسلامي امت دخارجي تابعیت څخه دخلاصون په لړکې ډېره لېرې پرته اوپه خواره خوب ویده ده.

**لنډیز**

داسلامي نړۍ ستونزې: دغذایې ناتوانی ستونزه ، دصنعتي بنسټ کمزورتیا، استهلاکي وارداتي تکنالوژۍ ته پاملرنه ، داجنبي تکنالوژۍ واکمنی ته غاړه ایښودل داجنبي دولتونوله خوازموږ داساسي مواردووېستل ، دپوهانوتېښته ،پلاټېزه ګډوډي داقتصادي اوټولنیزوانکشافي مؤسسوغربت ،دهېوادپوروړتوب

له ستونزوڅخه دخلاصون لار : ١-اسلامي لارښوونوته ورګرځېدل ٢: دبشري موادوپرمختګ اوتوظیف ٣- ګټورتولیدته وده په دې توګه چې ١:دغذایې موادوتولید ٢:له امت څخه ددفاع دوسایلولوازموته پاملرنه ٣:ذاتي خودکفایې اودبنیادي سامان الاتوتولید ۴:اعلامي سیاست اودوارداتي استهلاک مخه نیول

دژونددمعیارلوړتیاپه دې توګه چې: هرچاته دکارزمینه مساعدول، دزکات دفریضې احیاء ،دطبقاتي نظام له منځه وړل ،دمالي بېرونیواړیکوثبات اودانفلاسیون مخنیوی

دأمت داقتصادي امکاناتوسمه په کاراچونه:چې لاندې نتیجې به ولري ،هرنوي سامان پسې به څغلي اونوروته به لاس ترزنې ناست وي ،ملي تکنالوژي به له ماتې سره مخامخ شي دهېواد شتمنی به دنورومل‌تونوپه لمن کې پرېوځي

دبهروني تابعیت پای ته رسول :سیاسي ،اقتصادي ،اوداسلامي هېوادونوتکامل اووحدت ته پیاوړتیاپه برخه کول